# ادب او تنقید

فیض الوهاب فیض

د ادبي دوستانو مرکه مردان





ټول حقونه د شناس او شاندار دي


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ادب او تنقید |
| لیکونکے: | فیض الوهاب فیض |
| ترتیب: | ډاکټر محمد زبیر حسرت، ډاکټر عبدالروف عارف |
| کمپوزنګ او سرپاڼه: | سلیمان کامل |
| اهتمام: | مهراندېش او نورالرحمان سحر |
| چاپ: | (اول) 2012ء |
| رابطه: | 03145307952 |
| بیعه: | دوه نیم سوه روپۍ (250) |
| مرسته: | محکمه ثقافت خیبر پښتونخوا |
| خورونکي: | د ادبي دوستانو مرکه مردان |




www.pukhto.net

# ترون

د
ادبي
دوستانو
مرکه
مردان
په
نوم





# سوغات

دښاغلیو
دوست محمد خان کامل مومند
قلندر مومند
شېرعلی باچا
او سعید ګوهر
سپېځلیو
روحونو ته



www.pukhto.net

# سینګار


| | |
|---|---|
| 1-تنقید | 11 |
| 2-نقاد | 18 |
| 3-مجلسي تنقید | 26 |
| 4-پښتو تنقید کښې نوي رجحانات | 34 |
| 5-پښتو شاعري او عصري تقاضې | 44 |
| 6-د ادیب ذمه واری | 56 |
| 7-جدید پښتو نظم | 69 |
| 8-د پښتو غزل روایت | 79 |
| 9-پښتو شاعری کښې نعت | 89 |
| 10-پښتو کښې منقبت | 99 |
| 11-پښتو شاعری کښې علامت نګاري | 115 |
| 12-خاکه نګاري | 130 |
| 13-قلندر مومند د ناقد په حېث | 136 |
| 14-د سلیم راز تنقیدي کرښې | 151 |
| 15-د چاربېتې بابا | 158 |
| 16-جوشي علی حېدر | 165 |
| 17-د میا حمدالله دیوان | 175 |







| | |
|---|---|
| 18-د سعید ګوهر په شاعری یو ځغلنده نظر | 182 |
| 19-د لفظونو جادوګر | 191 |
| 20-ژوندي لفظونه | 200 |
| 21-د پښتو غزل روایت او د حسرت .... | 209 |
| 22- د همدرد شاعري د سندونو ..... | 223 |
| 23-د رشید جوهر غزل | 239 |
| 24-محور | 246 |
| 25-ارتکاز | 252 |
| 26-لوے کار | 259 |
| 27-د قدرنو په لار | 267 |
| 28-د غزل تجزیه | 272 |
| 29-د نظم احتجاج تجزیه | 281 |
| 30-د نظم پتنګان تجزیه | 291 |
| 31-د نظم اضطراب تجزیه | 297 |
| 32-د نظم فاصلې تجزیه | 303 |
| 33-د نظم کۀ ماته پته وے تجزیه | 309 |
| 34-د افسانې الودګي تجزیه | 313 |
| 35-د یو شعر تجزیه | 318 |




www.pukhto.net

# ادب او تنقید

د معیاري او معنی خېز تنقید د پاره د خپل قامي او ادبي تاریخ، روایت او پس منظر ډېر اهمیت لري ځکه چې بې له دغې یو معیار تنقید تجزیه، تبصره سپوره، بې خونده او بې نمکه وي. د تنقید د پاره د خپلې ژبې او ادب تاریخي شعور او د جمله ادبي اصنافو، اصولو، قواعدو ضوابطو مکمل ادراك او اګاهي ضروري وي او په دغه پیمانه ښاغلے فیض الوهاب فیض د یو ښهٔ شاعر، ادیب او نقاد په حېث خپل ځان او خپل انفرادیت په خلقو پېژندلے او منلے دے. "ادب او تنقید" د ښاغلي فیض د علمي نثر چې مقالې، تبصرې او تجزیې پکښې شاملې دي یو داسې زیار دے چې د لیکونکیو خصوصاً د نوو نقادانو د پاره د لار ښودنې کتاب دے. په دې کتاب کښې ښاغلے فیض د یو داسې ادیب او نقاد په شکل کښې زمونږ مخې ته راځي چې د خپلې هرې موضوع سره ئې د خپل زړهٔ او مزغو ډېر ښهٔ توازن په ځائے ساتلے دے. کتاب کښې تر ټولو موهمه خبره او خاصیت د ښاغلي فیض اندازِ بیان دے ، څهٔ ته چې سنجیده، علمي، مقصدي او تاریخي نثر وئیلے کېږېږي. دا کتاب په هغه کنده پوره خېژي.

روښان یوسفزي





"ادب او تنقید" د پښتو ادب په مختلفو موضوعاتو د لیکلو شویو تنقیدي مضمونونو، تبصرو او تجزیو مجموعه ده چې د ادبي پوهې، شعور، ادراك او دلیل په اساس یوه د قدر وړ هڅه ده. ښاغلي فیض نهٔ خو د دې مجموعې د ضخامت سېوا کولو د پاره د حوالو په طور لوے لوے اقتباسونه رانقل کړي او نهٔ ئې د خپلو هم عصرو د بې ځایه نیوکو په ذریعه د خپل اهمیت زیاتولو یا خامخا د خپل علمیت د نمود او نمائش کوشش کړے دے بلکې هره خبره ئې په دلیل او مبرهن کړې ده. د دې لیکونو د لوستو نه پس دا خبره ذهن ته راځي چې ښاغلے فیض نهٔ صرف د عصري ادب نه پوره واقف دے بلکې د خپل کلاسېك هم ژوره مطالعه او پوهه لري او بیا د خپلې مدعا بیانولو د پاره په ژبه هم عبور لري. دا لیکونه د بلاغت ټولې تقاضې پوره کوي او په اختصار خو جامعیت سره نېغ په نېغه زړهٔ ته د کوزېدو صلاحیت لري. دا کتاب په سنجیده انداز کښې د علمي نثر ښه نمونه ده او زهٔ ورته هرکلے وایم.

عبدالروف عارف

11م اکتوبر 2012ء



www.pukhto.net

# مينه او مننه

دا مضمونونه ، تبصرې او تجزيې وخت په وخت څهٔ د پښتو مجلو د محترمو مديرانو او څهٔ د پېښور رېډيو د ښاغليو پروډيوسرانو په غوښتنه ليکلي شوي دي ځکه نو له ټولواول د هغوي مننه کوم۔دا ليکونه په يوه اوږده موده محيط دي کهٔ څهٔ هم د ټولو موضوع تنقيد دے خو بيا هم دا يو مربوط تصنيف نهٔ دے ۔ د ادبي تنقيد په حواله خوارهٔ وارهٔ ليکونه دي ۔ تنقيد زما د خوښې موضوع ده ، زړهٔ مې غواړي چې پښتو کښې مې په دې حقله يو مربوط تصنيف وکړے خو دغه دروند کار چې ځومره داخلي نظم او ضبط او خارجي سکون غواړي هغه زما په ژوند کښې نشته ځکه نو في الحال دا خوارهٔ وارهٔ ليکونه د يو موتيے سپېنسيو په طور وړاندې کوم۔

د دې ليکونو په کتابي شکل کښې د چاپ کېدو سهره د ادبي دوستانو مرکه مردان د موجوده چېرمېن ښاغلي مهراندېش په سره ده او ورسره د خيبر پښتونخوا د محکمه ثقافت مالي مرسته شامله ده نو دغه دواړه زما د خصوصي مننې وړ دي۔دې سره د ورور سليمان کامل هم ډېره مننه چې د دې مسودې ترتيب، کمپوزنگ او سرځنه





ئې په ډېر لږ وخت کښې وکړل ـ د ملګريو عبدالروف عارف او ډاکټر محمد زبېر حسرت ذکر په دې جواز کوم چې د دوي ملګرتيا زهٔ تر دې حده په ذهني توګه منظم او پرسکون ساتلے يم چې کله کله څهٔ نه څهٔ ليك وکړے شم نو د هغوي په ذکر کولو هم زهٔ ډاډ مومم ،د دې کتاب ترتيب او انتخاب څهره هم د دوي په سر ده۔له دوي پرته د ملګريو روښان يوسفزي،دلباز ثاني،بشير زار، عبدالسبحان سبحان، ساحل يوسفزي، اکبر هوتي ايډوکېټ، نورالرحمان سحر،افتاب بدر،عبدالوحيد ګران،ظفرعلي ظفر، سليم ناشاد ، فطرت يوسفزي،توقير ابشار،سجاد ژوندون،عاصم افتاب،زبېرخان،شهاب شاد ،لعل بادشاه خيالي او د مرکې نور ټول ملګري په يو کچ زما د مننې مستحق دي چې هم د هغوي سره په بحثونو کښې زما د تنقيدي شعور روزنه شوې ده او کېږي۔

مينه او مننه

فيض الوهاب فيض

8م اکتوبر 2012ء



www.pukhto.net

# تنقید

ما دې مضمون له عنوان تنقید اېښې دے خو د دې دا مطلب نۀ دے چې زۀ دې خبره خامخا له دې ځایه شروع کړم چې د تنقید څۀ معنیٰ ده ؟ دا د کومې ژبې نه راغلې دے؟ مقصد او منصب ئې څۀ دے؟ اصول او مبادیات ئې څۀ دي او آیا تنقید غایت دے کۀ ذریعه؟ زۀ خپله موضوع ازاده ساتل غواړم کۀ له پورتنو سوالونو ځنې څۀ د بحث د لاندې راشي نو هغه به په عمومي ډول وي۔

کۀ څۀ هم تنقید د ژوند د هرې څانګې او هر مېدان سره تعلق لري او هر علم او فن خپل تنقید لري خو څومره تعلق چې ئې ادب سره دے دومره ئې بلې څانګې یا بل مېدان سره نشته بلکې ادب د ژوند یواځنے داسې مېدان دے چې د دې په حقله د کېدونکې تنقید دائره ډېره فراخه ده او د کلهمو علمونو ځنې پکښې اخذ او اکتساب کولے شي ،هر کله چې ادب د ژوند تنقید ګڼلے شي نو بیا خو دا پخپله ادب دے او دغه شان ادب او تنقید د یو بل مترادف یا متبادل ګڼل پکار دي۔

هر کله چې ادب د ژوند تنقید وګڼلے شۀ او د ادب مقصد او غایت دا دے چې د ژوند ترجماني دې په ښکلې او حسینه پېرایه کښې وشي، د ژوند ښۀ اړخونه دې په داسې طریقه څرګند کړے شي چې نور هم ښائسته او





ښکلي ښکاره شي او د ژوند له ګلستانه دې ازغي په داسې هنر لرې کړے شي چې ګوتې ورسره زخمي نۀ شي ځکه چې د ادب او ورسره د تنقید هم کۀ نور هر څۀ مقصدونه دي خو د جمال تخلیق او د ذوقِ جمال تسکین او ترتزکیه پکښې شریك قدر دے۔اخر دا څۀ وجه ده چې پښتو کښې د تنقید د نوم اورېدو سره زمونږ په تصور کښې ازغي چوکه شي بلکې دغه ازغي خو زمونږ په ذهنونو کښې دومره ژور ښخ دي چې مونږ ته د تنقید په مخ کښې د ذم نه سېوا نور څۀ هډو ښکاري نه ، کۀ یو نقاد ولګي د چا شاعر یا ادیب په تخلیقاتو کښې عېبونه ولټوي او رابرڅېره ئې کړي نو مونږ وایو یره ډېر سخت تنقید ئې پرې کړے دے خو کۀ څوك ولګي او صرف د چا خوبۍ او محاسن ښکاره کړي نو بیا مونږ دا نۀ وایو چې ډېر ښۀ تنقید ئې پرې کړے دے ، کۀ څۀ هم په تنقید کښې د خوبیو او خامیو دواړو څرګندولو معنیٰ پټه ده خو باید چې په تنقید کښ توازن وي چې سپك درانۀ او درانۀ سپك نۀ کړے شي۔پښتو تنقید کښې نور خو هر څۀ وي کۀ نۀ وي نو صرف توازن پکښې نۀ وي۔زمونږ نقاد چې کله تنقیدي عمل ته تیار شي نو بیا په دواړو سترګو د فن پارې صرف یو اړخ ویني او بل ترې پټ وي دا د هر چا خپل قسمت دے چې ښاغلي نقاد ته د هغۀ د تخلیقاتو



www.pukhto.net

کوم اړخ ښکاري. دا خبره کهٔ څهٔ هم ډېره ترخه او جارحانه غونډې ده خو پښتو کښې د تنقید صورتِ حال کهٔ په نظر کښې وساتلے شي نو دغه تراخهٔ شاید کم وښکاري. نقاد د ادب جوهري وي ، هغه د فن پارې د قدر او قیمت اندازه لګوي او کره کوټه ئې معلوموي. باید چې د قیمت په ټاکنه کښې په کمي زیاتي خپل ایمان ته زیان ونهٔ رسوي.

د ادب یو مقصد د لوستونکیو د تفریح او دلچسپۍ سامان پېدا کول هم دي کهٔ څهٔ هم ځنې خلق د ادب دې مقصد ته زیات اهمیت نهٔ ورکوي او د خالصې حقیقت پسندۍ په حق کښې دي یعني ځیزونه چې څنګه دي هم هغه شان ئې پېش کول پکار دي. پکار ده چې ادیب دې حقیقت پسند وي او د حقائقو اظهار دې کوي خو هر کله چې ادب په اشیاو کښې ، حالاتو او واقعاتو کښې بې له تصرفه په وجود کښې راتلے نهٔ شي ځکه چې د تصرف نه بغېر د موجوداتو په حقله د خیالاتو اظهار نقل دے او دا منلې شوې ده چې ادب خالص نقل نهٔ دے ، د ځنو واقعاتو هوبهو پېش کولو سره په جذباتو کښې هیجان پېدا کېږي خو ادیب صرف جذباتي هېجان نهٔ پېدا کوي بلکې د واقعاتو په بیان کښې د فني تصرف په ذریعه د رالړزوېدونکو جذباتو تطهیر(KATHARSIS) هم کوي.





دغه شان لوستونکي د جذباتي اشتعال په ځاے په مثبت سوچ مجبوروي ، هم دغه مثبت سوچ دے چې د کردار په جوړولو کښې مدد کوي.

هر کله چې ادب خالص نقل نهٔ دے او په ویوه متعینه دائره کښې د اظهار پابند نهٔ دے نو دغه شان د تنقید هم صرف د وړاندې نه ټاکلي شوي اصول کافي شافي نهٔ وي. د دې خبرې نه زما مطلب دا نهٔ دے چې ګني زهٔ د تنقید د پاره د اصولو له تعینه انکار کوم خو د ادبي تنقید څومره اصول چې تر اوسه جوړ شوي دي هغه د خپل دور د لویو فن پارو له خېټې را رېستلي شوي دي او لوے تخلیق هغه دے چې د عصري صداقت مهر پرې لګېدلے وي او د هغه تخلیقاتو په بنیاد جوړ شوي اصول بیا د راتلونکیو د پاره معیارونه وي لکه ارسطو چې په خپل کتاب POETICS کښې د المیې د پاره کوم اصول وضع کړي دي نو د خپل عصر یا د وړاندینۍ زمانې د یوناني ډرامایي شاعرۍ نمونې ئې مخې ته ایښې دي او د دغه اصولو په جوړولو کښې کامیاب شوے دے او بیا راتلونکیو هم د دغه معیارونو په اساس خپل تنقیدي عمل مخ په وړاندې بوتلے شوے دے او د وروستیو عصرونو د فن پارو مینځ ته راتلو سره د ارسطو وضع کړي اصول ناکافي شوي دي خو بیا هم طریقه دغه پاتې



www.pukhto.net

شوې ده چې نقادانو کوم اصول وضع کړي دي د هغې په پابندۍ ئې زور راوړے دے ، کهٔ څهٔ هم سائنسي تنقیدي دبستانونه د دغه اصول پرستۍ او کلیه سازۍ سخت خلاف دي ، د هغوي په خیال د فن پارې د کتنې او ځیرنې په وخت نقاد له د سائنس دان په شان بېخي غېر جانبداره اوسېدل پکار دي او هغهٔ ته دا حق حاصل دے چې د وړاندې نه د ټاکلي شوي معیار په اساس یا هسې د دوو بیلو بیلو فن پارو موازنه او بیا محاکمه وکړي.دوي د ادب پارې د انفرادي لساني خصوصیاتو او تشکیلي عناصرو په مطالعه زور راوړي.د دغه سائنسي تنقیدي نظریو ډېرې فائدې هم دي خو هرکله چې د ادب زیات تعلق د جذباتو او احساساتو سره دے.شاعر او ادیب د ژوند عکاسي په داسې طریقه کوي چې د لوستونکي جذبات او احساسات متاثره کړي خو د دغه تاثر دائره د لوستونکي د بېخي ذاتي، داخلي او نفسیاتي دنیا پورې محدووده ساتل نهٔ غواړي.بلکې د تاریخي او اجتماعي شعور پورې دې خوره وي او د روایت په وړاندې بوتلونکے دې وي.د ادب د تاثر په حواله د سائنس د دوه او دوه څلور غوندې پرې کړي انداز کښې خبره نهٔ شي کېدے ځکه چې سائنس یو معلوماتي ، افاقي او تجرباتي علم دے او د دې په مقابله کښې ادب یو ذوقي،





تاثراتي او تخلیقي څیز دے ، په ادب کښې چې کوم لفظونه استعمالېږي هغه د لغوي او وضعي معنیو نه پرته په مجازي او علامتي مفهومونو کښې استعمالېږي او دغه مجاز، اسعتاره او علامت د سائنسي اصولو په گرفت کښې راوستل ممکن نهٔ دي.

د سائنس د بې شانه ترقۍ، د ژوند په هر مېدان کښې د دې د ژورو اثراتو په سبب تنقید کښې هم د سائنسي رویو مینځ ته راتلل ناگزیر دي خو تر کومې چې سائنس د ذوق له تجزیې عاجزه دے تر هغې به د تنقید د سائسني طریقو استمال ناکافي وي ځکه چې تر ننه هم دغه زوق دے چې د فن پارې د جمالیاتي قدر تعین کوي.د ادب او تنقید په خپلو کښې تړون لکه د نوك او اورۍ دے او د فعالیت دائره ئې یوه ده نو هر کله چې ادب یو تخلیقي عمل دے نو تنقید هم له تخلیقي جوهره خالي نهٔ شي کېدے.د ادب او تنقید د دغه شریك قدر څرگندونه ډاکټر جمیل جالبي په خپل کتاب "نئی تنقید" کښې داسې کوي " په هر دور کښې ادیب او شاعر خپل تخلیقي عمل په تنقیدي جوهر ښائسته کړے دے او هر نقاد خپل تنقیدي عمل په تخلیقي جوهر ښکلے کړے دے ځنگه چې اوچت تخلیق د تنقیدي شعور نه بغېر په وجود کښې نهٔ شي راتلے.دغه شان تنقد هم بې له تخلیقي



www.pukhto.net

جوهره په وجود کښې نهٔ شي راتلے، تنقید خپل د قدرونو، معیار، د فکر او نظر پېمانو او د احساس او شعور بنیادونو ته یو منطقي تریتب سره وجود ورکوي ". وړاندې لیکي" د تنقیدي شعور نه بغېر په تخلیقي سطح د ادبي روایت او ادبي فکر اعاده او په زړه شخوند وهلے کېدے شي خو د ادبي روایت د فکر او اظهار په سطح د وړاندې بوتلو عمل نهٔ شي کېدے".

د ژوند په حقله د شاعر او ادیب رویه جذباتي وي او د ادب په حقله د نقاد رویه فکري وي او تر څو چې د جذباتو نیلے د فکر په قبېزو کښې قابو نهٔ کړے شي ادبي عمل تکمیل ته نهٔ شي رسېدے.

***





# نقاد

نقاد د ادب او شاعرۍ لوستونکے وي خو د لوستې په بنیاد مونږ نقادان په دوو ډلو کښې وېشلے شو، یو نقاد هغه وي چې د ادب مطالعه کوي ، د مطالعې دوران کښې یا پسته د خوشحالۍ یا خفګان احساس ورته وشي خو د خپلې خوشحالۍ ، خفګان یا بل څهٔ تاثراتو اظهار نهٔ کولے شي او نهٔ ئې د کولو ذمه واري لري خو بیا هم د خپل ذوق ، ذهني ساخت او جذباتي کېفیت او تړون له وجې یو خاص قسمه لیك له ترجیح ورکوي او په مینه او شوق ئې لولي او دغه شان په غېر محسوسه طریقه د خپل تنقیدي ذوق او شعور اظهار کوي.

دوېم قسم نقاد هغه وي چې د شعر او ادب د مطالعې نه پس د اخذ شوو تاثراتو اظهار کوي . خپله رایې څرګندوي ، تجزیه کوي ، تشریح کوي او ځنې وخت فېصله هم واوروي، چونکې دغه دوېم قسم نقاد یوه خاصه وظیفه او ذمه واري لري ځکه د هغهٔ حېثیت د وړومبي قسم نقاد نه په فرق او اوچت وي.

د تنقید لغوي معنیٰ کهٔ څهٔ هم کره کتنه او تول پارسنګ معلومول دي خو کله نه چې دا یوه ادبي اصطلاح ګرځېدلې ده نو مفهوم ئې ډېر زیات وسیع ګڼل پکار دي،



www.pukhto.net

کهٔ څهٔ هم د تنقید مفهوم او دائره وسیع شوې هم ده او ډېر څهٔ پرې وئیلي شوي او لیکلي شوي هم دي خو بیا هم د ډېر څهٔ وئیلو، لیکلو او پکښې د رنګارنګۍ پیدا کېدو ګنجائش شته ځکه چې:

یہ کائنات ابھی ناتمام ہے شاید
کہ آ رہی ہے دمادم صدائے کن فیکون
(اقبال)

دغه وجه ده چې د افلاطون او ارسطو نه راواخله تر صاحب شاه صابره لکه د ادب او شاعرۍ تنقید هم په ځائے ولاړ نهٔ دے پاتې شوے، کهٔ نن یوه خبره د کوټلي اصول او سند حیثیت لري نو سبا له ترې انحراف لازمي شي ځکه چې د تنقید اصول د ادب نه اخذ کولے شي یا د ژوند نه او بیا اطلاق ئې هم په ادب کولے شي یا د ادب په ذریعه په ژوند. د ادب او شاعرۍ په حقله دغه تنقیدي بحثونه ډېر دلچسپ اړخونه او مواد لري.
نقاد کهٔ یو خوا د ادب تشریح کوي یائې تحلیل او تجزیه کوي نو بل خوا ترې د څهٔ غوښتنې کولو حق هم لري، د نقاد مخې ته دا برید کښېښودل چې هغه به د خپل نقطهٔ نظر په ځائے د شاعر یا ادیب د نقطهٔ نظر وضاحت کوي، زما په خیال دا د نقاد سره زیاتے دے. د هغهٔ حیثیت او اهمیت کمول او محدودول دي. نقاد د ادب د کلهمو





لوستونکیو نمائنده وي. د ادب لوستونکي کهٔ خاص وي او کهٔ عام هغوي ادیب د یو خاص مقصد د لاندې ګوري او د خپل دغه مقصد د حصول د پاره هغه د شاعر یا ادیب نه د مطالبو او غوښتلو حق هم لري ځکه چې شاعر او ادیب د قوم د زړونو ترجمان او د مرضونو مسیحا وي او د ادب معاشرتي نقاضا هم دغه ده چې هغه د وخت تقاضې پوره کړي.
زما په خیال مقبول او خوښ شاعر هغه کېدے شي څوك چې د خپلو لوستونکیو د زیاتو نه زیاتې مطالبې او غوښتنې پوره کوي. د مسائلو ذکر ئې کوي، کهٔ څهٔ هم ځینې ادبیان، شاعران او نقادان هم د دې خبرې په حق کښې نهٔ دي چې ادب او شاعري دې د خپلې زمانې کلهمې تقاضې پوره کړي یعني هغوي د زمان په ضد د لازمان او مکان په ضد د لامکان سندرې وایي. په دې لړ کښې د ځینو تخلیق کارانو مثال ورکولے شي چې د هغوي قدر په خپله زمانه کښې ځکه نهٔ دے شوے چې د هغوي فکر او تخیل د خپلې زمانې د ذهني سطحې نه اوچت وهٔ او د هغوي سوچ د مروجه لارې نه په څنګ وهٔ خو سوال دا پیدا کېږي چې اوس په هغوي د پوهېدو د پاره کوم قسم تناظر پکارولے شي. آیا د غالب پوهنې د پاره د هغهٔ د خپلې زمانې د سماجي، سیاسي، اخلاقي او



www.pukhto.net

تهذيبي حالاتو مطالعه او خبرتيا ضروري نهٔ ده؟ دغه شان کهٔ څهٔ هم مونږ خوشحال بابا د هرې زمانې شاعر ګڼو خو بيا هم په صحيح توګه د هغهٔ د پېژندو د پاره د هغهٔ د زمانې د حالاتو نه خبرېدل ضروري او لازمي دي په دغه اړه کوم شاعر چې د خپل عصر ترجماني کړې ده هغه د هر عصر ترجمان پاتې شوے دے. د خپل ادب د مطالعې د پاره تاريخي شعور پکار دے ، د هرې زمانې د حالاتو واقعاتو په يو تسلسل کښې مطالعه او پېژندنه تاريخي شعور دے او هم د دغه تاريخي شعور په مرسته مونږ د خپل روايت نه خبرېدے شو ځکه چې روايت کهٔ څهٔ هم د انساني ژوند د پرون داستان بيانوي خو په نن او سبا ئې هم ګور سېورے وي ، سره د ډېر کوششه هم مونږ د روايت له اغېزې ځان نهٔ شو بچ کولے. ښهٔ روايت هغه وي چې په ځان کښې د تجربې، اضافې ، تغير او تبدل او جدت پېدا کولو صلاحيت ولري. دغه وجه ده چې کهٔ مونږ يو طرف ته د روايت دېوال ته پشتي ورکوو نو نوې ردې پرې هم ږدو. د خپل معروضي چاپېريال په بنا کهٔ د روايت نه بغاوت وکړے شي په اصل کښې دا بغاوت نهٔ دے بلکې د خپل روايت په زنځير کښې نوې کړۍ پېوند کول دي. د روايت زمينه کهٔ نوي تخم ته تياره او برابره نهٔ وي نو د نوي فصل ټوکېدل محال وي ، کهٔ چرې د روايت





زمينه د نوي تخم زرغونولو قابله وي نو په نتيجه کښې به ئې فصل زيات ښېرازه او بارداره وي هم د دغه روايت په بنياد کهٔ مونږ يو طرف ته رحمان بابا د نن شاعر ګڼو نو بل پله حمزه بابا هم د رحمان د زمانې شاعر ګڼلے شو او دغه دواړه تر ابده زمونږ د زړونو ترجماني هم کولے شي. دا هله ممکنه کېدے شي چې د شاعر په نظر کښې ماضي حال او مستقبل د يوې نقطې حيثيت ولري او دغه نقطه چې MAGNIFIED شي نو د زمکې د کرې شکل واخلي او هم په دې طريقه د زمان د لازمان او مکان نه د لامکان په لوري تګ ممکن کېدے شي او شاعر افاقيت او ابديت موندے شي.

د روس د بالشويك انقلاب باني لېنن چې کوم شاعران او اديبان د خپل مرام د پاره د رڼا منارې ګڼلې په هغو کښې د ټالسټايې (1910-1837) نوم هغهٔ ډېر په وياړ او درناوي اخستهٔ او د انقلاب ترجمان ئې ګڼلو حالانکې ټالسټايې نهٔ په نظرياتي توګه او نهٔ په عملي توګه د انقلابيانو ملګرے وهٔ بلکې د بالشويك انقلاب مفهوم خو د هغهٔ ذهن ته پرېوتے هم نهٔ وهٔ خو بيا هم لېنن د انقلاب ترجمان ګڼلو ځکه چې ټالسټايې په خپلو تخليقاتو کښې د روسي معاشرې هغه اړخونه څرګند کړي وو او هغه خرابيو او کمزوريو ته ئې ګوته نيولې وه د کومو د لرې



www.pukhto.net

کولو د پاره چې انقلابیانو کار کوۀ او یو نوے معاشي او فلاحي نظام ئې رائج کول غوښتل. د دې فکري اشتراك وجه دا ده چې ادیب د خپلې معاشرې نباض وي او سیاستدان هم. مرض دواړه معلوموي خو د علاج طریقې ئې جدا جدا وي. ادیب د معاشرې علاج په نفسیاتي او روحاني طریقه کوي او سیاستدان ئې په جسماني او مادي طریقه. ادیب فکر او خیال پېش کوي او سیاستدان عمل.

د روس د انهدام نه پس اکثر لیکونکي د ترقي پسندئ په ذکر ندامت شان محسوسوي وجه ئې دا ده چې هغه ټول ادب چې صرف د اشتراك تبلیغ او پروپېګنډه وه او د کوم پلېټ فارم نه چې دغه پروپېګنډه کېده، د هغې په نړېدو ظاهر ده چې د دغه نعره وهونکیو نعرې بې بنیاده شان شوې خو د دغه ترقي پسند تحریك د لاندې هغه ادب د کوم بنیاد چې په خپلو قومي او عصري تقاضو او معروضي حالاتو وۀ، زما په خیال اوس هم هغۀ زمونږ د ادب ژوندئ او فعاله برخه ده او په دغه اساس هر ادب ترقي پسند ادب کېدے شي. زمونږ نقادان او ادیبان کۀ له نوي سره د ترقي پسندئ تفسیر وکړي او د خپلې خاورې نه د خپل ادب بنیادونه وتپي نو چې کومه خلا محسوسېږي شاید چې هغه تر ډېره حده ډکه شي.





زمونږ سماجي ژوند په ځینو داسې قدرونو ولاړ دے چې هغۀ کۀ یو طرف ته د ټولې دنیا نه مختلف دي نو بل پله ځینې څۀ چې اکثر پکښې دوامي او دائمي شان دي کۀ څۀ هم د انساني سماج کلهم قدرونه په ځاے ولاړ نۀ شي پاتې کېدے او د قدرونو د تغیر نه انکار کول په ذهني جمود دلالت ورکوي خو بیا هم ځینې قدرونه دائمي وي باید چې زمونږ نقادان د خپل سماج او د هغې په اثر کښې په ادب کښې د دائمي او بدلېدونکیو قدرونو پېژندګلو وکړي او په جاج اخستو کښې ئې له تاریخي نقطۀ نظره کار واخلي. یو نقاد کۀ د خپل ژوند او ادب د تېر او روان تاریخ نه بې خبره وي یا د افراط او تفریط ښکار وي نو هغه د یوې فن پارې صحیح جاج چرې هم نۀ شي اخستے.

نقاد باید چې د خپل زوړ او نوي ادب ژوه، مربوطه او مسلسله مطالعه لري. یو سړي کۀ صرف د انګرېزئ یا اردو ادب او تنقید لوستے وي او د خپل پښتو ادب د روایاتو، مزاج او انفرادي خصوصیاتو په حقله شُد بُد نۀ لري نو هغه چرې هم د یوې پُښتنې فن پارې صحیح جاج نۀ شي اخستے خو په تنقیدي نظر او شعور کښې وسعت او ژور والي راوستو دپاره د خپلې ژبې نه علاوه د نورو ژبو زده کړه، مطالعه هم کۀ وکړے شي او د تقابل او



www.pukhto.net

موازنې په فضا کښې د خپل ادب جائزه واخلي نو هغه به ډېره وزن داره او کره وي ځکه چې د يو څيز پېژندنه او څرګندونه د تضاد او تقابل په تناظر کښې ډېرې ښهٔ کېدے شي۔

يو نقاد له د شعر او ادب نه علاوه په ځينو نورو مروجو علمونو هم څهٔ نا څهٔ نظر لرل پکار دي ځکه چې ادب د ژوند ترجمان وي او د دې د پېژندګلو د پاره د ادبي معلوماتو سره سره د مذهبياتو، سياسياتو، عمرانياتو، نفسياتو، فلسفې اوځينې نورو سائنسي علمونو له بنيادي اصولو واقفيت ضروري دے۔ دې سره به يو نقاد ته نهٔ صرف د يوې فن پارې په کره کتنه کولو کښې اسانې وي بلکې ادب به د ژوند د نورو مختلفو څانګو سره تعلق لرونکيو د پاره د دلچسپۍ باعث وګرځي۔

***





# مجلسي تنقيد

انسان فطرتاً مجلس خوښوونکے دے۔ د خپلو هم جنسو او هم خيال خلقو سره ناسته پاسه، د خيالاتو تبادله، د رايې اظهار، د بل د رايې سره اختلاف يا اتفاق، د خبرې تعريف، تحسين او تنقيص د دهٔ په سرشت کښې اغږلي دي۔ د دهٔ يو جبلت دا هم دے چې د ډلې او اجتماعيت نه بغېر ژوند نهٔ شي تېرولے، قدم په قدم دے د نورو پکار راځي او نور د دهٔ پکار راځي۔

په ادبي تنقيد کښې د انسان د دغه خاصيت له مخه مجلسي تنقيد رواج موندے دے۔ د ادبي فنپارو، اصنافو، ادبي مسئلو او شخصياتو په باره کښې دے په خپلو مجلسونو کښې په رسمي او غېر رسمي دواړو طريقو د خپلو خيالاتو څرګندونه کوي۔ دغه مجلسي بحثونه چې کله په غېر رسمي طريقه وي نو د يوې مسئلې يا موضوع په باره کښې د رايې په اظهار کښې لږه زياته ازادي وي او د دغه ازاد ماحول په وجه ځينې داسې نکات مينځ ته راشي چې عموماً د هغې د تحريري اظهار مخې ته بلا خنډان وي او د ځنيې مصلحتونو په وجه هغه نېغ په نېغه مېدان ته نهٔ شي راتلے۔ په دغه غېر رسمي مجلسونو کښې يوه فائده دا وي چې د تنقيدي



www.pukhto.net

ذهن او صلاحیت ورزش پکښې ښهٔ کېږي او د بحث په دوران کښې په ذهن کښې د غوټه نکتو وضاحت هم وشي او د مطالعې نیمګړتیا هم پوره شي.

دغه غېر رسمي ادبي بحثونه خو زما په خیال دومره ضروري وي چې ځنې وخت د ډېرې مطالعې باوجود د ادبي صلاحیت روزنه هغه شان نهٔ کېږي څنګه او څومره چې په دغه غېر رسمي ناسته پاسته کښې کېږي او هم د دغه عمل نه یوه داسې فضا یا ماحول ساز شي چې د ادب د تخلیق د پاره ډېر سودمن وي.

د هر رسم ابتداء په غېر رسمي انداز کښې کېږي او دغه غېر رسمي انداز چې شعوري، ارادي او باقاعده شي نو د رسم شکل واخلي او هر رسم چې تر کومې د انسان د پاره په مادي، ذهني او روحاني توګه د فائدې او خوشحالۍ باعث وي او حسن او خېر ترې خورېږي نو د دهٔ د ژوند د پاره د یو قدر حېثیت لري. په ادب کښې هم چې کله د تنقیدي بحثونو دغه غېر رسمي انداز د ارادې، قاعدې او ضبط لاندې راغے نو د ادبي ټولنو، جرګو، مرکو او تنظیمونو له طرفه د تنقیدي اجلاسونو شکل ئې وموند. دغلته د خبرې د پاره د رایې د اظهار او د ادب د تول پارسنګ د پاره یوه اېجنډه، قاعده او زاویه وټاکلې شوه.





د انسان مجلسي ژوند د دهٔ د تهذیبي روح ائینه وي. د ے د خپلو قدرونو پاسداري او ساتنه په هر صورت کښې کوي. په تنقیدي اجلاسونو کې په یو وخت د ګڼو نقادانو شمولیت کهٔ یو طرف ته د اجتماعي شعور او تهذیبي روح مظاهره وي نو بل پله د تنقید د پاره یو خور وور کېنوس او د مختلفو زاویو نه یوې ادب پارې ته د کتنې موقع په لاس کښې وي. په دغه ټولو نقادانو کښې کهٔ هر څو هم یو ادبي او تهذیبي روح سرایت شوے وي خو بیا هم د ذوق، رجُحاناتو او ذهني سطحې اختلاف، د مختلفو علمونو ترجیحي مطالعه او مهارت ، فن او ادب ته د مختلفو نظریاتي زاویو نه د کتنې بیل بیل انداز سره د یوې داب پارې د تحلیل، تعدیل او قدر و قیمت په ټاکلو کښې سهولت وي.

په یو تنقیدي مجلس کښې چې ګڼ نقادان شریك وي نو په یوه فن پاره د هغې د خالق په موجودګۍ کښې تنقید کولو کښې د تخریب یا توصیف تله یو یا بل طرف ته د درنېدو او د توازن له مینځه د تلو امکان زیات وي. دغه شان په یو نقاد کښې په مجلس د حاوي کېدو د جوش زیاتوالے او منفي رویې هم د تنقید توله خرابولے شي خو کهٔ د هر نقاد د نظر د وړاندې صرف د ادب پارې تنقیدي جائزه اخستل وي ، د تخلیق کار او مختلفو نقادانو په



www.pukhto.net

موجودګی کښې د خپلې منصبي ذمه وارۍ احساس او شعور غالب او د تعصب، عقیدت، جانبدارۍ او تش مخالفانه جذبات مغلوب بلکې معدوم وي، د نقاد مطالعه خوره وره، ذوق ئې اعلیٰ، تربیه شوې او د عملي تنقید ئې پوره تجربه وي نو د مجلسي تنقید ډېرې ګټه ورې نتیجې لاس ته راتلې شي.

صرف استخراجي طریقه کار نۀ وي خپلو ل پکار بلکې د استقرائي طریقې نه هم کار اخستل پکار وي. په یوه فن پاره د تنقید په وخت د هغې د خالق پوره تخلیقي ژوند کۀ په نظر کښې وساتلې شي او ورسره د نقاد په ذهن کښې د خپل ادب یو تاریخي تصویر هم وي او دغه شان د ادب د ژبني خصوصیاتو او د ژبې د تاریخ جغرافیایې نه هم خبر وي او پخپله ژبه کښې د اظهار په وسائلو او مسائلو ئې نظر وي او د ادبي دیانت او اخلاص مظهر وي نو د مجلسي تنقید نه همه ګیرې فائدې وچتېدې شي.

مجلسي تنقید کۀ څۀ هم د تنقید په مشهورو قسمونو کښې ځاے نۀ دے موندے خو بیا هم د خپل مخصوص انداز،عمل او حدونو په اړه دا د تنقید ځان له قسم ګرځېدے شي بلکې دا هغه قسم له تنقید دے کوم چې د نورو ټولو قسمونو په ځان کښې د ځایولو او جذب کولو ګنجائش او صلاحیت لري.





مونږ چې په یو تنقیدي مجلس کښې شرکت کوو نو دغه شرکت څۀ د ګپ شپ او چایو څښلو یوه بهانه خو نۀ ګرځوو بلکې زمونږ مخې ته څۀ خاص مقصد وي. د ژبې او ادب روزنه، پالنه او تربیت او د حسن او جمال احساس عام کول هغه مقصدونه دي چې د حصول د پاره ئې مونږ دغه مجلسونه ضروري ګڼو. دغه ادبي مجلسونه زمونږ د معاشرتي مجلسي ژوند حصه وي. فن د معاشرتي ژوند جمالیاتي اظهار دے او تنقید د دغه اظهار سرخېنه کوي، تراشي ئې، صقیل کوي ئې او یوه داسې ائینه ترې جوړوي چې معاشره پکښې خپل مخ ګوري نو چې د ظاهري مېك اپ نه پرته د باطني ښائست او بدرنګۍ ننداره هم پکښې وکړي او د ښائست او خېر نه د خوند اخستو او د بدرنګۍ نه د کرکې جذبه پکښې رابېداره شي.

په مجلسي تنقید کښې څنې وخت منفي رجحانات هم مخې ته راشي لکه چې په اجلاس کښې شامل بعضې کسان صرف په روداد کښې خپل نوم درج کولو د پاره کۀ ضرورت نۀ وي هم خبره کوي یا د څۀ تخریبي عزائمو سره د اجلاس د خوند خرابولو یا د هرې خبره سره د اختلاف په ذریعه د خپلې انا یا انانیت د تسکین د پاره په پړه د نښتو کوشش کوي. دغه شان د شرکت کونکیو د اجلاس



www.pukhto.net

نه بهرني تعلقات او اختلافات هم په اجلاس اثر انداز کېږي او زما په خيال د دغه منفي رجحاناتو غټه وجه شايد دا وي چې ټول نقادان زياتره همځولي او زلمي وي. مشران ليکونکي او نقادان په دغه قسمه اجلاسونو او مجلسونو کښې خال خال په نظر راځي. د دې وجوهات کۀ هر څۀ وي خو نقصان ئې دا وي چې زلمي د هغوي د تجربې او علم نه فائده نۀ شي اخستے او داعتدال، توازن او غېر جانبدارۍ کوم سبق او نمونه چې مشران ورکولے شي ، زلمي د هغې نه محروم پاتې شي. په دغه لړ کښې مونږ د تقليد جوګه مثال د ساهو ليکونکيو مرکه پېښور د اجلاسونو ورکولے شو چې هلته د قلندر صېب موجودګي نۀ صرف دا چې هر چا ته د هغوي د خور ورو علم د دسترخوان نه د رېزه چينۍ موقع په لاس ورکوي بلکې تر ډېر حده ورسره د تنازعاتو او منفي رجحاناتو مخ نيوے هم کېږي.

د مجلسي تنقيد يو مقصد د يوې ادب ټوټې اصلاح هم وي. په تنقيدي مجلسونو کښې عموماً ناچاپه ليکونه تنقيد ته پېش کولے شي ، دې سره کۀ يو طرف ته د خود تنقيدۍ د صلاحيت روزنه کېږي نو بل پله په ادب ټوټه د شويو تنقيدونو په رڼا کښې د ناچاپه څيزونو پېش کولو او صرف په اصلاحي مقصد زور راوړولو او دې له د يو





نۀ بدلېدونکي قانون حېثيت ورکولو سره د مجلسي تنقيد دائره محدوده شي او دغه شان اولين مقصد اخرين هم وګرځي ، کۀ دا نکته په نظر کښې وساتلے شي چې تنقيد خو صرف اصلاح نۀ ده ، د دې مقاصد خو ډېر خوارۀ وارۀ او دغه ټول مقاصد د مجلسي تنقيد په ذريعه حاصلېدے هم شي نو بيا ولې دې چاپ څيزونه بلکې چاپ کتابونه هم د مجلسي تنقيد د لاندې رانۀ وستے شي.

پښتو کښې د مجلسي تنقيد روايت ډېر توان مند او پرله پسې پاتې شوے دے. د مجلسي تنقيد سر د اولسي ادبي جرګې پېښور نه لګي او د موجوده روان عصر بې شماره ادبي ټولنې لګيا دي هفته وار او مياشتنې تنقيدي اجلاسونه کوي او دغه روايت مخ په وړاندې بيايي. پښتو کښې کۀ مونږ څۀ په زړۀ پورې تنقيدي کار ګورو نو هم دغه تنقيدي مجلسونه دي چې له روداودونو ئې مونږ له ډېر څۀ په لاس راتلے شي. کۀ د دغه مجلسونو رودادونه راغونډ او چاپ کړے شي نو پښتو کښې د تنقيد د کمې ګيله تر ډېره حده ورکېدے شي. دغه شان کومې ټولنې چې تنقيدي نشستونه کوي، هغوي له هم پکار دي چې د خپلو اجلاسونو رودادونه په اهتمام سره ليکي او محفوظ کوي ئې او دغه ټولنې کۀ څۀ اشاعتي



www.pukhto.net

کار کول غواړي نو پکار دي چې خپل دغه رودادونه چاپ کوي.

پښتو کښې په مجلسي تنقید زما په خیال دا وړومبے مضمون دے کۀ چرې د پښتو پوهٔ او تجربه کار نقادان په دې موضوع د خپلو تجربو او علم په رڼا کښې زیات لیکل وکړي نو نۀ صرف دا چې د دې خدوخال او کرۀ وړۀ به زیات روښانه شي بلکې په دغه قسمه تنقیدي مجلسونو کښې شرکت کوونکیو نقادانو ته به د خپل منصب د اهمیت، ذمه وارۍ او مقصد احساس او شعور په ځلانده توګه وشي.

***





# پښتو تنقید کښې نوي رجحانات

ادب د ژوند تنقید دے یا ادب یو ټولنیز عمل دے. په تنقیدي ادب کښې دا دوه جملې داسې دي چې په ادب او تنقید کښې د نوو رجحاناتو سر ترې لګي. د دې دا مطلب هېڅکله هم نۀ دے چې د دې نه وړاندې د اب د ژوند یا ټولنې سره څۀ تړون نۀ وۀ، هر کله چې تنقید د ادب پوهنې، تشریح، توضیح او د دې د قدر او قیمت ټاکلو فرض تر سره کوي نو په دې عمل کښې د هر دور د بدلېدونکیوحالاتو او نوو تقاضو تر مخه بیلې بیلې لارې، طریقې او ذریعې خپلوي.

د ژوند د بدلېدونکیو حالاتو سره سره د ادب په موضوعاتو کښې هم بدلون راځي او ورسره د تنقید پېمانې، نظریې او زاویې هم بدلېږي کۀ چرې دا ووئیلے شي چې د تنقید په مزاج کښې د بدلون او عصري غوښتنو سره د څنګ په څنګ کېدو عنصر نسبتاً زیات وي نو بې ځایه به نۀ وي. دغه شان د زوړ ادب د نوو او بدلېدونکیو حالاتو په تناظر کښې نوے تعبیر د تنقید دغه بدلېدونکي مزاج په وجه ممکن کېدے شي.

په دې حالاتو کښې سکون او جمود محال دے. د حالاتو د بدلون سره سره د انسان په ذهني دنیا کښې هم بدلون



www.pukhto.net

راځي او عام طور دغه بدلون ارتقايي وي. دغه وجه ده چې د ادب صرف يو تعريف يا د تنقيد کومه يوه پېمانه يا طريقه د هرې زمانې او هر قسمه حالاتو د پاره کافي نهٔ ده پاتې شوې. په هر دور کښې د ادب نوي نوي تعريفونه شوي دي او د تنقيد نوې نوې طريقې او نظريې مېدان ته راوتي دي.

د بدلېدونکيو حالاتو سره زاړهٔ قدرونه يا خو بدل شي يا يو نوے معنويت خپل کړي. ادبي ژبه يا د ادب يوه موضوع کهٔ چرې په يوه زمانه کښې حقيقي وي نو په بله زمانه کښې هغه علامتي شي او د ادب هم دغه خاصيت دے چې د دې تعلق د حقيقت نه زيات د امکاناتو سره وي. کهٔ څهٔ هم يوه ډله داسې هم شته چې هغه يو خاص قسمه فکر او نظريه د هرې زمانې او هر قسمه حالاتو د پاره کافي او ضروري ګڼي خو د انساني تاريخ نه دا ثابته ده چې هم دغه عېنيت پرستي وروستو د لفظونو يوه داسې ماشوره جوړه شوې ده چې څومره ئې راسپړې نو دومره جاخه کېږي او هم په دغه اساس جمالياتي مباحث د ژبې ترحده خو يو زړهٔ راښکونکے شغل وي خو د عملي ژوند د ښائست او د انسان د عملي هلو ځلو سره هېڅ قسمه تعلق نهٔ ساتي. د ژوند د ښائست معيار په انساني





عمل موقوف دے او کوم څيز چې د عمل جوګه نهٔ وي د هغې ښائست مشکوک دے.

په تنقيد کښې هم دغه دوه يعني عېني يا مثالي او حقيقي يا مادي نظريې څنګ په څنګ رواني دي. د تنقيد په عېني نظرياتو کښې بحث زياتره د هېئتي او لفظي تجربو پورې محدود وي ځکه چې د موضوعاتو تبديلي خو هغوي د سره مني نه او دوېمه نظريه کومه چې په حقيقت پسندۍ مبني ده ، ادبي جماليات د هېئت او موضوع د امتزاج سره تړي.

تاريخ مونږ ته ښايي چې انسان د خپل ژوند ابتدا د کوم مقام نه کړې ده. نن د هغه مقام نه په مادي او ذهني دواړه لحاظه دومره وړاندې تلے دے چې کهٔ چرې زمونږ د وړومبنيو عهدنونو د پلار نيکونو نه څوك دوباره راژوندے شي نو ممکنه ده چې هغه زمونږ د خپلولۍ نه انکار وکړي. دا ځکه چې يو انسان بل انسان ته معنويت، افاديت او ضرورت او اهميت صرف د بدني جوړښت په يو شان والي کښې نه شي ور محسوسولے.

اديب او نقاد دواړه خپله تنده د ژوند په چينه سړوي، فرق صرف دا دے چې د اديب عمل نېغ په نېغه وي او نقاد په واسطه واسطه د ژوند نه خپل مواد ترلاسه کوي. د ادب موضوع ژوند دے او د تنقيد موضوع ادب دے.



www.pukhto.net

د ادب کار متاثره کول دي او د تنقید کار پوهول دي. په دې وجه دنقاد کار دوه دونه مشکل دے ځکه چې د ژوند د نېغ په نېغه تجربې او مشاهدې سره سره هغهٔ له د ادب د تاریخ او روایت نه هم ځان خبر ساتل پکار وي. شاعر او ادیب صرف په حال کښې ژوند کوي ځکه چې تخلیقي تجربه د وارداتو سره تعلق لري او واردات د حال څیز دے خو نقاد به د ادب سره سره د ژبې او ټولنې د ماضي نه هم خبر وي او د روایت د پوره تسلسل نه به خبر وي. د هر شاعر او ادیب د ځانګړي خصوصیاتو سره سره به د هر دور د اجتماعي خصوصیاتو او اسلوبیاتو نه خبرتیا لري. کهٔ چرې داسې نهٔ وي نو په ادب پوهنې، تشریح او قدروقیمت ټاکلو کښې به د تېروتنو احتمال زیات وي او نقاد به د خپلې بې خبرۍ په سیند لاهو شي.

په پښتو تنقید کښې دنوو رجحاناتو درك لګولو د پاره دا ضروري ده چې په پښتنه معاشره، پښتون تاریخ او د پښتو ژبې او ادب په تاریخ تارتاریز نظر واچولے شي او دا وکتے شي چې پښتون قام، پښتو ژبه او ادب په نوي عصر کښې د داخلېدو دپاره د څومره او کومو مرحلو نه راتېر شوي دي او کوم کوم منزلونه ئې سر کړي دي. د کومو کومو بدلونونو سره مخ شوي دي او اوس د ارتقا په کوم پړاو کښې دي.





په کومه زمانه (پینځلسمه عیسوي صدی) کښې چې قبلئیز قامونو نه د غفلت د خوبه راویښېدل ، چاپ خانه ایجاد شوه او نوې نوې دنیاګانې او نوې نوې لارې معلومېدې، د علمونو او فنونو د احیا تحریکونه چلېدل نو په هغه زمانه کښې پښتانهٔ قبائل زیاتره د کډوالۍ په ژوند تېرولو مجبوره وو. په قبیلوي جنګونو کښې نښتي وو. د بهرنو یرغلګرو سره لاس او ګرېوان وو او په انفرادي او اجتماعي هجرتونو مجبور وو. د دوي تهذیب او اقداري نظام په دغه حالاتو کښې ساه اخسته. په خپل وطن کښې ئې لا تمدن پوره نهٔ وهٔ جوړ شوے او شاعري ئې په شفاهي او فولکلوري رنګ کښې رنګ وه. سیاست ئې د خپل پلارني ټاټوبي نه بهر کولو او اقتصاد ئې د دغه بهرني سیاست سره تړلے وهٔ . د خپل وطن د مخصوص جغرافیایي حېثیت په وجه د بهرني یرغلګرو په ضد پرله پسې په جنګ او د خپل ژوند د بقا په جنګ کښې د تورې په لاس کښې لرلو په وجه دوي ته د علمي، فکري او فني کارنامو د پاره وخت او سکون په لاس نهٔ دے ورغلے او کهٔ وکتے شي نو د پتنبونخوا اکثرې برخې اوس هم په دغه حالت کښې دي. ټول ژوند په مزاحمت کښې د تېرولو او د بهرنیو یرغلګرو او سامراجي قوتونو په ضد د پرله پسې جنګونو په وجه پښتون په معاشرتي،

سیاسي، تهذیبي، تمدني، معاشي او نفسیاتي طور د قدامت په رنګ کښې رنګ پاتې شوے دے بلکې نن هم د پښتنو یو ډېر لوے شمېر په معاشرتي، فکري او سیاسي لحاظ څوارلس سوه کاله وړاندینۍ زمانې ته د مراجعت کولو ارزومند دي ، د دې د پاره زیار هم باسي او د تاریخ پایه په شا تاوهلو خپل زور صرف کوي.

په پښتنه معاشره کښې د جدیدیت شروعات هغه وخت کېږي کله چې انګرېزانو د پښتونخوا په څۀ برخو کښې خپله عملداري جوړه کړه ، نوے مواصلاتي نظام ئې جاري کړۀ او نوې ادارې ئې جوړې کړې. په 1913ء کښې د اسلامیه کالج پېښور جوړېدو سره پښتونخوا ته د نوو مغربي علمونو د راتګ د پاره لاره خلاصه شوه. د دې نه وړاندې د علی ګړ تحریك اثرات مرتب کېدل هم شروع شوي وو . په 1919ء کښې د خلافت تحریك په لړ کښې افغانستان او مینځنۍ ایشیا ته هجرت کول، د هجرت نه په ناکامه واپسۍ د باچاخان او د هغۀ د ملګریو په کوششونو د انجمنِ اصلاح الافاغنه جوړول او د کاکاجي صنوبرحسېن مومند د مترقي او متشددو خیالاتو او د انګرېزانو نه د ازادۍ تر لاسه کولو په لړ کښې پېښېدونکي تول واقعات او حادثات داسې وو چې پښتو شاعري او ادب ئې په یوه نوې لاره روان کړل. دغه





حالاتو په دې کښې یو نوے عصري روح پوك وهۀ . اولسي مشاعرو ته رواج ورکول، په اولسي سټېج ډرامې پېش کول او نوې افسانې ته رواج ورکول داسې څیزونه دي چې په پښتو ادب کښې ښځي نوي وو او دغه ټول ادب د عصري حالاتو د ترجمان په حېث پېش کول بې د نوي تنقیدي شعور نه ممکن نۀ وو او نوے تنقیدي شعور دا وۀ چې ادب نۀ صرف د اولس او قام د اصلاح ذریعه ده بلکې د هغوي په ذهني بېدارۍ او ترقۍ کښې هم اثرناك کردار لوبوي.

په 1936ء کښې په هندوستان کښې د ترقي خوښو مصنیفینو د انجمن جوړېدو سره په ادب کښې د اولسي ازادۍ سره سره د استحصالي قوتونو په ضد د طبقاتي مبارزې عنصر هم ګډ شۀ او پښتانۀ چې په نفسیاتي توګه د طبقاتي نظام خلاف او ازادي خوښي دي ، د دې نوي سوچ نه متاثره شو او د دې په رڼا کښې د پښتو ادب په ذریعه په پښتنه معاشره کښې یوه نوې رڼا خوره شوه. د دغه شالید په رڼا کښې کۀ چرې مونږ د روان عصر پورې په پښتو تنقید کښې نوي رجحانات په ګوته کول وغواړو نو په لاندې ورکړې شویو نکاتو مشتمل یو فهرست جوړولے شو.



www.pukhto.net

- ادب نه په طور د ذریعې د ټولنې د اصلاح او ذهني بېدارۍ کار اخستل
- ادب ته یوه نوې مزاحمتي لهجه ورکول
- په ادب کښې په مقصدیت زور راوړل او د خاصو مقصدونو د پاره پکارول
- په ادبي تنقید کښې د نورو علمونو نه استفاده کول
- د عالمي ادب او عالمي تحریکونو نه خبرېتا تر لاسه کول، اثر ترې اخستل او ذهني افقونه پلنول
- نوې نوې تجربې کول او قبولیت وربخښل
- په طبقاتي شخړه کښې ادب د وسلې په طور استعمالول او زپلې او نتلې طبقې د حالاتو او خیالاتو ترجماني کول.
- د مغربي روحانیت نه متاثره کېدل او پښتو کښې د نوې روحاني شاعرۍ ابتدا کول
- نویو نویو موضوعاتو سره سره نوې نوې هېئتونه او صنعتونه خپلول
- د روایتي تنقیدي نظریاتو په باره کښې په مربوط انداز کښې کتابونه لیکل
- د ادبي ټولنو له پلېټ فارمه مجلسي او عملي تنقید ته رواج ورکول





- د مغربي تنقیدي مقالو او کتابونو ترجمې کول
- په مشرقي تصوف کښې د مغرب د رومانوي فلسفې پېوند کاري کول
- د پښتون قامي وحدت تصور روښانه کول
- د زوړ ادب په باره کښې په نوي سائنسي انداز کښې تحقیق کول
- د پښتنو په ژبه، ادب او تاریخ د نوي سر نه تنقیدي نظر اچول
- د ادب د اجتماعي اسلوب په ځاے د انفرادي اسلوب ډاډګېرنه کول
- په پښتو شفاهي ادب په لویه پېمانه کار کول
- د پښتو لساني تشکیلونو په باره کښې د نوي ژبني سائنس په رڼا کښې کار کول
- نوي علمونه پښتو ته راوړل
- د پښتو ژبې ادب او ثقافت په باره کښې مذاکرې سیمینارونه او کانفرنسونه کول
- له مذهبي نقطه نظره پښتو ادب ته کتنه کول، په دې لړ کښې زۀ د قراني تنقید اصطلاح مینځ ته راوړم د قران د حرکي اصولو او قوانینو تر مخه د نورو علمونو او فنونو سره سره د ادب په باره کښې هم یو نقطه نظر پېش کول.



www.pukhto.net

- د افغانستان ثور انقلاب، رد انقلاب، د افغانستان خانه جنگي،د طالبانو اثر او نفوذ ، د هغوي خلاف د عالمي سامراج د دهشت گردۍ په نوم جنګ، په پښتنه خاوره بدامني، ناقلاري او د تحفظ نيشتوالے داسې موضوعات دي چې په عمل او رد عمل کښې ئې ادب هم تخليق شوے دے او د ادب په باره کښې يوه تنقيدي رويه هم مخې ته راغلې ده۔

پورته درج شوې نکتې د پښتو ادب او تنقيد د نوي دور احاطه کوي۔ د پښتو تر حده دا ټول نکات په څۀ نه څۀ حېثيت کښې د نوو رجحانونو غمازي کوي البته دا ده چې ځني رحجانونه ډېر غالب پاتې شوي دي او د څۀ په باره کښې په اختصار سره کار شوے دے۔ چرته داسې ده چې د تخليق په شا د تخليق نه وړاندېنے تنقيدي شعور په کار شوے دے۔ په دغه رحجانونو کښې څۀ داسې دي چې اوس زاړۀ شوي دي ځکه چې نوے دور خو څۀ د کال دوو نوم نۀ دے بلکې شلمه عيسوي صدي ټوله په ټوله د پښتو جديد ادب د صدۍ په طور پېژندے شي۔ په دغه لحاظ ذکر شوي ټول رجحانونه په يو نه يو حواله نوي دي۔

***





# پښتو شاعري او عصري تقاضې

عصر څۀ څيز دے؟ د دې تقاضې څۀ دي؟ او زمونږ شاعري دغه تقاضې تر کومې پوره کوي ؟ دا داسې سوالونه دي چې ما ته ئې د جواب کولو حکم شوے دے او حکم کوونکي په ما دومره زورور دي چې سره د خپلې بې علمۍ او بې مائيگۍ مې د انکار جرات ونۀ کړے شۀ او په راروانو کرښو کښې چې زۀ څۀ وئيل غواړم نو دا مې صرف د عافيت لټولو کوشش کړے دے څۀ علمي موشگافي مې نۀ ده کړې ۔ تاسو ټولو ته د تنسيخ او استرداد پوره پوره حق درکوم او موضوع سره د انصاف نۀ کولو په صورت کښې پېشگي بخښنه غواړم۔

د عصر معنې دي روزگار ،زمانه، وخت او د ورځې اخري حصه ، دغه شان د يو عصر تعين به مونږ په يو خاص وخت کښې د بنيادمو تر مينځه د معاملت، معاشرت او غالبو رجحاناتو په بنياد کوو خو په دې لړ کښې به د عصر معنیٰ "د ورځې اخري حصه" هم په نظر کښې ساتو ځکه چې دغه په تېره اوږده ماضي د نظر اچولو ، غور و فکر کولو، د ښو او بدو نتيجو په لاس کښې لرلو او د مستقبل د پاره د منصوبه بندۍ او لائحه عمل ټاکلو د پاره بهترينه لمحه وي۔



www.pukhto.net

عصر یو روان عمل دے۔ هره ورځ بنیادم پیدا کېږي او د عصر په بهیر کښې شاملېږي۔ د اتیا کالو زوړ کول او د شلو کالو زلمے کول دواړه هم عصر وي۔ دواړه د خپل خپل حېثیت مطابق د عصري نقاضو پوره کولو ذمه واري ترسره کوي خو فرق پکښې دا وي چې زوړ کول سره د خپل ژوند د اوږدې ماضي د خوږو او ترخو تجربو پنګه وي او زلمو سره د روښانه مستقبل د تصوراتو او خوبونو مانۍ او د مستقبل مانۍ د ماضي او حال د بنیاد نه بغېر نهٔ شي ودرېدے ځکه نو د عصرونو تر مینځه د تقاضو په بنیاد کرښه راښکل ګران دي۔

د زمکې ګردش په خپل مدار او محور کښې د ازل نه جاري دے۔ د کړۍ کړۍ لمحو نه د وخت او زمانې زنځیر جوړېږي کهٔ څهٔ هم د زنځیر د یو سر او بل سر ترمینځه زماني او مکاني بعد وي خو بیا هم ترمینځه ئې یو نهٔ شلېدونکے ربط وي او هم دغه ربط د انساني ارتقا پوړۍ په پوړۍ تاریخ جوړوي او په یو عصر کښې د ژوندو بنیادمو د پاره هغه لمحې زیاتې اهمې وي کومې چې مسقبل ته نزدې وي لکه څنګه چې ما وړاندې د زوړ کول او ځوان کول مثال ورکړهٔ۔ د زوړ او ځوان د عمر شریکه حصه د هغه عصر حال یعني جدید عصر وي۔ د هغې نه وړاندې حصه ماضي او چرته چې د زوړ کول د کردار





خاتمه کېږي هغه مستقبل وي۔ په نورو ټکو کښې د زوړ او نوي کول د عصري اشتراك نه وړاندینے ژوند زمونږ روایت دے او شریکه حصه جدید دور دے چې د روایت کړۍ پکښې راننوتې دي او دغه شان هر عصر خپل روایات د جدتونو د اضافو سره راتلونکیو نسلونو او عصرونو ته منتقل کوي۔

د بنیادمو اعمال او افعال ، حرکات او سکنات، رجحانات او ترجیحات د مختلفو عصرونو د تقاضو مطابق مختلف پاتې شوي دي او د ژوند د بقا په جنګ کښې چې کوم څیزونه د دوي د پاره زیات سودمن پاتې شوي دي، هغو له ئې د قدرونو نوم ورکړے دے او راتلونکیو نسلونو ته ئې د میراث په طور د فنونو په شکل کښې منتقل کړي دي او هم دغه قدرونه د بنیادم د ټولنیز ژوند د ښوو او بدو د تول پیمانې دي خو لکه څنګه چې وخت یا عصر په ځائے ولاړ نهٔ پاتې کېږي دغه شان قدرونه هم د بدلون سره مخ کېږي۔ البته دغه بدلون خارجي طور زیات او زر زر مګر په داخلي ، ذهني یا روحاني طور په مزه مزه راځي او دغه شان د ځنو قدرونو سره تړلي احساسات، جذبات، تصورات او خیالات تر ډېره حده او په ډېرو عصرونو کښې قائم وي۔ د قدرونو تغېر د قدرونو کم او د فېشن تغېر زیات دے ، کهٔ څهٔ هم



www.pukhto.net

فېشن څهٔ بنيادي څيز نهٔ دے خو بيا هم د يو عصر د رجحاناتو په تعين او پېژندنه کښې ډېر لاس کوي ـ د فېشن د بدلون سره د قدرونو حصار ورو ورو نړېږي ، تر دې چې قلب ماهيئت ئې وشي ـ

شاعري چې د انسان يوه سماجي سرګرمي ده د قدرونو ترجمانه او امينه هم ده ـ شاعري د لفظونو جادوګري ده او لفظونو يعني ژبې د انساني سماج په جوړولو کښې له ټولو نه لوے کردار لوبولے دے ـ ژبه د بنيادمو تر مينځه د ابلاغ غټه ذريعه ده کهٔ دا وواېم چې يوائينۍ ذريعه ده نو هم غلطه به نهٔ وي ځکه چې د ابلاغ نورې ذريعې لکه اشارې، حرکات او د مخ تاثرات ډېرې ناقصې ذريعې دي ځکه نو ژبه د بنيادمو د ټولو نه اهم سماجي ايجاد دے ـ وئيلے شي چې " د زوړ ښار بابل اوسېدونکيو اسمان ته د ختو او د خدا ے د ليدو د پاره يوه مناره جوړول شروع کړل ـ مناره چې يوې خاص بلندۍ ته ورسېده نو راپرېوته او خلق دغه حادثې سره دومره ويرې واخستل چې خپله ژبه ترې هېره شوه ـ يو سړي به بل په خبره پوهولو خو هغه پرې نهٔ پوهېدهٔ يعني د ژبې عمل په ځا ے اودرېدهٔ او په نتيجه کښې ئې د خلقو ژوند دومره تنګ شهٔ چې د يو بل سره په جنګونو او جګړو اخته شول او ټول مړهٔ شول١".





په دې قيصه کښې کهٔ تاريخي واقعيت نهٔ هم شته خو بيا هم دا حقيقت ترې په ښهٔ شان سره څرګندېږي چې د بنيادمو تر مينځه د ابلاغ د پاره ژبه څومره اهمه ذريعه ده ـ بيا په يوه ژبه کښې د اظهار او ابلاغ د پاره د ټولو نه موثره او خوندوره پېرايه شاعري ده او هسې هم شاعري څهٔ اسماني څيز نهٔ دے لکه چې افلاطون وايي " شاعر د قدوسي قوتونو په اثر کښې وي او هغه څهٔ څيز تر هغې نهٔ شي تخليق کولے تر څو چې پرې الهامي قوت قبضه ونهٔ کړي او د هغهٔ حواس يکسر زائل نهٔ کړي ـ وړاندې وايي خدا ے د شاعرانو دماغ معطل کړي او بيا د هغوي نه د پېغمبرانو کار اخلي٢".

د شاعرۍ په حقله د افلاطون نظريات ښخي رد کول ناممکن دي خو تر کومې چې د شاعر د ارادې، ذهني او حسي قواؤ د تعطل خبره ده نو افلاطون سره اتفاق ګران شي ځکه چې دا خبره منلې شوې ده چې شاعر د معاشرې د ټولو نه زيرك، حساس ، دور انديش او د لفظونو د استعمال ماهر ترين انسان بلکې د لفظونو جوړوونکے وي ـ هغه چې څهٔ ويني، څهٔ محسوسوي او په څهٔ پوهېږي او بيا د هغې په اظهار کوم قدرت لري نو بل څوك ئې نهٔ لري ـ کهٔ يوه معاشره يا سماج د وجود حېثيت لري نو شاعر په دغه وجود کښې د زړهٔ يا روح حېثيت لري ځکه



www.pukhto.net

نو " هغه معاشره چرته چې د صحت مند ادب تخليق بند شي نو هغه معاشره زوال پذيره شي او په يوه بله معاشره کښې جذب شي۳".

کومې ژبې چې د زمکې له مخه فنا شوي دي د هغو د فنا وجه دا نهٔ ده چې ګني د هغه ژبو ويونکي ختم شي بلکې په هغه ژبو کښې د تخليقي عمل چينې اوچې شوې او دغه شان ورو ورو فنا شوې.

هر کله چې مونږ د نن عصر د تقاضو په رڼا کښې پښتو شاعرۍ ته ګورو نو د شاعر او معاشرې تر مينځه فاصله بلکې خلا وينو. بايد چې دغه فاصله او خلا ختمه شي. کهٔ څهٔ هم زمونږ شاعر د وړاندينو عصرونو په مقابله کښې زيات او ترقي يافته سماجي شعور لري. هغه د معاشرې د ښو بدو نه ښهٔ خبر دے او د خپل فن په ذريعه د معاشرې او د خپل اولس د جذباتو احساساتو او مسئلو پوره پوره ترجماني هم کوي خو بيا هم د هغهٔ اواز پوره طور اولس ته نهٔ رسي ځکه چې د هغهٔ اولس په خپله افغانۍ ژبه نادان دے۴. مېډيا د هغهٔ په اختيار کښې نهٔ ده ، کتاب هغه نهٔ شي چاپ کولے او کهٔ چاپ ئې کړي نو لوستونکي ئې نشته ؛ په داسې حال کښې شاعر ، چې زړهٔ ئې د اولس له غمه چوي خو اولس ته د هغهٔ غږ خوبولو ته په خوب کښې د "غږ"۵ نه سېوا نهٔ دے، څهٔ وکړي. زما





په خيال د شاعرۍ په حواله دا د ټولو نه اهمه عصري تقاضا ده چې د شاعر غم اولس ته ورسي. په موجوده حالاتو کښې د دې تقاضې پوره کولو دپاره په اولسي سطح مشاعرو له رواج ورکول ډېر ضروري دي ځکه چې په يوه زمانه کښې به کلي په کلي درنې درنې مشاعرې کېدې او په دغه مشاعرو کښې به د شاعرانو نه زيات عوام موجود وو خو اوس د مشاعرو ځاے د کتابونو مخکتنو او شاعرانو سره سحرونو او مابنامونو کولو نيولے دے. د دغه څيزونو له اهميته زهٔ انکار نهٔ کوم خو دې له هم مونږ صرف د يو فېشن شکل ورکړے دے چې غټ مقصد مو د شاعر خوشحالول او د يارانې دوستانې حق ادا کول وي نه چې د شاعرۍ يا ادب خدمت کول ځکه نو د شاعر او اولس تر مينځه زوړ تړون دوباره پېدا کول پکار دي.

زمونږ په وطن کښې د تعليم شرح ډېره کمه ده او کوم تعليم چې اولس ته ورکولے شي هغه هم د شعور په وده کښې د لاس کولو نه معذوره دے. په داسې حالاتو کښې دا ذمه وارۍ د هر چا نه زياته په شاعر راځي چې اولس ته تعليم هم ورکړي، شعور هم او د ذوق جمال تربيت ئې هم وکړي. لکه چې د ادبيانو د تاريخ نه څرګنده ده، په کومه زمانه کښې چې د رسمي تعليم رواج نهٔ وو نو په غېر



www.pukhto.net

رسمي طور دغه فريضه د هر چا نه زياته شاعر تر سره کړي ده. شاعر سره يوداسې ميډيم دے چې د هغې اثر د بل هر ميډيم نه زيات دے.

د همېشه په شان په نن عصر کښې هم د پښتون قام يوه غټه مسئله د قامي، سياسي او فکري وحدت نيشتوالے دے. دا د پښتنو تاريخي کم بختي ده چې دوي په يوه زمانه کښې هم نهٔ دي يو شوي يا يو کېدو ته نهٔ دي پرېښودي شوي خو نن مونږ ته عالمي سياسي منظرنامه دا ښايي چې دا عصر د قامونو د بېدارۍ او وحدت عصر دے. د دنيا قامونه لګيا دي خپلې خپلې سياسي او تهذيبي دائرې مکملوي خو پښتنو ته لا اوس هم د خپلې جغرافيې او تاريخ احساس او شعور نشته او د خوشحال بابا دا شعر ورته اوس هم ائينه ده چې:

هره چار د پښتانهٔ تر مغل ښه ده
اتفاق ورځخه نشته ډېر ارمان

نن عصر د پښتون شاعر نه دا تقاضا هم ډېره په شدت سره کوي چې هغه دې په خپل شعر کښې بيان کړے دپښتنو د يووالي پېغام دوي ته ورسوي او زهٔ بيا دا وايم چې د دې مقصد د پاره په اولسي سطح مشاعرې کول به





ډېر ګټه ور وي ځکه چې مشاعره اولس ته د پېغام رسولو ازاده او اسانه ذريعه ده.

د صنفونو او هيئتونو په حواله پښتو شاعري ښه مړه ده. پښتو کښې د غزل او پابند نظم د يو اوږد او پټ موړ تاريخ سره سره ازاد نظم هم ښهٔ مضبوط روايت قائم کړے دے او مونږ سره د ښو ښو ازادو نظمونو درنه پنګه جمع شوې ده. د ازاد نظم نه پس هم زمونږ شاعرانو د اظهار د پاره د نوو نوو پېرايو په خپلولو کښې د تعصب نه کار نهٔ دے اخستے چې غټ مثال ئې مونږ سره د هائيکو په شکل کښې موجود دے. د نورو ژبو نه اصناف او هيتونه اخستل څهٔ بده خبره نهٔ ده خو بايد چې په دغه لړ کښې د تقليد او فېشن په ځاے د قامي او ادبي ضرورتونو خيال وساتلے شي. د بلې ژبې کوم صنف خپلول اسان وي خو په هغې کښې خپل ثقافتي روح پوك وهل ګران وي. د ثقافتي روح نه زما مطلب دا دے چې هغه دې د اولس د پاره ليکي نو ورسره ترې د دې تقاضې حق هم لرو چې هغه دې هاغه صنفونه استعمالوي کوم چې عوام خوښوي.

د پردو صنفونو په خپلولو کښې زمونږ شاعرانو خپلو اولسي صنفونو سره لږ شان زياتے هم کړے دے او فېش ته ئې په قدرونو ترجيح ورکړې ده حالانکې مونږ سره



www.pukhto.net

خپل دوه صنفونه یعنې سندره او ټپه داسې دي چې د وخت او حالاتو سره ښهٔ برابر تګ کولے شي. کوم پښتون دے چې هغه به د دغه دواړو صنفونو له تاثیره انکار وکړي. د پښتون ثقافت د پېژندنې د پاره د پښتو شاعرۍ ټول اصناف یو طرف ته او یواځې ټپه بل طرف ته. ټپه کهٔ زمونږ د ژوند د رزم او بزم ترجمانه ده نو سندره هم د نوو خیالاتو او حالاتو د اظهار او انعکاس پوره پوره صلاحیت لري او بیا د ټپې په بنیاد خو د نظم او خصوصاً د ازاد نظم په هیئت کښې ښې ښې تجربې امکان لري. په دې لړ کښې د چاربېتې صنف هم نهٔ دې نظر انداز کول پکار بلکې کهٔ اولس ته یو خاص او فوري پیغام رسول وي نو بیا خو د اولسي صنفونو استعمال ناګزیر دے. د دې عصري تقاضې ترمخه شاید زمونږ شاعرانو ته احساس هم دے ځکه چې اکثرو جدیدو شاعرانو خپل یو موثر او خوندور صنف سندرې ته خصوصي توجه کړې ده او په اولس کښې د هغې مقبولیت او پذیرایي هم ځرګنده ده. مثالونه ډېر دي خو زهٔ صرف د یو شاعر مثال ورکوم، رحمت شاه سائل چې زمونږ د عصر شاعر دے، د نورو ذریعو نه علاوه د ګلزار عالم په اواز د هغهٔ غزلې، نظمونه او سندرې د پښتنو کور کور ته رسېدلي دي خو تاسو ووایې چې د هغه د دې سندرو:





چې پکښې ګل شي ستا د غونډې زنې شنهٔ خالونه ---
هغې سپرلي ته انتظار وکړه
راواخلې بیا د انقلاب سرهٔ نشانو، پښتنو زلمو--- دا
خاوره انقلاب غواړي --- د ازادۍ انقلاب
ما نه جانان غوښتي سپورو ځنو له ګلونه، پسرلیه ----
چرته خو زمونږ کلي ته هم راپېښه وکړه

په مقابله کښې کوم غزل یا نظم دومره عوامي مقبولیت حاصل کړے دے. د سائل مشهور نظم "پېښور" هم د نوې موضوع سره سره د سندرې د غنایي کېفیت په وجه د هر پښتون د زړهٔ په رباب ټنګېدلے دے. د ثقافتي یرغلونو په دې پُراشوبه دور کښې د خپل پښتون ثقافت د تحفظ د پاره دا یوه زبردسته وسله ثابتېدے شي.

په مجموعي طور سره دا خبره ډېره حوصله افزا ده چې زمونږ شاعران د ژوند په مقصدیت او معنویت ایمان لري او حقیقت پسندانه نظر لري کهٔ څهٔ هم په شعر کښې مقصدیت واضحه اظهار فن د پروپېګنډې حد ته رسوي خو په داسې حالاتو کښې چې اولس د خپلو حقوقو د فوري حصول د پاره دمبارزې په حالت کښې وي نو د پروپېګنډې له اهمیته انکار نهٔ شي کېدے.

حوالې او حواشي:



www.pukhto.net

1. اردو زبان او اس کی تدریس صـ ۳۹ ډاکټر محمد صدیق خان شبلي
2. مغربي شعریات صـ ۳ محمد هادي حسن
3. نئی تنقید صـ ۲۷۵ ډاکټر جمیل جالبی
4. چې په خپله افغانی ژبه نادان دے
په ترکۍ خبرې څۀ وایي افغان ته
5. ما وې چې دا اودۀ قام به په چغو زما وينښ شي
معلومه شوه ما غږ کړو خوبولو ته په خوب کښې
امیرحمزه خان شینواري

6م ستمبر 1996ء

***





# د شاعر او ادیب ذمه واری

انسان د نورو ډېرو صفتونو او خاصیتونو سره یو صفت دا هم لري چې دے ټولنه جوړوونکے دے او د دغه وصف له مخه دے ټولنیز حیوان هم ګڼلے شي او د نورو حیواناتو نه غوره والے او فضلیت هم لري. د افضلیت بل وصف ئې دا دے چې دے د خبرو کولو صلاحیت لري. شاعر، ادیب په حیثیت د یو عام فرد د ټولنې غړے هم وي. د نورو انسانانو په شان خبرې کوي. د هغوي خبرې اوري او په هغې خپل رد عمل هم پیش کوي. په یو عام انسان چې د ټولنې له طرفه کومې ذمه وارۍ عائد کېږي د هغې په سر ته رسولو شاعر او ادیب هم پړ وي. دغه ټولنیز عمل او ردِ عمل د دۀ د ژوند د پاره ضروري وي. هره ټولنه خپل د قدرونو یو نظام لري. د دغه قدرونو احترام په انسان واجب وي؛ کۀ هغه عام انسان وي او کۀ د شاعر او ادیب غوندې خاص انسان. خو د عام فرد په مقابله کښې د شاعر او ادیب تړون او د تړون نوعیت په فرق او مخصوص وي. یو عام سړے د قدرنو په باره کښې غېر شعوري رویه او د عمل ضابطه لري خو شاعر ادیب کۀ یو طرف ته د خپل اقداري نظام په باره کښې مکمل باشعوره وي نو بل طرف ته د وخت او حالاتو رخ هم د هغۀ په نظر کښې وي. د ګویایۍ په حواله هم د



www.pukhto.net

شاعراو اديب حېثيت د نورو وګړو په مقابله کښې مختلف او منفرد وي ـ هغه د اظهار قوت لري او د دغه دوو خاصيتونو په اساس هغه تل دا وايي چې:

ګمراهانو ته په مخکښې ائينه ږدم
په کړه کښې هم چې سم يمه کړه دم
قلندر مومند

د ټولنيزو رشتو په حواله او د ټولنيزو ادارو نه د فعاليت په حواله د ټولنې د هر فرد څۀ نه څۀ ذمه وارۍ وي ـ په دغه ذمه وارو کښې شاعر او اديب هم د نورو نه څۀ بيل سړے نۀ وي ـ هغه هم د رشتو په يو جال کښې ګېر وي او د سماجي ادارو په فعاليتونو کښې د نورو وګړيو سره اوږه په اوږه خپل رول لوبوي خو مونږ چې د شاعر او اديب په حېث د هغۀ د ذمه وارو تعين کوو نو سوال دا پېدا کېږي چې ايا په ټولنه کښې داسې کوم اصول ، قوانين يا روايات موجود دي چې د هغې په بنا د شاعر اواديب د ذمه وارو تعين هم کېږي او د هغې مطابق دې د اعلیٰ پايې ادب هم تخليق کېږي ـ

په هره ټولنه کښې بنيادم د هغه د ټولنې د قدرونو په خيال ساتلو او احترام کولو پړ وي ـ د هغې نه غاړه رغړول د ټولنې په قانون کښې جرم وي او د دغه جرم د سزا د پاره د هرې ټولنې خپلې طريقې وي خو د ټولنې د قانون





او ضابطونه غاړه رغړول په دوه ډوله وي ـ يو منفي او بل مثبت ډول ـ يوه ټولنه هم داسې نۀ شي پاتې کېدے چې د هغې اقداري نظام دې په هر څنګه حالاتو کښې يو شان قائم وي او د هر چا او هر وخت د پاره د خېر ښېګړې باعث او د قبوليت او مقبوليت وړ وي ـ د ټولنې په اقدارو بهرني حالات هم اغيزه کوي او له دننه نه هم د هغې رد عمل پېدا کېږي ـ په ننني زمانه کښې بلکې په هره زمانه کښې د بهر نه اثر انداز کېدونکي حالات د مواصلاتي ټېکنالوجۍ يا ذرايعو په سبب وي ـ اوله دننه نه چې کوم سبب پېدا کېږي د هغې سبب دا وي چې تر ډېرې زمانې په يو خاص اقداري نظام عقيده لرل او د هغې دايمي حقيقت ګڼلو سره په ټولنه کښې د جمود کېفيت پېدا شي ، ټولنه د ولاړ تالاب شکل واخلي او د ولاړ تالاب خاصيت دا وي چې د وړوکي غوندې ګيټکي ورغورځېدو سره پکښې پېدا شوې چپې محسوسېږي ـ

د ټولنې په اقداري نظام کښې د خرابو لرې کولو اصلاح کولو او حرکت پېدا کولو ذمه واري چې کوم خلق پوره کوي په تاريخ کښې هغه د نبی ، فلسفي يا مصلح په نوم يادېږي ـ

د اصلاح عمل هم په دوه رنګه وي ـ يو دا چې کومې خرابۍ پېدا شوي وي هغه لرې کړے شي او صحيح



www.pukhto.net

ځيزونه په خپل حالت کښې په ځاے وساتلے شي. د دغه رنګ اصلاح مخه ماضي طرف ته وي او ماضي معيار ګڼلے شي او د اقدارر په دوام او استحکام عقيده لرلے شي. د اصلاح بل عمل انقلابي بڼه لري. د هغې په شا دا فلسفه کار فرما وي چې حالت په يو ځاے ولاړ نهٔ پاتې کېږي. د انسان مادي تصرفات د هغهٔ په خيالاتو کښې هم حرکت او بدلون راولي . د اقدارو تعين او په هغې اعتقاد د هغهٔ د حالاتو مطابق کوي . د دغه اصلاح ارتکاز په حال وي او رخ ئې مستقبل طرف ته وي . د ټولنې د ذکر شويو مخصوصو افرادو تعلق او تړون په دغه دوه رنګونو کښې د يو يا بل سره وي خو شاعر او اديب له دغه خلقو نه جدا وي. هغه د موجود په ځاے د ناموجود او د پېدا په ځاے د ناپېدا سندرې وايي. هغه د خپل دغه خاصيت په وجه په حال نهٔ شي قانع کېدے. هغه ځيزونه بيانوي نه، بلکې تخليق کوي ئې. کهٔ هغه د تخليق په کار کښې کامياب شوے وي او هغه څهٔ ئې تخليق کړي وي کوم چې د هغې نه وړاندې ناموجود وو نو هغه تخليق کښې داثر قوت زيات وي او هم دغه د شاعر ذمه واري وي چې هغه داسې تخليقات وکړي چې داثر قوت پکښې زيات وي. د هغهٔ يو لاس د ټولنې په نبض وي او بل لاس ئې پخپل زړهٔ. خو د هغهٔ کار دا وي





چې د ټولنې د نبض ردم د خپل زړهٔ د ردم سره برابر کړي. شاعر او اديب سره په لاس کښې فني وسائل وي او فن داسې ځيز دے چې د دغه دوه تارونو نه وتي اوازونه په يو ردم کښې منعکس کوي او د شاعر او اديب نه علاوه کهٔ د د غه شعر او ادب لوستونکي پېدا کېږي نو هغه هم په دغه اساس وي هغوي د خپل زړهٔ خبره د شاعر او اديب په زړهٔ کښې محسوسوي او د شاعر او اديب د زړهٔ خبره پخپل زړهٔ کښې محسوسوي.

د شاعر، اديب د پاره د موجود اوصاف بيانول او ستائينې کول د هغهٔ د فن زوال ښکاره کوي. کهٔ ناموجود موجود شي او شاعر پرې قانع او شاکر شي نو بيا د هغهٔ د فن جواز نهٔ پاتې کېږي. د ادب د تقليد نظريه اوس زړه شوې ده. تقليد د تکرار دويم نوم دے او تکرار د وړاندې تګ قاتل وي. کهٔ فن د فطرت نقل وے نو فطرت چې په مکمل حالت کښې يو ځل تخليق شوے دے : د علامه اقبال شعر دے،

*يہ کائنات ابھی ناتمام ہے شايد*
*کہ آرہی ہے دمادم صدائے کن فيکون*

کهٔ فطرت د بار بار تخليق د پاره مخصوص وګڼو نو بيا خو ډېر بې لارې کوونکے شعر دے. د فطرت تخليق نه البته په انساني ذات د هغې انکشافات کېدل جاري وي.

د فطرت د تسخیر عمل کښې په انسان د هغې نوي نوي اړخونه منکشف کېږي . دغه انکشاف کهٔ څهٔ هم هغه هومره خوارهٔ لري څومره چې ئې تخلیق لري خو د منکشف شوي اصول بیا د هر چا د پاره هم هغه شان نتیجې ورکوي څنګه چې ئې ورومبی تجربه کوونکي ته ورکړې وي خو د فن تجربه په یو وخت کښې یو ځل یو کس کوي. هغه تجربه بیا نهٔ کېږي او هم دغه وجه ده چې فني تجربه پوخ او دوامي رنګ لري او په یوه زمانه کښې هم خپل اهمیت نهٔ بائیلي. کهٔ داسې کېدے شوې نو زړې فني تجربې به اوس زمونږ د پاره بېخي ناپکاره وے.

دغه وجه ده چې په هره زمانه کښې داسې فنکاران، شاعران پیدا کېږي چې د کائنات د تکمیل عمل جاري ساتي او د کن فیکون په اواز کښې نوے روح او نوے ژوند اچوي.

افلاطون چې په شاعرانو کوم تور لګولو چې دا د عمل خلق نهٔ دي او صرف د جذباتو خبرې کوي نو چونکې هغهٔ فلسفي وهٔ او مجبور وهٔ چې د خپلې نظریې د جال نه ونهٔ وځي ځکه چې هغه خو فن تقلید ګڼلو . هغه خپلې مفروضې خو صحي ګڼلې چې هېڅ قسمه تجربه ئې ممکنه نهٔ وه خو هغه حقائق چې بنیاد ئې په حسي ادراکاتو وهٔ ورته د اهمیت وړ نهٔ ښکارېدل . افلاطون





فلسفي وهٔ او د فلسفي اصطلاح کهٔ د هغه وخت په یوناني تناظر کښې وځېرو نو دغه اصطلاح کښې د نبي او مصلح دواړو مفهوم پټ وهٔ . د افلاطون په لیکونو کښې چې د سقراط کوم تصویر دے هغه د یو نبي د تصویر نه مختلف بېخي نهٔ دے او دغه شان چې ما وړاندې شاعر د درې واړو هستیو نه بیل ګڼلے وهٔ نو هغه بیلتون به اوس ښهٔ ځرګند شوے وي. کهٔ شاعر کښې د اصلاح صلاحیت موجود وهٔ نو بیا به افلاطون د هغهٔ په باره کښې د تامل نه کار اخستے وهٔ.

د دې بحث نه کهٔ مونږ څهٔ نتیجه راوباسو ، هغه به داوي چې په شاعر او ادیب کهٔ د بهر نه داسې ذمه واری کښېښودهٔ شي چې د شعر او ادب د تخلیق په دوران کښې هغه د دغه ذمه وارو په سر ته رسولو مجبور وي نو دا به د هغهٔ د فني صلاحیتونو مرګ وي. دا بیله خبره ده چې شاعر د خپل ذهني مېلان او طبعي رجحان مطابق په ځان څهٔ پابندی ایښي وي خو زما په خیال دغه به د تخلیقي عمل نه بیلې پابندی نه وي. د هغهٔ د انفرادیت مرستوونکې به وي. په انفرادیت زور راوړولو مطلب دا نهٔ دے چې ګني دا دې د اجتماعیت ضد ثابت شي ، کهٔ اجتماعیت نه مطلب دا اخستے شي چې د انفرادیت د ځلونې مخه دې ونیوے شي نو دغه اجتماعیت د ځناورو



www.pukhto.net

په ژوند کښې ممکن دے. د فن تهذیب او ترقۍ مدار په انفرادي صلاحیت دے.

دلته زهٔ یو وضاحت کول غواړم هغه دا چې شاعر او ادیب د څهٔ مروجو فني اصولو او پابندو په خیال ساتلو مجبور ښکاري نو دا زهٔ داسې گڼم لکه انسان چې د یو قسمه حیاتیاتي اصولو او عمل پېداوار دے خو بیا هم هر انسان د بل نه په جسماني لحاظ چې په فن کښې ورته اسلوب وایي او په ذهني لحاظ هم چې په فن کښې ورته ما فیه وایي بیل او منفرد وي. شاعر او ادیب د جاري اصولو او تکنیکونو پابندي تر هغې کوي چې د هغهٔ د تخلیقي اظهار موافق وي کهٔ د هغهٔ تجربه په جاري او موجودو چوکاټونو کښې ممکنه نهٔ وي یا گرانه وي نو بیا هغه دغه چوکاټونه ماتوي او نوي نوي چوکاټونه مینځ ته راوړي. په فني دنیا کښې د موضوعاتي او اسلوبیاتي انفرادیتونو تاریخ ډېر زوړ او ډېر اوږد دے.

شاعر او ادیب په دوو دنیاګانو کښې اوسېږي. یوه د هغهٔ د داخل یا د هغهٔ د ذات دنیا وي او بله خارجي دنیا چې ټولنه او کائنات دواړه پکښې شامل دي، شاعر او ادیب د ذات او کائنات د تصادم سره مخ وي یا چې چرته تصادم پېدا کېږي هلته د شاعر په احساساتو کښې ارتعاش پېدا کېږي. دغه ارتعاش ته چې هغه د لفظونو





قالب ورکوي نو پخپله خو قلار شي خو د هغهٔ کلام چې څوک لولي یا اوري نو د هغوي په جذباتو کښې هم ارتعاش پېدا شي او دغه شان په چم شوي معاشره کښې د حرکت سبب شي.

د دې ځائے نه په ادب کښې دمقصدیت توکے هم شامل شي. دا خبره منلې شوې ده چې ادب په یوه زمانه کښې هم د مقصدیت لمن نهٔ پرېږدي بلکې د ادب تاثیري اړخ هم د مقصدیت سره تړلے دے. شاعر او ادیب په حېثیت د ټولنې د یو فر د عامو افرادو نه بېخي بیل نهٔ وي خو په حېثیت د یو تخلیق کار د هغهٔ ذمه واري بېخي جدا دي.

شاعر هم څهٔ پېغام لري خو دغه پېغام نېغ په نېغه نهٔ وي بلکې د تخیل په رنگ کښې رنگ وي. شاعر ادیب تخلیقي اظهار صرف د خپل ځان د پاره نهٔ کوي بلکې هغه د خپل نفس نه رابهر شوې نغمه په افاقو خورول غواړي او دا ئې هم ارمان وي چې د هغهٔ اظهار ابدي ژوند هم وگټي. دغه وجه ده چې هغه حکمونه نهٔ چلوي بلکې یو ذوق پېدا کوي او چې یو ځلې دغه ذوق پېدا شي نو بیا د شاعر د پېغام نه اثر اخستل اسان هم شي او عام هم. شاعر او ادیب د ویرې کېفیت نهٔ پېدا کوي بلکې د رحم، ترس، درد او مینې جذبات پېدا کوي، د مینې او خلوص درس ورکوي، د منافقت، ریاکارۍ، تصنع او



www.pukhto.net

فرېب غندنه کوي خو د دې هر څۀ باوجود ځینې وخت د شاعر ادیب تخلیقات مصنوعي او هنګامي شي.دا کله ؟ دا هغه وخت چې کله شاعر د هدایاتو تابع شي یا هدایات ورکول شروع کړي . د سیاسي جلسو د پاره د سیاسي پارټۍ د منشور مطابق په خاصو وختونو کښې د ابلاغ د ذریعو د پاره په قصد او اراده لیکلے شوے کلام چې د خاصو او مخصوصو مقصدونو تابع وي . دغه مقاصد ځینې وخت دومره اهم وي چې د ترلاسه کولو دپاره ئې شاعر او ادیب د خپل دوامي ژوند قرباني ورکړي . دغه قرباني پخپله یو ډېر لوے مقام لري خو په داسې حالاتو یا وختونو کښې لیکلے شوے کلام اکثر د نورو وختونو د پاره خپل حرارت په ځاے نۀ شي ساتلے ، کۀ څۀ هم تاریخ هر څۀ محفوظوي خو د فن د پاره صرف د تاریخي تحفظ ضرورت نۀ وي کۀ د یوې فن پارې لوستنه په راتلونکي وخت کښې صرف په تاریخي نقطه نظر کېږي او لکه د خپلې زمانې د هغه زمانې د پاره د ژوند حرارت نۀلري نو د دې مثال بیا د حنوط شوي لاش وي.

کله چې ژوند ساده وۀ ، په بې شماره اکایو کښې وېشلے شوے نۀ وۀ نو یو کلي روح پکښې کارفرما وۀ ، جذبات او احساسات ساده وو . د ادبي اظهار طریقې او پېرایې ساده وي ، ادبي اصناف لږ وو او د ژوند د اظهار د پاره





کافي وو . د شاعر او ادیب اهمیت ډېر ښکاره وۀ او هر چا منلو خو کله چې ژوند وپېچلے شۀ په دائرو کښې وو ېشلے شۀ ، انسان په تخصیصاتو کښې وګنډلے شه او هرې تخصیصي دائرې د یوې ځان له دنیا او ځان له کلچر شکل ونیوۀ نو د شاعر او ادیب حیثیت او اهمیت هم تقسیم شۀ. هر صنف د ژوند جزوي اظهار او ترجمانۍ ته وقف شۀ خو کۀ په جزوي توګه هم وي شاعر او ادیب د خپل عصر نه بیلېدے نۀ شي او د نن شاعر ادیب هم د خپل عصر سره کلك تړلے دے البته د اظهار طرزونو او اسلوبونو کښې تنوع، رنګارنګي او پېچیدګي راغلې ده، سادګي له ژونده هم تلې ده او له ادبه هم خو بیا هم د شاعر او ادیب دا ذمه واري پخپل ځاے موجوده ده چې د تجربې او اسلوب نوي والي سره د ادب د وجود نزاکت هم په خیال کښې ساتل پکار دي.

د نوو ابلاغي ذریعو سره د زمکې تناوونه رالنډ شوي دي ، کۀ د دې یوه فائده دا ده چې د دنیا د یو سر او بل سر انسانان یو بل ته رانزدې شوي دي نو ورسره د نقصاناتو ویره هم زیاته شوې ده . دغه ابلاغي وسائل چې د کومو قامونو په لاس کښې دي ، هغوي د تبلیغاتي ادب په ذریعه په منفي انداز کښې په نورو ادبونو اثر انداز کېږي، یو کلچر لګیا دے په نورو کلچرونو یلغارونه



www.pukhto.net

كوي او د بې وسيلو كلچرونو په تالا ترغه كولو پسې
شوے دے او داسې بنيادي ادب كم او تبليغاتي ادب او
امدادي ادب زيات ايجادېږي. د فطري ذوق او تربيت په
ځاے مصنوعي ذوق پيدا كېږي او كوم ادب چې تخليق
كېږي په هغې كښې ادب كم او سياست زيات وي ،
كومې ژبې چې حكمرانې دي هغوي د محكومو ژبو بقا
ته خطره پېښه كړې ده.

په مثال كښې مونږ خپله پښتو ژبه او پښتون كلچر پېش
كولے شو. پښتو او پښتون د زمكې په يوه اسې ټوټه
كښې اباد دي چې په هره زمانه كښې د بهرنو يرغل ګرانو
په زد كښې راغلې ده. پښتو ادب كښې د دغه
مخصوصو حالاتو په اثر كښې په هره زمانه كښې د
مزاحمتي ادب سره غالب پاتې شوي دي خو دغه
مزاحمت د فطري قوتونو او يرغلونو په ځاے د انساني
قوتونو په ضد شوے دے چې په نتيجه كښې ئې زياتره
تبليغياتي ادب مينځ ته راغلے دے.

د شاعر، اديب د وطن دوستۍ او وطن پرستۍ جذبه
فطري وي. دا جذبه د هغهٔ په روح كښې اغړلے شوے وي.
دغه روح د بهر نه مسلط شوو چوكاټونو نه ازادي او فني
مصلحتونو هېڅ اثر پرې نهٔ وي ، شاعر اديب د يو تهذيب
نمائنده او ترجمان وي او د دغه تهذيب د روح او مغز نه د



ادب او تنقيد — فيض الوهاب فيض

هر چا نه زيات خبر وي. كهٔ چرې يوه فن پاره د خپلې
خاورې د خوشبو نه خالي او د خپل چاپېرچل د رنګونو نه
عاري وي نو په هغې افاقيت چرې هم نهٔ شي تر لاسه
كېدے ، كهٔ مونږ د يو تالاب تشبيه يو ځل بيا استعمال
كړو نو د فن مثال د تالاب دے ، په تالاب كښې د چپو
پيدا كېدو عمل د مينځ نه غاړو طرف ته وي ، كهٔ مينځ
مونږ وطن وګڼو نو غاړې ئې افاقيت دے. افاق وايې هم
لمنو ته او د مينځ نه غاړو ته د چپو خورېدو عمل بېخي
فطري دے.

د شاعر او اديب ذمه وارۍ د هغه د تخليقاتو نه بهر نهٔ
شي متعين كېدے ځكه ما زيات بحث په هم دغه تناظر
كښې وكړهٔ. او زما په خيال د دغه تناظر نه بهر كهٔ څهٔ ذمه
وارۍ وي نو سماجي او سياسي كېدے شي خو فني ذمه
وارۍ نهٔ شي كېدے.

***



www.pukhto.net

# جدید پښتو نظم

د ادب دوه غټې برخې دي چې یوې ته نثر وایي او بلې ته نظم. د نثر لغوي معنیٰ کۀ څۀ هم خورول ،شیندل او تس نس کول دي خو په اصطلاح کښې نثر د ژبې هغه انداز ته وایي چې لفظونه پکښې په یو خاص ترتیب کښې راځي چې بنیادي اکایي ئې جمله ده او جمله د خپلو ټولو قسمونو سره د مضمون په بیانولو کښې خپل ربط، تړون او تسلسل په ځاے ساتي او د ترتیب خپل ښائست لري. د دې په مقابله کښې نظم کۀ څۀ هم د ملغلرو پئیلو ته وایي خو په اصطلاح کښې د اظهار یا د لیك هغه انداز ته وایي چې د لفظونو ترتیب پکښې د وزن تابع وي. د نثر د جملې په مقابله کښې د نطم بنیادي اکایي مصرعه ده او حال دا دے چې د جملې په مقابله کښې په مصرعه کښې لفظونه زیات خوارۀ وارۀ او تس نس وي ځکه چې ترتیب خو دې ته وایي چې هر څیز په خپل ټاکلي شوي ځاے راشي او دغه پابندي د نثر په جمله کښې د نظم د مصرعې په نسبت زیاته وي ځکه نو نثر او نظم دوه داسې لفظونه دي چې په اصطلاحي معنیو کښې استعمال ئې د خپل خپل لغوي حېثیت په ضد ځي ځکه نو په نثر او نظم کښې به مونږ فرق داسې کوو چې د نثر په جمله کښې





لفظونه د فاعل، مفعول او فعل په نوم د مخصوص ساختیاتي قانون تابع وي او د نظم په مصرعه کښې لفظونه د وزن تابع وي او کله چې په مصرعه کښې لفظونه د جملې په ترتیب کښې راشي او د وزن مطابق هم وي نو دې ته د شاعرۍ د فن په اصطلاح کښې سادګي وایي او سادګي د شاعرۍ د لویو صفتونو نه یو صفت دے. د نثر خپل صنفونه وي او د نظم خپل. په نظم کښې بیا څۀ صنفونه موضوعاتي وي لکه حمد، نعت، منقبت، مرثیه او څۀ پکښې هېئتي دي لکه قصیده، غزل، مثنوي، رباعي، قطعه،مخمس، مسدس، ترکیب بند، ترجیع بند، مستزاد او داسې نور. هر کله چې دا وخت زما موضوع په نظم خبره کول دي نو زۀ هم دا د نظم بیان مخ په وړاندې بوځم. نظم کۀ یو طرف ته د مجموعي شاعرۍ د پاره استعمالېږي نو بل طرف ته بیا دا د شاعرۍ د یو جدید او ځانګړي صنف په حېث هم خپل وجود لري. د وړاندې ذکر شویو صنفونو نه علاوه پښتو شاعرۍ کښې خپل ذاتي صنفونه هم شته لکه ټپه، چاربېته، لوبه، نیمکۍ، بګتۍ، ناره، کاکړۍ غاړه، کسر او بدله ، له دغو علاوه نور جدید صنفونه هم پکښې موجود دي لکه پابند ازاد نظم، معریٰ نظم، ازاد نظم، نثري نظم، سانېټ، هائیکو او داسې نور. وړاندې



www.pukhto.net

چې ما د موضوعاتي او هيئتي صنفونو کومه خبره وکړه نو د هغې په ترڅ کښې دا وئيل هم ضروري ګڼم چې د کومو صنفونو تعلق د موضوع سره دے نو دغه موضوع د نظم په هر هيئت کښې بيانيږے شي . د مثال په توګه نعت چې د پاك پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم په ستائينه کښې ليکلے نظم دے ،، د ټپې نه راواخله تر هائيکو پورې په هر هيئت کښې ليکلے کيدے شي او ليکلے شوے هم دے . دغه شان نظم د خپل ځانګړي حيثيت مطابق يو موضوعاتي صنف دے او د ټولو قديمي هيئتونو چې ژبه د اظهار د توان سره سره ئې شاعران په نوو نوو هيئتونو خپلولو هم مجبور کړي دي ځکه چې نظم يو جديد شاعرانه صنف دے او ټول دار مدار ئې په موضوع او مضمون دے ،کۀ څۀ هم د پښتو په زړه شاعرئ کښې د موضوع او چرت د تسلسل په حواله د نظم نمونې په لاس راځي او بيا په خصوصيت سره هغه هيئتونه چې پيژندګلو ئې د مصرعو د شمير په بنياد کيږي ، د نظم په معنیٰ کښې اخستے شي لکه مثلث،مربع، مخمس، مسدس او داسې نور خو په زړه شاعرئ کښې دغه هيئتونه به ځان له صفنونه ګڼلي شوي دي او وروستو کۀ جديد نظم د نوو هيئتونو سره سره دغه ټول زاړۀ هيئتونه هم خپل کړي دي او د اظهار د پاره





ئې پکار راوستي دي خو بيا هم د قديم او جديد نظم فرق په خپل ځائے موجود دے ؛ زما په خيال دغه بنيادي فرق دا دے چې په زړو نظمونو کښې موضوع د يو محور نه چاپېره چورلي او هيئت په موضوع مقدم وي خو په نوي نظم کښې موضوع په روان، بهاند او څپاند حالت کښې وي چې د يوې خاص نکتې نه شروع کيږي او د مختلفو پړاوونو نه په تيريدو په يو خاص مقام سر ته رسي او په جديد نظم کښې انجام ډير اهميت لري . د نظم دغه حالت به د مختصر نه مختصر او د اوږد نه اوږد دواړه قسمه نظمونو کښې وي . په موضوع او معنیٰ د زور راوړو په وجه نظم د زړو هيئتونو پابند پاتې نۀ شۀ او د هيئتي بدلون او ارتقا په لار د معریٰ نه ازاد او د ازاد نه د نثري نظم تر مقامه ئې خپل سفر رارسولے دے .

د جديد نظم تعريف دا دے چې يو مضمون، خيال، تاثر يا جذبه په داسې انداز کښې پيش کړے شي چې د نظم هره مصرعه دغه مضمون ، خيال، تاثر او جذبه مخ په وړاندې بوځي . د عروج نقطې ته ئې ورسوي او په يوه زورداره او اثر ناکه توګه ئې د انجام سره مخ کړي .

پښتو کښې جديد نظم د شلمې صدئ د شروع کيدو سره خپل سفر شروع کوي . د دغه صدئ وروميې درې لسيزې د جديد نظم د تخم زرغونولو او سمسورولو د پاره فضا



www.pukhto.net

جوړوي. په دغه درېو لسيزو كښې په پښتونخوا كښې د پېرنګي سامراج په ضد د قامي ازادۍ او خپلواكۍ او تعليم او اصلاح تحريك سر ښېلوي. د ترنګزو حاجي صېب او باچا خان د دغه تحريك سرخېلان دي. دوي د قام د تعليم، اصلاح او بېدارۍ د پاره د ادب او خصوصاً د شاعرۍ د استعمال د اهميت نه خبر وو ځكه نو هغوي شاعران اديبان د ځان سره كړل او دغه قامي پاڅون ئې د بڅري نه اور كړۀ. په دغه وخت كښې د هيئت په ځاے زور په مضمون او موضوع وۀ نو ځكه زاړۀ هيئتونه په ځاے ټينګ پاتې نۀ شو او ورو ورو ئې يوه يوه پښتي له مينځه وړله او اخر دا چې د جديد نظم كړۀ وړۀ بېخي ښكاره او ځلانده شول. د جديد نظم وړومبي شاعر فضل محمود مخفي وۀ او دۀ سره څنګ په څنګ سيد راحت زاخيلي په نوې بڼه د شعر ليكلو هڅې كولې. دوي پسې جُخت محمد اسلم خان كمالي، فضل اكبر بې نوم، محمد اكبر خادم، عبدالمنان منان، ميا ازاد ګل، عبدالمالك فدا، عبدالخالق خليق، عبدالاكبر خان اكبر، سمندر خان سمندر، صاحبزاده ادريس، فضل رحيم ساقي، شېرمحمد مېنوش، مير رحمان غازي او امير حمزه خان شينواري هغه شاعران دي چې د نولس سوه لس نه وړاندې زېږيدلي او د نولس سوه دېرش نه وړاندې ئې





شاعري كوله. په دغه شاعرانو كښې په اكثرو د الطاف حسېن حالي، محمد حسېن ازاد، مولانا ظفرعلي خان او علامه اقبال د شاعرۍ ژور اثرات وو.

هر كله چې په جديد نظم كښې زور په موضوع وۀ نو زما په خيال د دغه دور د ټولو نه بهترين موضوعاتي نظم سمندر بابا د ايلم څوكه دے او دا د هغه تحريك د سلسلې يوه بهترينه كړۍ وه د كومې بنياد چې د اردو شاعر محمد حسېن ازاد د كرنل هالرائيډ په مرسته د انجمن پنجاب په نوم اتلس سوه څلور اويا كښې ايښے وۀ. دغه انجمن په وړومبي ځل د مشاعرو د پاره د طرحي مصرعې په ځاے موضوع د شاعرانو په وړاندې كښېښوده. په دغه تسلسل كښې د سمندر بابا د ايلم څوكه هم تخليق شوے دے چې په اسلاميه كالج پېښور كښې د قدرتي منظر په موضوع جوړه شوې يو انعامي مشاعره كښې اورولے شوے او د وړومبي انعام حقدار ګرځولے شوے وۀ. دغه نظم بيا وروستو په وړومبي ځل په كال نولس سوه اووۀ دېرش كښې چاپ شۀ. د سمندر بابا د دغه نظم په تحريك بيا ډېرو شاعرانو ډېر ښۀ ښۀ نظمونه وليكل چې د حمزه بابا جونګړه او د اجمل خټك د غرۀ چينه پكښې نمائينده نظمونه دي. كۀ مخفي صيب دمقصدي او انقلابي شاعرۍ سرخېل دے نو سمندر بابا



www.pukhto.net

د روماني شاعرۍ سرخېل دے او دغه دواړه تحریکونه چې مخ په وړاندې تلي دي نو په نظم کښې د نوو نوو تجربو او رجحاناتو د پاره ئې ښه لویه لاره جوړه کړې ده.
د جدید نظم په دوېم کول کښې بیا هغه شاعران مینځ ته راغلي دي چې نهٔ صرف د خپل ادب د روایاتو نه خبر وو بلکې د مغربي ادب د نېغ په نېغه مطالعې امتیاز ئې هم لرلو. په دغه شاعرانو کښې چې د نولس سوه لس نه تر نولس سوه دېرش پورې کلونو کښې پېدا شوي وو. څو اهم نومونه د غني خان، میا سید رسول رسا، دوست محمد خان کامل مومند، فضل حق شېدا،عبدالله جان اسیر، لطیف وهمي،اجمل خټک، ولي محمد طوفان، قمر راهي، قلندر مومند، همېش خلیل، مراد شینواري، میر مهدي شاه مهدي، عبدالغفران بېکس، اشرف مفتون، ایوب صابر، ربنواز مائل، یونس خلیل، محمد دین مقید، اضغر لالا، شېرعلي باچا، ډاکټر امین الحق امین او پرېشان خټک دي. دا ټول د پښتو جدید ادب په حواله ډېر اهم نومونه دي. په دوي کښې اکثر جدید تعلیم یافته دي او د عالمي ادب او نظریاتو نه خبر دي. دوي د خپلې دغه خبرتیا په اساس پښتو نظم د نوو تجربو سره اشنا کړهٔ. د دوي سره په پښتو نظم کښې قامیت او رومانیت سره د ترقي پسندانه خیالاتو هم د اظهار لاره وموندله او





د نظم د موضوعاتو ګڼې ډېره ارته بېرته او خوره وره شوه. د دغه ذکر شوو اکثرو شاعرانو اکثر نظمونه مونږ د دنیا د هرې ژبې جدیدو نظمونو سره څنګ په څنګ کښېښودے شو. د موضوع سره سره دغه شاعرانو د نظم په هېئت کښې هم په لویه پېمانه تجربې وکړې.
د کال نولس سوه دېرش نه په پس او نولس سوه پنځوس نه مخکښې زېږېدونکیو شاعرانو کښې د نظم په حواله اهم نومونه عبدالرحیم مجذوب، پیرګوهر، محمدنواز طائر، عاصي اشنغرے، هاشم بابر، غازي سیال، سلیم راز، سعید ګوهر، رحمت شاه سائل، محمد اعظم اعظم، عبدالواحد قلندر، سید ن م باچا، سعدالله جان برق ، ډاکټر دروېش، محمد اقبال اقبال او امین الله دي.
په دغو شاعرانو کښې د اکثرو نظمونه د جذباتو د شدت سره د فکر ژورتیا هم لري او بېخي جدیدو حسیاتو ته هم د اظهار ژبه ورکوي او پښتو جدید نظم د نوو نوو اسلوبونو سره اشنا کوي. دا هغه شاعران دي چې عمرونه ئې د شپېتو نه اوړېدلي او دوي پسې لګېدلے هغه کول دے چې د پښتو جدید نظم مستقبل ورته حواله دے. په دوي کښې څهٔ شاعران داسې دي چې د نظم په حواله ئې اهمیت منلے شوے دے لکه درویش درانے، نورالبشر نوید،عنایت الله ضیا، سهېل جعفر، سهېل خټک، افضل



www.pukhto.net

شوق، پیرمحمدکاروان، سلمیٰ شاهین، صاحب شاه صابر، محمد زبېر حسرت، عبدالروف عارف، رياض تسنیم،روښان یوسفزے، حسینه ګل، محمدسعیدسیعد، محمود ایاز، حسېن احمد صادق، اسماعیل ګوهر، نورالاسلام سنګر او نور ډېر زلمي شاعران ځکه چې دا فهرست ډېر اوږد دے او د ټولو نظم ګو زلمیو شاعرانو نومونه دلته لیکل ګران دي ، د بېخي جدید دور سره تعلق لري او د جدید نظم ګڼ امکانات ورته پرانستي غېږ ولاړ دي. نن چې په ټوله نړۍ کښې د تهذیبونو تر مینځه د جنګ کوم تصور او صورت پېدا شوے دے ، د ګلوبلائزېشن په نوم لویو تهذیبونو وړو تهذیبونو ته خلې وازې نیولې دي . د انفارمشن ټېکنالوجۍ د رواج په وجه د دنیا د یو ګوټ مسئله د ټولې نړۍ مسئله جوړېدے شي او بیا په تېره تېره پښتو او پښتانهٔ چې د کوم جنجال سره مخ دي ، د جهالت ، ترهه ګرۍ، فرقه واریت، مذهبي انتهاپسندۍ، د ښکاره او پټو ستحصالي قوتونو د پښتنو په خاوره د ګرېټ ګېم کوم عملیات چې روان دي، پښتون شاعر او ادیب خصوصاً د نظم د نوي کول شاعرانو ته دغه ټول موضوعات په داسې طریقه نظم کول دي چې د فن لمن هم د لاس نه خلاصه نهٔ شي او د مدعا اظهار هم وشي.





د پښتو نظم په حواله دا مختصر مضمون د یوې تذکرې نه سېوا حېثیت نهٔ لري. دا ډېره لویه او خوره موضوع ده او د یوې تحقیقي مقالې متقاضي ده ځکه نو زهٔ د دې مضمون په تشنګۍ بخښنه غواړم.

***

11مه فروري 2008ء



www.pukhto.net

# د پښتو غزل روایت

د پښتو غزل روایت په حقله د څۀ لیکلو نه وړاندې غواړم چې د روایت پېژندګلو وکړم او اهمیت ئې په ګُته کړم.
په لنډو ټکو کښې کۀ زۀ د روایت تعریف کوم نو هغه به دا وي چې د ماضي شعور او د هغې په ربط کښې د حال کړۀ وړۀ څرګندول او نوو تجربو ته لاره هوارول روایت دے. د وخت د بدلون سره قدرونه هم بدلېږي او ادب د زړو قدرونو د ماتېدو او نوو قدرونو مینځ ته د راتلو په عمل کښې توازن او اعتدال پېدا کوي. د ماضي په باره کښې اګاهي یو څیز دے او د ماضي پرستش بل څیز دے. د ماضي په باره کښې خبریتا د حرکت او عمل دعوت ورکوي او د ماضي پرستش د جمود سبب جوړېږي. کۀ یو قام د خپلې ماضي په حقله مکمل باشعوره وي نو هغه د نویو حالاتو سره مطابقت په اسانه پېدا کولے شي. د ماضي د تجزیې کولو سره صالح او غېر صالح عنصرونه بیلولے او نوي نوي قالبونه خپلولے شي. ماضي پرستي د ترقۍ مخه نیسي ، د هر نوي څیز مخالفت کوي او په جمود کښې عافیتویني خو د دوې په نتیجه کښې د حالاتو په ځائے پاتې کېدل ناممکن وي او شکست ئې مقدر وي ځکه چې د فطرت قانون دا دے





چې صالح به بقا مومي او غېر صالح به د فنا سره مخ کېږي.
د روایت اهمیت دا دے چې دا تجربو ته هر کلے وایي. د ښۀ او بد تر مینځه تمیز پېدا کوي او وړاندے تګ ته زمینه تیاروي ، روایت د انفرادیت نفي نۀ کوي بلکې د انفرادیت د ځلونې د پاره د روایت تناظر ډېر ضروري دے .د یو شاعر د انفرادیت څرګندولو د پاره ضروري ده چې ټوله ماضي په نظر کښې وساتلے شي. د یو شاعر اهمیت هله څرګندېدے شي چې هغه د خپلو اسلافو سره په مقابله او مقائسه کښې ودرولے شي. ټي ایس ایلیټ وایي چې د یو شاعر د مطالعې په دوران کښې کۀ مونږ د تعصب نه ځان وساتو نو محسوسه به کړو چې د هغۀ د شاعرۍ بهترینه برخه به هغه وي چې مرحوم شاعران پکښې د خپل لافانیت سره ځان ښکاره کړي".
مونږ چې یوه ادب پاره په تنقیدي نظر ځیرو نو دا به ګورو چې ادب پاره د خپلو انفرادي خصوصیاتو سره سره د روایت څومره پابنده ده ځکه چې د یوې ادب پارې په تکمیل کښې ګڼ عناصر برخه اخلي او د اسلافو کار او زیار په دې کښې ضرور شامل وي. انسان په نفسیاتي توګه ماضي پرست دے. د ماضي مینه د انسان په لاشعور کښې پرته وي او دے ترې ځان په مکمله توګه نۀ



www.pukhto.net

شي خلاصولے البته نویو رجحاناتو ته د لارې ورکولو د پاره به د شعور استعمال ډېر په احتیاط کول وي - تې ایس ایلیټ وایي چې داسې به نۀ کوي چې چرته ورله باشعوره کېدل پکار دي هلته بې شعوره شي او چرته ورله بې شعوره کېدل پکار وي هلته باشعوره شي۱- مطلب دا شۀ چې هغۀ ته به د شعور او لاشعور حدونه ښۀ معلوم وي-

په هر معاشره کښې د فن او هنر یو نۀ یو روایت خامخا وي ''کۀ چرې په یوه معاشره کښې د یو فن او هنر روایت نۀ وي او هر کله چې دا د فن او هنر د ژوند د بقا او تکمیل د پاره ضروري دے نو د ا د نورو معاشرو نه قرض واخلي او د خپلې معاشرې د نفسي کېفیت یا نبوغ مطابق ئې مخ په وړاندې بوځي''.

د ادب په تاریخ کښې د بیلو بیلو صنفونو مینځ ته راتلل هم د بویو غوښتنو او ضرورتونو تر مخه کېږي - هر کله چې د نوي صورتِ حال د اظهار او ترجمانۍ د پاره زاړۀ قامونو ناکافي شي نو هلته د نویو قالبونو ، هیئتونو او صنفونو مینځ ته راتلل ناګزیر شي - یو قام دغه هیئتونه او صنفونه یا پخپله جوړ کړي یا ئې د نورو قالبونو نه واخلي - هره نوې تجربه چې کولے شي نو شرط به ئې دا وي چې د تجربې ضرورت څۀ دے، د روایت پېروي





څومره کوي او نوي پېوندونه پکښې څومره دي - د راتلونکیو وختونو او نویو نویو ضرورتونو تر مخه کۀ یو خوا خپل هیئتونه او صنفونه مینځ ته راوړلي شوي دي نو بل خوا ئې د نورو ژبو نه هم هیئتونه او صنفونه خپل کړي دي چې په دې کښې د نورو ډېرو صنفونو سره سره یو غزل هم دے -

د پښتو غزل ابتدا هم په داسې حالاتو کښې شوې ده چې پښتانۀ د یو نوي معاشرتي او تمدني صورت حال سره مخ شو - په نهمه او لسمه هجري پېړۍ کښې چې پښتنو د کډوالۍ او کوچیتوب په ځاے په یو مقام د مقیم پاتې کېدو بنا وکړه او یو نوے تمدن ئې تر لاسه کړۀ او د قامي وجود د شیرازه بندۍ فکر ئې شروع کړۀ نو د دۀ سره چې د مخکښې نه مروج کوم هیئتونه وو هغه ناکافي شو- په لسمه هجري پېړۍ کښې چې بایزید روښان خپل روښاني او ملي نهضت شروع کړۀ نو د دغه نهضت ظاهري کړۀ وړۀ صوفیانه او روح ئې قامي وۀ- د دغه صورتِ حال د پاره د ټولو نه موثره فني پېرایه غزل وۀ او د تصوف برائے شعر ګفتن خوب است په مصداق د تصوف د رېزه خیالۍ د پاره شعر د غزل مترادف وګرځېدۀ ځکه چې د غزل مزاج هم داسې وۀ چې د هر قسمه خارجیت او داخلیت د اظهار او ترجمانۍ اهلیت ئې لرلو - دغلته د پښتو شاعرۍ په



www.pukhto.net

روایت کښې د غزل پېوند د وخت غوښتنه وه او روښاني شاعرانو دغه غوښتنه په ډېره ښه طریقه پوره کړه . د پښتو غزل باقاعده ابتدا روښاني شاعرانو وکړه . دا یو بل پسې لګیدلي او د یو عصر په رنګ کښې رنګ شپږ شاعران وو . ملا ارزاني، دلت لواڼے، میرزاخان انصاري، واصل، علی محمد مخلص او کریمداد . د دې شپږو شاعرانو د ژوند محیط څهٔ یوه پېړۍ جوړېږي . دغه شاعرانو ته د ژوند او فن ډېر چېلنجونه مخې ته وو . پښتانهٔ د یو نوي نفسیاتي، سیاسي او معاشرتي فکر سره اشنا کول وو او دغه شاعرانو نهٔ تش دا چې دغه ضرورت ئې پوره کړهٔ بلکې د غزل د فن ډېر امکانات ئې هم تر لاسه کړل . زهٔ د دغه شاعرانو څو منتخب شعرونه دلته راوړم چې د غزل ورومبني پانګي مخې ته روښانه شي : ملا ارزاني:

ارزاني په پښتو ژبه
دهٔ له زړهٔ وکېښ دا شعر
د شب پرك خوښه تیارهٔ ده
ځکه تښتي له افتابه
د فقیر پښتو خبره
لکه سپینه ملغلره





دولت لواڼے:

لکه وو هسې دې ووې
زیات به څهٔ وایې دولته
خوشبوي به ئې تر هر چا پورې ورشي
کهٔ د عود په دود تل سوځي په مجمر کښې
ځاے په ځاے د محبت خبرې کېږي
له دغې سودا خالي نهٔ دے بازار هېڅ

میرزا خان انصاري:

دغه زړهٔ د سرې ځاے دے د کرنې
پرې کري ځنې سموم ځنې دوا
دم په دم له خپله ذاته لرې وځي
په وطن کښې اشنا نهٔ مومي غریبه
خلوتیان دې و بازار و ته خوارهٔ کړل
د حجرې روښنايي وخته و بام ته

واصل:

کهٔ مذهب د عاشقانو جان بازي ده
چې د ځان تر اندوه تېر یم څهٔ به ډار کړم
هر سړے چې د معنیٰ ښهر وطن کا
نرخ ئې واړه ارزانېږي ګران ئې نشته



www.pukhto.net

د ژوندون مايه لرې فکر دې نشته
د مفلس په دود خالي ځي له بازاره

علي محمد مخلص:

د کور موش نشان ځرګند دے کۀ ئې ګورې
چې په توره شپه دې خوښ نۀ درومي نمر ته
هر صورت بې معنیٰ نۀ دے کۀ باور کړې
په هر تن کښې معنیٰ پټه اظهار نشته
د بار دارې ونې ښاخ مات شي له باره
د زوال له باره خلاصه ونه شنډه

کريمداد:

د جهان راحت به نۀ وي بې محنته
غم ښادي ئې له سندرو شي له ويره
کريمداد به له ليدليه ملکه وايي
هر کلام ئې په معنیٰ باندې موزون شۀ
سروې پاتې په خپل ځاے شي له حېرته
محبوبا چې و ګلزار وته حرام کا

روښانيانو چې کوم غزل ليکلے دے او د کوم روايت بنياد ئې اېښے دے د هغې اثر په راتلونکيو عصر ونو کښې تر





جديد عصره پورې قائم او دائم دے. د روښاني غزل نه د پښتو غزل پورې بيل بيل روايتونه سر وهي. هغوي د پښتو غزل په روايت جوړولو کښې خپله ونډه په ښه طريقه سر ته رسولې ده. د غزل فني، هيئتي او موضوعاتي کړۀ وړۀ ئې روښانه کړي دي او يو پلنه لار ئې جوړه کړې ده چې د وروستنيو د پاره ئې په تګ کښې ډېرې اسانۍ پيدا کړي دي. د روښاني غزل په ګڼو خاصيتونو کښې دوه غټ خاصيتونه قامي شعور او تصوف او په تصوف کښې بيا وحدة الوجود دے. د روايت د دغه دوو لويو چينو ساتونکي او په درياب کښې بدلوونکي دوه لوے نومونه خوشحال بابا او رحمان بابا دي. خوشحال بابا د روښاني غزل نه قامي شعور او احساس واخستۀ او رحمان بابا ترې صوفيانه فکر واخستۀ. دغه دواړه شاعرانو پښتو غزل ښۀ صېقل کړۀ او د غزل فني، جمالياتي او اسلوبيايي محيط ئې ښۀ پلن کړۀ چې وروستو پرې نورو شاعرانو کښې چا په يو رنګ کښې چا په بل رنګ کښې او چا په امتزاجي رنګ کښې د پښتو غزل مخ په وړاندې بوتلے دے. د خوشحال او رحمان د فکر فن او اسلوب سېورے دومره ګور دے چې هېڅ يو شاعر ترې بچ نۀ دے پاتې شوے. په کلاسيکي دوره کښې د خوشحال او رحمان نه پس چې



www.pukhto.net

کوم شاعران د فن او هُنر په حواله د ذکر وړ دي او د زوړ غزل روایت ئی تکمیل ته رسولے دے هغه اشرف خان هجري، حمید بابا ، کاظم خان شېدا او علی خان دے او د کلاسیکي دورې دغه دولس شاعران داسې دي چې د پښتو غزل ئې په مجموعي توګه د کلاسیك درجې ته رسولے دے.

د کلاسیکي دورې نه پس یو عبوري دور راځي چې کلاسیکل غزل پکښې زوال موندے دے خو جدید غزل لا راښکاره شوے نهٔ دے. دا عبوري دور د دیارلسمې هجري پېړۍ او د څوارلسمې هجري پېړۍ په وړومبیو درېو عشرو محیط دے . په دغه دور کښې اولسي شاعرا ے خصوصاً چاربېتې ډېر زور موندے دے او غزل ته اولسي شاعرانو رباعي وئیل شروع کړي دي او د پښتو غزل روایت ئې جدید عصر ته رارسولے دے. د جدید دور سرخېل حمزه بابا دے چې د پښتو غزل زوړ دور پرې ختمېږي او نوے دور پرې شروع کېږي. هغه په خپل دې شعر کښې د دغه حقیقت ډېر په ښکلي انداز کښې اظهار کړے دے.

وړم مستقبل ته د ماضي روایات
د نوو نوو ولولو سره ځم





او پښتو غزل چې په دغه پُل راتېر شوے دے نو د څوارلسمې هجري پېړۍ په ائینه کښې د نوو معروضي حالاتو او خیالاتو په انعکاس کښې شاعران رامخ ته شوي دي چې غزل ئې د رنګارنګ امکاناتو د غاړو پولو نه اړولے دے. په دغه هجوم کښې ګڼ نومونه دي چې زهٔ ئې دلته د نومونو اخستو نه ډډه کوم.

***



www.pukhto.net

# پښتو شاعرۍ کښې نعت

نعت د عربۍ ژبې لفظ دے چې لغوي معنیٰ ئې مدحه او ستائینه ده او په اصطلاح کښې هغه نظم ته وایي چې د دوو جهانو د سردار حضرت محمد صلي الله علېه وآله وسلم د ظاهري یعنې خَلقي او باطني یعنې خُلقي صفاتو ذکر او بیان پکښې شوے وي او د عشقِ رسول د پاکیزه جذباتو روح پکښې سرایت شوے وي۔

د نعت ابتدا ښکاره ده چې د عربۍ شاعرۍ نه شوې ده او په عربۍ کښې هم لکه د نورو ګڼو صنفونو دا هم د قصیدې له نسه زېږېدلے دے۔ د جاهلیت په زمانه کښې هم او د اسلام په ابتدايي زمانه کښې هم عربو سره د خپل قامي او اجتماعي ژوند د ترجمانۍ د پاره په زړهٔ پورې صنف قصیده وه چې د هغوي د ژوند د جلال او جمال ګڼ رنګونه پکښې منعکس وو خو د وخت د نوو غوښتنو سره چې د قصیدې موضوعات د قامي او اجتماعي نه شخصي او انفرادي محیط ته راغونډ شول نو هم د قصیدې په هېئت کښې ګڼو صنفونو رواج ومونده لکه غزل، حمد، نعت، منقبت او مرثیه۔ په دغه صنفونو کښې د ټاکلي شوي عنوان تر مخه زهٔ د نعت خبره مخ په وړاندې بوځم۔





په ابتدا کښې که څهٔ هم د نعت هېئت د قصیدې وهٔ خو هر کله چې دا یو موضوعاتي صنف وهٔ نو هېئت ئې د قصیدې پورې محدود پاتې نهٔ شهٔ او د نیا په ګڼو ژبو کښې په ګڼو هېئتونو کښې نعتونه ولیکلي شول۔ که څهٔ هم په وړومبي وړومبي کښې نعت د خپل لغوي تعریف له مخه د حضور نبی کریم صلی الله علېه وسلم د صفتونو او ستائینو او د عشقِ رسول د اظهار پورې محدود وهٔ خو وروستو په دې کښې ډېر خوارهٔ وارهٔ امکانات راپېدا کړے شو او د عشقِ رسول محیط د ژوند بیلو بیلو اړخونو پورې خور وور کړے شهٔ او د صورتِ رسول سره سره د سیرت رسول د بیان په اړه په نعت کښې ډېر څهٔ ځاے شول۔ هر کله چې د رسول الله صلی الله علېه وسلم مبارك ذات د کلهم انسانیت د پاره کامله نمونه وه او د هغوي په دغه اکملیت د ټولو نه لوے دلیل قران مجید دے۔ د قران مجید ګڼ اٰیاتونه د هغوي په ذاتي او صفاتي فضائلو او محاسنو رڼا اچوي او د هغوي په ضرورت،اهمیت، حېثیت او فضلیت قطعي دلائل وړاندې کوي او د هغوي د ژوند مکمله نقشه وړاندې کوي لکه:

1. لقد کان لکم فی رسول الله اسوه حسنه (سوره احزاب ایت ۲۸)



www.pukhto.net

2. انك لعلیٰ خلقٍ عظیم (سوره ن ایت ۴)
3. ان الله و ملائکته یصلون علی النبی یا ایها الذین امنو صلو علیه و سلمو تسلیما (الاحزاب ۵۶)

د قران مجید په ایتونو کښې د رسول الله صلی الله علېه وسلم د صفاتو بیان د نعت وړومبی بهترینې نمونې دي چې ډېر معجزاتي او جمالیاتي انداز لري.

په پښتو کښې د نعت وړومبی نمونه د اخون درویزه بابا د مشهور ې قصیده بردې ترجمه ده . د دغه قصیدې ترجمه هم د قصیدې په هېئت کښې شوې ده البته په بحر کښې اخون درویزه بابا ځان د ارکانو د مساوات پابند نهٔ دے ساتلے او څهٔ مصرعې ئې لنډې او څهٔ اوږدې دي لکه:

ګوندې ستا د ذي سلم یاران یادېږي
څکه اوښکې دې له وینو ګډې وډې د باران په دود ورېږي
یا د مدینې له رخه باد دے رابلودے
هم په توره تاریکه کښې د نبی د غرهٔ برېښنا راته ځلېږي
سکه د سترګو حال دې څهٔ دے چې په واك کښې نهٔ کښېوځي
هر چې تهٔ ئې دروې له سېلاوونو نه درېږي
هم د زړهٔ حال دې بیا څهٔ دے ، دے چې ستا له حکمه ووت
هر چې تهٔ وایې په هوش شه، ولې دې بې هوشه کېږي





په طبع زاده توګه د پښتو نعت وړومبی نمونه هم د اخوند درویزه د هم عصر ارزاني خوېشکي ده . د ارزاني په کلیات کښې د رسول الله صلی الله علېه وسلم خوب د عنوان لاندې د رباعی په هېئت کښې د حضور(ص) د خپل امت د پاره د بخښنې د دعا یو روایت یا حکایت بیان شوے دے چې په پښتو کښې د نعت د توسیعي موضوع یوه ځانګړې نمونه ده لکه:

یوه شپه رسول اودهٔ شهٔ
جبرائیل پرې ولیدهٔ شهٔ
دا ئې ووې اے حضرته
د امت احوال دې څهٔ شهٔ
بیا جبریل وئیل اے وروره
یو فرمان د حق وګوره
په امت دې ډېر غضب دے
کهٔ اودهٔ بې صورت وینې کړه
د امت له غمه کریخ کړه
کهٔ خوب خوږ دے په تا باندې
اے رسوله تهٔ ئې تریخ کړه

علی محمد مخلص هم د دغه عصر شاعر دے چې د روښاني شاعرانو له ډلې دے . تهٔ هم د رباعی په هېئت



www.pukhto.net

کښې يو اوږد نعت وئيلے دے بلکې کهٔ دا وو ايم چې دا د رباعيانو يوه لړۍ ده چې هره رباعي پوره مضمون لري او بيا دغه ټولې رباعيانې د خپل نفسِ مضمون په حواله يو باطني ربط لري او د نعت ډېرې خورې ورې موضوع احاطه کوي ، دا ټولې يو شپېتهٔ رباعيانې دي چې نمونې ئې څهٔ داسې دي :

زهٔ په دا ښېوه سرور کړم
چې صفت د حق د نور کړم
د حضرت صفت وي فرحه
زهٔ به خپل زړهٔ پرې مسرور کړم
د احمد يا د زړهٔ روښان کړه
نېك او بد پکښې عيان کا
چې افتاب په ملك وخېژي
تاريکي خپسر نهان کا

د مخلص په ديوان کښې د يوې نيمګړے الف نامې په شکل کښې يو بل نعت ثبت دے چې د م نه د ی پورې حرفونه پکښې راغلي دي۔ دا الف نامه د رباعی په فارم کښې ده چې د نعت يوه ځانګړې نمونه ده۔
د روښاني شاعرانو نه چې راتېر شو نو په پښتو کښې په فني لحاظ د يو ډېر بهترين او ښائسته نعت نمونه د





خوشحال بابا په شاعرۍ کښې مومو خوخوشحال بابا هم دغه يو مکمل نعت وئيلے دے خو د فن شاهکار دے دا نعت د قصيدې هېئت لري :

د خدا ے عرفان وشهٔپه عرفان د محمد
پاك دے محمد پاك دے سبحان د محمد
لاس دي لګولي ما خوشحال په دواړه کونه
غم اندوه مې نشته په دامان د محمد

د خوشحال بابا نه پس په پښتو کښې د نعت بله د فن اوهنر په اعجاز معموره نمونه د رحمان بابا نعت دے۔ رحمان بابا هم صرف يو نعت وئيلے دے خو د بيان په ساده انداز کښې د دغه نعت تاثيري ارخ ډېر ژور دے :

کهٔ صورت د محمد نهٔ وے پېدا
پېدا کړے به خدا ے نه وه دا دنيا
زهٔ رحمان د محمد د در خاکروب يم
کهٔ مې خدا ے نهٔ کا له دې دره جدا

په رحمان بابا پسې لګېدلي کول کښې د پښتو روماني شاعرانو علی خان او کاظم خان شېدا هم يو يو نعت وئيلے دے۔ د علی خان نعت د ترجيع بند مثلث په هېئت کښې ليکلے شوے دے :



www.pukhto.net

اے په حق د حق رهبره لاس د رب د پاره راکړه
هم تر کل مخلوقات غوره لاس د رب د پاره راکړه
کم ترین دې د امت یم علی خان کم بضاعت یم
امېدوار د شفاعت یم لاس د رب د پاره راکړه

نازك خیاله شاعر کاظم خان شېدا د مثنوي په هېئت کښې یو نعت وئیلے دے چې د لفظي شان او شوکت، تخیل د علویت او د مضمون د بیان ښکلې نمونه ده:

اے په فرق د ادم تاجه
د تمام عالم سراجه
تهٔ د هر نعمت لائق یې
بې نظیر د خلائق یې
چې نظیر نهٔ لرې څکه
ستا سایه نهٔ وه په زمکه
چې سبب د افلاك تهٔ یې
مخاطب د لولاك تهٔ یې

دکلاسیکي دورې یو بل اهم شاعر حافظ الپوری دوه نعتونه وئیلي دي وړومبے نعت د الف نامې په شکل کښې دے چې ئې د ترکیب بند دے لکه:





الف اول له کائناتو
نور نبی نېك ذات وهٔ
خوش سیرته نېك صفات وهٔ
لکه نور وځلېدهٔ
ب بشره د رسول پاکه
له بزرګۍ ده سهم ناکه
مګس کله پرې وېسا که
رب و دهٔ تهٔ وې لولاکه
هفت زمین اووهٔ افلاکه
ستا په مخ وه جوړېدهٔ

د حافظ الپوری دوېم نعت چې د قصېدې په فارم کښې دے د حافظ صېب په خپل مخصوص اسلوب کښې د غنائیت نه ډك یو ښکلے نعت دے دا نعت څلور شپېتهٔ شعرونه لري:

اے داعي هادي برهانه په دیدار مې مشرف کړه
نوراني بدرِ تابانه په دیدار مې مشرف کړه
زهٔ فقیر حقیر مسکین یم کمینه ترهر کمین یم
دروېزه ګر یم ستا له خوا نه په دیدار مې مشرف کړه



www.pukhto.net

د کلاسیکي دورې نه پس چې د اولسي شاعرۍ کومه دوره راځي په هغې کښې هم د ټپې او چاربېتې په هېئتونو کښې نعتونه وئیلي شوي دي او دغه شان د نعت د هېئتي بوقلمونۍ قافله مخ په وړاندې تلې ده. دا نعتیه ټپې:

مینه د خدائے د رسول ښه ده
دا نورې میني لباسي پاتې به شینه
بنده ناولے پرې پاکېږي
څوك چې سنت د پاك حضرت ادا کوینه
ستا په روضه مې ځان داخل کړهٔ
یا مې حلال کړه یا مې سر کړه حاجتونه
په شرعه ټینګ د پاك حضرت شه
په ورځ د حشر شفاعت به دې کوینه

دغه شان دا نعتیه چاربېته یا د چاربېتې په فارم کښې نعت هم د نعت د هېئتي توسع نمونه ده:

اے حاجي صاحبه! چې تهٔ ځې زما څهٔ کار وکړه
هلته مې ګفتار وکړه ، وایه د روضې سره
ما په لفافه کښې چې بند کړے څهٔ کلام دے
بیا مې په احمد نبی لیکلے نن سلام دے
اېښے مې د زړهٔ د وینو ډك پکښې یو جام دے
اوښکې مې پکښې دي ترې چرکاو په هغه لارو کا





هلته مې ګفتار وکا، وایه د روضې سره
(عبدالواحد ټپکه دار)

د اولسي شاعرۍ سره سره چې دپښتو جدید دور ابتدا کېږي نو اکثرو شاعرانو نعتونه لیکلي دي د موضوعاتو او هېئتونو دومره رنګارنګي پکښې پېدا شوې ده چې په نعت کښې هم لکه د غزل د ژوند کلهم مسائل رانغاړلي شوي دي او د حل د پاره ئې د حضور نبی کریم (ص) د ژوند او تعلیماتو نه د رڼا اخستو او د ترقي پسندانه رجحاناتو سره د تطبیق هڅې شوې دي. هم په دغه دوره کښې د څنو شاعرانو پېژندګلو خو د نعت په حواله مسلمه ده. په جدید نعت کښې درې رجحانات ډېر قوي دي. خالص عشقِ رسول ، د ژوند د مسئلو د حل د پاره د حضور (ص) د ژوند او تعلیماتو نه رڼا اخستل او ورسره د نوو حالاتو تطبیق پېدا کول او په نعت کښې غنائیت او موسیقیت پېدا کول. په دغه درېو واړو حوالو د جدید دور شاعران هم ډېر په اسانه په درېو ډلو کښې وېشلے کېدے شي. د روان عصر پورې چې د شاعرۍ څومره هېئتونه پښتو کښې مروج شوي دي نو د نعت نمونې پکښې په لاس راځي او په نعت کښې د موضوع او فن په حواله د نوو امکاناتو دروازه پورې نهٔ ده.

***



www.pukhto.net

# پښتو کښې منقبت

په هره ژبه کښې د شاعرانه اظهار د پاره مختلف هيئتونه او صنفونه موجود وي او د وخت او حالاتو د بدلون سره د ژوند د نوو نوو تجربو د اظهار د پاره چې کله موجود هيئتونه او صنفونه ناکافي شي نو نوي نوي صنفونه ايجادولے يا د نورو ژبو نه خپلولے شي. پښتو شاعرۍ کښې هم د خپلو ذاتي صنفونو نه علاوه وخت په وخت د نورو ژبو نه مختلف صنفونه راخپل کړي شوي دي چې په دغه صنفونو کښې يو منقبت هم دے . منقبت پښتو ته د عربۍ نه راغلے دے او په عربۍ کښې د منقبت ابتدا د دين اسلام د خورېدو سره شوې ده.

د اسلام نه وړاندې د جاهليت په زمانه کښې او د اسلام د رڼا خورېدو نه پس هم په عربي شاعرۍ کښې د ټولو نه لوے او د موضوعاتو او فن په لحاظ پټ موړ صنف قصيده وه. په قصيده کښې به عربي شاعرانو د خپلو قبيلوي خصوصياتو رواياتو،ملي اتلانو او د ژوند د اقدارو د ستائيلو او بيانولو سره د خپلو قبيلوي جنګونو، د کارنامو، مېلو، سيلونو، ښکارونو او د همه سرګرمو تصويرونه په ډېر بې ساخته او زړۀ راښکونکي انداز کښې راښکل.





وروستو هم د دغه قصيدې نه ګڼ نور اصناف راووېستے شول چې تعلق ئې د موضوع د انفراديت او خصوصيت سره وه. حمد ، نعت، مرثيه، منقبت او غزل داسې اصناف دي چې د قصيدې نه رازېږولي شوي دي. په دغه اساس کۀ قصيدې ته ام الاصناف ووئيلے شي نو بې ځايه به نۀ وي.

دا وخت زۀ دغه نور صنفونه په ځاے پرېږدم او د منقبت په باره کښې خبره تفصيل ته بيا يم.

منقبت هغه نظم دے چې په ابتدا کښې د اهلِ بېتو او آل رسول د تعريف توصيف او ستائينې او هغوي سره د محبت او عقيدت د اظهار دپاره مخصوص وه خو وروستو ئې بيا دائره خوره کړې شوې او د موضوعاتي تنوع په خيال دې کښې د اهلِ بېتو او آل رسول نه علاوه د اصحابه کرامو ، اولياو، صوفيانو او ديني بزرګانو ستائينې او هغوي سره د عقيدت او محبت څرګندونې شاملې کړې شوې. دې سره د منقبت هيئتي پابندي هم ختمه شوه او دا يو خالص موضوعاتي صنف وګرځېده ځکه چې د قصيدې د فارم نه علاوه د مثنوي، غزل او د پابند نظم په مختلفو هيئتونو کښې هم منقبتونه وئيلي شوي دي چې تفصيل به ئې وروستو د پښتو منقبتونو د تذکرې په لړ کښې راشي.



www.pukhto.net

د لفظ منقبت لغوي معنې دي هنر،لويي، ښکلي خصلتونه، ښکلي اخلاق يا بل ښهٔ صفت چې د هغې په وجه يو سړے د نورو نه بيل او ممتاز وي ۱.
د منقبت وړومبی نمونه په قران او احاديثو کښې په لاس راتلے شي.د احاديثو مشهور کتاب صحيح مسلم کښې د حضرت سعد بن ابي وقاص (رض) نه روايت دے چې کله د قران پاك د سوره آل عمران د مباهلې آيتونه نازل شو نو رسول الله (ص) حضرت علی (رض) ، حضرت فاطمه بي بي ، حضرت امام حسن (رض) او حضرت امام حسېن (رض) راوغوښتل ، ځان سره ئې په خپل څادر مبارك کښې پټ کړل او وئې فرمائيل چې دا زما اهلِ بېت دي.د احاديثو په کتابونو کښې ډېر ځايه د اهلِ بېتو او اصحابه کرامو محامد او محاسن بيان شوي دي.په قران مجيد کښې هم ډېر آياتونه د رسول الله(ص) د اصحابو او د الله د دوستانو په ستائينه کښې نازل شوي دي او هم له دغه ځايه اسلامي شاعرانو د خپلو مناقبو د پاره جواز تر لاسه کړے او الهام اخستے دے او د آل رسول خصوصاً او د نورو اصحابو او اولياو عموماً د بزرگی فقرو استغنا ، شهامت او شجاعت، ايثار او قربانی، فضل او کمال، حکمت و دانش او ولايت او معرفت عنوانو نهٔ ئې په خپلو منقبتونو کښې ترلي دي.





د پښتو شاعری باقاعده او متواتر روايت د بايزيد انصاري له روښاني تحريکه شروع کېږي . له روښاني تحريکه وړاندې چې کومه پښتو شاعري په لاس راغلې ده هغه متواتره او روايت جوړوونکې نهٔ ده . روښاني تحريك يو صوفيانه وحده الوجودي تحريك وهٔ چې په نتيجه کښې ئې پښو ادب ته ډېرې علمي ، فکري ، فني او ادبي بخښنې شوي دي.روښاني تصوف د خپل وخت د جديديت علمبردار تصوف وهٔ.د دغه تحريك باني پير روښان ته د پيرکامل درجه حاصله وه د هغهٔ صوفيانه او فلسفيانه فکر له د هغهٔ مريدانو شاعرانو د شعر او فن ژبه ورکوله، هرکله چې پير روښان د خپل وخت لوے روحاني مشر، رهنما او مقتدا وهٔ نو ځکه د هغهٔ مريدانو په خپله شاعری کښې د هغهٔ د دغه حېثيت پوره پوره ستائينه کړې ده او دغه ستائينې پښتو کښې د منقبت وړومبي مثالونه دي البته روښاني شاعرانو په صنفي لحاظ ځان له مناقب نهٔ دي وئيلي او د غزل په شعرونو کښې ئې د خپل پير خوبی ستائيلي دي او هر کله چې منقبت يو موضوعاتي صنف دے او د يو مخصوص هېئت پابند نهٔ دے نو کهٔ د غزل يو شعر هم دې ته موضوعاتي نزدې والے لري نو هغه منقبت ګڼل پکار دي لکه :
ميرزا خان انصاري وايي



www.pukhto.net

د مرزا کلام شیرین شهٔ
د روښان له برکته
د میرزا ګمان فاني شهٔ
هر چې وايي میا روښان دے

دولت لوانړے وايي:

میا روښان صادق هادي کامل رهبر وهٔ
میراثي صادق پېرو د پېغمبر وهٔ
کهٔ پیران په جهان هر څو ډېر دي څهٔ شو
په اسرار د روښان نشته برابر یو

کریمداد وايي:

کریم داد حکمت موندلے
له روښان د دین سقراط

د روښاني تحریك نه پس خوشحال بابا ورومبے شاعر دے چې د منقبت د متفرقو شعرونو نه علاوه ئې باقاعده او ځانګړي مناقب وئیلي دي. د بابا د یو غزل مقطع ده چې:

زهٔ خوشحال خټك په حب د اهلِ بېتو
خارجي او رافضي کړم اخراجي





دغسې خوشحال بابا چې ځان له کوم روغ روغ مناقب وئیلي دي هغه د هغوي د کلیاتو او دیوان د غزلو په برخه کښې راوستي شوي دي چې داسې نهٔ وو پکار ځکه چې دا ځان له صنف دے او خپلې ټولې صنفي تقاضې پوره کوي ځکه نو د دیوان یا کلیات په ترتیب کښې بیل راوستل ئې اصولاً هم صحیح وو او په دغه موضوع د څهٔ لیکلو د پاره به ئې تلاش هم اسان وهٔ.

د خوشحال بابا د باقاعده مناقبو نه د نمونې څو شعرونه دا دي:

چې په سب د ابوبکر د عمر دي
کهٔ په خلهٔ کلیمه لولي هم کافر دي
د هغو په مرګ ثواب ګڼلے بویه
چې بدګویي د ذی النورین او د حیدر دي
زهٔ خوشحال خټك هغه سني مذهب یم
چې یاران راباندې واړه برابر دي

کهٔ پکار دې ده د خدائے پېژندګلي
پېروي د محمد کړه د علی
هر اٰیت چې به راتهٔ پاسه له عرشه
لا په عرش به ئې علی وهٔ متلي
د علی د اٰل په مدحه کښې جنت دے



www.pukhto.net

## د خوشحال ختك په دا ده تسلي

د خوشحال بابا نه پس د هغهٔ ځامنو عبدالقادر خان ختك او ګوهر خان ختك د څلورو يارانو په مدحه کښې شعرونه وئيلي دي۔ عبدالقادر خان ختك وايي :

و صديق ته ئې په وخت د رحلت ووې
نائب يې زما په حکم ازلي
چې انکار کوي دِ تا له خلافته
د هغو په دين کښې پرېوځي ارجلي

د پښتو په اکثر منقبتونو کښې د رسول الله د څلورو يارانو ستائينه په يو ترتيب او تسلسل کښې شوې ده ، علاوه له هغه منقبتونو نه چې د تفضيليت د عقيدې لاندې ليکلي شوي دي۔ ګوهر خان ختك هم د دغه روايت تر مخه په ويوه اوږده قصيده۳ کښې د حمدوثنا او نعتيه شعرونو نه پس د څلورو يارانو ستائينه کړې ده چې د نمونې په طور ترې يو يو شعر وړاندې کوم :

محبت د صديق ډېر په خپل صاحب وهٔ
بهتري ئې په دا هسې لوے اثار شي
دوهم يار د دهٔ عمر چې نور د دين وهٔ
جن او انس ئې ثنا خوان په هر اعصار شي





دريم يار د دهٔ عثمانِ ذوالنورين وهٔ
چې په دا خطاب ئې فخر استمرار شي
څلورم شاهِ مردان دے د دين ستنې
چې زهره ځنې أبه د هر کفار شي

رحمان بابا هم مناقب وئيلي دي او اکثر ئې د رسول الله د څلورو واړو يارانو ستائينه په يو ځاے او يو تسلسل کښې کړې ده ، لکه چې وايي :

صاحبان چې د ارشاد دي مقتدا
چار ياران د پاك رسول دي په رښتيا

بيا د څلورو واړو يارانو د بيلې بيلې ستائينې نه پس د کلهو اصحابو په عمومي ستائينو کښې د يو حاديثِ پاك نه د مفهوم اخستو سره وايي :

اصحاب د پاك رسول وو لکه ستوري
همه واړه د حق لارې رهنما
چې خلاف د دوي له قوله له عمل کا
د هغو خلل په دين کښې شهٔ پېدا

او په مقطع کښې وايي:



www.pukhto.net

ما رحمان دي څلور واړه قبول کړي
دوي زما هم مقتدا دي هم پېشوا

دغه شان رحمان بابا يو داسې منقبت هم وئيلے دے چې د چا مخصوص ممدوح په ستائينه کښې نهٔ دے بلکې يوه عمومي ستائينه ده چې د هر درويش ، ولي او بزرګ عکس پکښې ليدے شي او داسې دا په پښتو کې د موضوع د عموميت په حواله د منقبت يوه ځانګړې نمونه ده.

منقبت دا دے:

کهٔ نظر کا څوك په کار د درويشانو
خود به ووينې وقار د درويشانو
درست ديوان د رحمان ځار تر دا غزل شه
چې بيان ئې کړهٔ کردار د درويشانو

د رحمان بابا د دغه غزل نما منقبت په تاثر کښې نورو شاعرانو هم په دغه انداز کښې مناقب وئيلي دي لکه خواجه محمد بنګش وايي:

زړهٔ راڅخه وړے دے جمال د چشتيانو
سرې سترګې سرې شوندې مجذوب حال د چشتيانو





واړه شاهبازان د لا مکان سېرونه کاندي
هسې رنګه تېز دے پر و بال د چشتيانو
ګوندې مې تر ځايه له پېزاره سره يوسي
زهٔ خواجه محمد خاورې پائمال د چشتيانو

د خواجه محمد دغه غزل نما منقبت د خپل رجز آفرين ردم او بحر لفظي او معنوي محاسنو يو ښکلے امتزاج دے.
د کاظم خان شېدا په ديوان کښې اووهٔ منقبتونه دي چې د مثنوي پ هيئت کښې دي ، وړومبے منقبت د حضرت ابوبکر صديق (رض) دے:

اوس ممدوح زما صديق دے
چې فطرت ئې د تصديق دے

دوېم منقبت د حضرت عمر فاروق (رض) دے:

اوس به کړم د عمر مدحه
تل په چشم و په سر مدحه

درېم منقبت د حضرت عثمان (رض) دے

اوس به مـــدح د عثمان کړم
چې سامع زمکه اسمان کړم



www.pukhto.net

څلورم منقبت د حضرت علی (رض) دے:

اوس په مدحه د علی یم
چې فـدا په دې ولی یم

پينځم منقبت د حضرت بهاوالدين نقشبند دے:

تـهٔ عامـل زما په پند شه
استان بوس د نقشبند شه

شپږم منقبت د شيخ احمد مجدد الف ثاني (رح) دے:

چې سر هند ئې پاك مولد دے
مـجـددِ شيـخ احـمـد دے

اووم منقبت د شيدا د پير و مرشد حضرت غلام معصوم دے:

لکه نمر په جهان سلوم دے
زما پير غلام معصوم دے

د كاظم خان شيدا دغه مناقب د هغه د مخصوص اسلوب،نازك خيالیِ لوړ تخيل ، معنیٰ افرينی لفظي او معنوي علويت او جمالياتي اظهار غوره نمونې دي بلکې کهٔ زهٔ دا ووايم چې په کلاسيك شاعری کښې د ټولو نه





زيات په فني خوبيو اراسته مناقب دي نو بې ځايه به نهٔ وي.

د پښتو مناقبو په لړ کښې د خپل نوعيت کتاب "مناقب فقير جميل بېگ خټك" دے. دغه غونډ کتاب په مناقبو مشتمل دے ، ليکونکے ئې ميا شمس الدين کاکاخېل دے چې د خوشحال بابا د ورور او لوے ولی الله فقير جميل بېگ په مدحه کښې ئې ګڼ شمېر مناقب وئيلي دي . د ټولو مناقبو هيئت ئې د مثنوي دے . په دغه کتاب کښې وړومبے د خدا ے پاك حمد و ثنا ، ورپسې يو نعت او د رسول الله د يوې معجزې بيان دے . د دې نه پس په ترتيب سره يولس مناقب د حضرت ابوبكر صديق (رض) يو منقبت د حضرت (ص) په شفقت کښې او د چهار يارو په همت ، شپږ مناقب د حضرت عمر فاروق ، درې مناقب د حضرت عثمان غنی(رض) يو منقبت د حضرت علی کرم الله وجهه په شان کښې او وويشت مناقب د فقير جميل بېگ په ستائينه کښې دي او هر منقبت کښې د فقير د يو نه يو کرامت واقعه بيان شوې ده . ټول مناقب د يوې سلسلې مربوطې کړی دي . ژبه ئې ساده ده او دمدعا بيان ئې ښه په اسانی ، روانی او تسلسل سره کړے دے . ټول مناقب په اتهٔ سېلابي لنډ بحر کښې دي او د حشو زوايد نهٔ پاك دي.



www.pukhto.net

شاعر د ټولو کراماتو بیان د راوي په استناد کوي او تقریباً هر راوي د فقیر بابا نه په دوه پشته فاصله دے او کۀ د راویانو ثقاهت ومنلے شي نو بیا دغه واقعات او کرامات د استناد درجه تر لاسه کوي. دغه کتاب پښتو اکېډمۍ پېښور چاپ کړے دے.

اخون ګدا چې د رحمان بابا د دور شاعر دے چې په خپل کتاب نافع المسلمین کښې ئې یو منقبت د مثنوي په هیئت کښې د رسول الله د اصحابو په شان کښې وئیلے دے:

صحابه ئې ښائسته لکه ګلونه
د خوبۍ بویونه درومي په ملکونه
مرادونه ئې د نس وو واړه پرېښي
نور کارونه ئې عبث وو واړه پرېښي
دوي په مثل زیړ ګلونه د چمن وو
مشرف د پاك نبی په ښۀ دیدن وو

هم د دغه دور یو بل عالم شاعر مولانا محمد قرېش د شوکنو د میا عمر صاحب په مدحه کښې دمثنوي په شکل کښې یو منقبت وئیلے دے چې ښاغلي پروفېسر ډاکټر محمد حنیف په خپله تحقیقي مقاله حیات و آثار حضرت میا محمد چمکنی کښې د شاعر د قلمی کتاب





نورالبیان نه رانقل کړے دے ، دا منقبت د توشیح په صنعت کښې دی. د شعرونو یا مصرعو د سر د حرفونو نه چې یو خاص نوم راوځي نو داسې صنعت ته صنعتِ توشیح وئیلے شي[3]. د دې منقبت د ټولو شعرونو د سر د حرفونو نه د محمد عمر (رح) نوم راوځي:

م محکم په شریعت وۀ
د نبی په طریقت وۀ
ح حق ګویې وه د هر چا نه
هم بادشاه ته هم ګدا نه
م مدار په دۀ وۀ عام
وۀ ژوندے په دۀ اسلام
د داعی دے د هر چا وه
دین په دۀ باندې رڼا وه

قبنر علی خان چې د دولسمې هجري صدۍ شاعر دے، هم مناقب وئیلی دي ، د هغۀ په نیمګړي چاپ دیوان (مرتبه همېش خلیل) کښې د غزلو په متفرقو شعرونو کښې د اهلِ بېتو او د خپل پیر انور شاه صاحب د ستائینو نه علاوه د غزل په فارم کښې یو روغ منقبت د حضرت علی(رض) په ستائینه کښې درج دے:



www.pukhto.net

زهٔ چې مدحه منقبت د بوتراب کړم
دي باید چې له هر حرف تصنیف کتاب کړم
نهٔ خطا مې تر خلې ووته غلط شوم
په ګرېوان کښې څرنګ پټ نور د افتاب کړم
انور شاه صاحب ارشاد را وته وکړهٔ
زهٔ قنبر علی ثنا د اولولباب کړم

د ټېپې او چاپېتې په فارم کښې هم ډېر مناقب وئیلي شوي دي خو د طوالت له خاطره ئې زهٔ پرېږدم او جدید دور کښې صرف د حمزه بابا په ذکر اکتفا کوم ځکه چې یو خو هغه د جدید دور په سرخېل شاعرانو کښې دے ، بل هغوي د خپل صوفیانه مزاج له مخه باقاعده مناقب هم وئیلي دي۔ د هغوي د نعتونو مجموعه د زړهٔ اواز کښې مناقب هم شته۔ په دغه مجموعه کښې د حضرت عثمان هاروني (رح)، حضرت خواجه معین الدین چشتي (رح)، حضرت غوث اعظم ته خطاب ، حضرت خواجه قطب الدین بختیار (رح) ، حضرت خواجه نظام الدین محبوب الهیٰ ، حضرت سیدعلی ترمذي پیربابا ، حضرت خواجه سائین محمد عظیم، حضرت خواجه سید عبدالستار شاه صاحب بې نوا چشتي نظامي نیازي، قیصیده ستاریه، حضرت خدا دوست او حضرت قاصد بابا شینواري د





وفات تاریخ د عنوانو د لاندې ګڼ مناقب شامل دي چې د عنواناتو او فارمونو د تنوع وړومبے مثال دے۔ چونکې حمزه بابا عملاً صوفي او لوے شاعر وهٔ ځکه نو دغه ټول مناقب ئې د فکر او فن بهترینې نمونې دي او هغه ټول رموز او باریکات ئې پکښې بیان کړي دي کوم چې د تصوف د لارې سره خاص دي۔

د چاپ مناقبو نه علاوه د قلمي نسخو په شکل کښې هم د پښتو اکېډمۍ پېښور او نورو مختلفو کتب خانو کښې د مناقبو مجموعې شته لکه د محمد رېحان مناقب عبدالقادر جېلاني، د رکن الدین بن منیر، مناقب غوث الاعظم، د احمد علی مناقب اولیاء، د مختلفو شاعرانو د مناقبو شریکه مجموعه ، د فیض الله قرېشي مناقب حضرت بابا جي کوټه ، مناقب د میا محمد عمر د څوکنو، د محمد بادشاه کاکاخېل مناقب رحمکار او د شمس الدین کاکاخېل مناقب شېخ رحمکار د پښتو اکېډمۍ په کتب خانه کښې او دغه شان د دادین مناقب شیخ عبدالقادر جېلاني د میا وکیل شاه فقیر خېل په ذاتي کتب خانه کښې شته چې د دغه صنف په شتمنۍ دلیل دے۔

***

27مه جولایي 2002ء



www.pukhto.net

# پښتو شاعرۍ کښې علامت نګاري

د تاریخ په اوږدو کښې د ژبو د ایجاد په حلقه دا خبره خو نهٔ ده ثابته ده چې په څیزونو د نومونو کښېښودو د پاره بنیادم څهٔ کلیه جوړه کړې وه خو دا خبره ثابته ده چې د خط د ایجاد د پاره دهٔ د بیلو بیلو څیزونو د تصویرونو جوړولو کلیه خپله کړې وه او دغه شان د خط ابتدا د تصویر نه شوې ده او دغه د کوټلو څیزونو تصویرونه د یو محدود خیال د اظهار د پاره پکارول ښېخي داسې یو عمل وهٔ چې څنګه ئې نن مونږ د علامت د ایجاد د پاره کوو.

دغه تصویري خط په سر سر کښې ښېخي علامتي اظهار وهٔ. د وخت سره سره تصویرونه ورو ورو مختصر کیدل او تر دې چې د حرفونو شکل ئې ومندهٔ او مفهوم ئې د قطعیت دائرې ته داخل شهٔ نو درجه ئې دغه علامتSYMBOL نه نخښې یعنيSIGN ته راکوزه شوه . علامت او نخښه کښې فرق دا دے چې نخښه کښې مفهوم قطعي او متفق علیه وي خو په علامت کښې دغه قطعیت او اتفاق نهٔ وي . لکه په چارسو یا چوک کښې د سرې باتۍ بلېدو مطلب هر څوك یو شان خلي خو په شعر





کښې د یو علامت هر سړے په یو شان مطلب اخستو مجبوره نهٔ وي لکه

پرېږده چې خړ سېلاب مې یوسي
په لامبوزن جانان به ډېره نازېدمه

په دې کښې د خړ سېلاب او لامبوزن جانان نه مختلف مطلبونه اخستے شي.

د علامت په نوم په مغرب کښې په نولسمه عیسوي صدۍ کښې باقاعده یو ادبي تحریك چلېدلے دے او په عالمي ادب کښې په علامت بحثونه د هم دغه تحریك سره سر ننښلوي خو په ادب خصوصاً په شاعرۍ کښې علامتي اظهار صرف د دغه تحریك سره تړلي خبره نهٔ ده بلکې شاعرانه اظهار په حقیقت کښې دے هم علامتي اظهار خو هر کله چې تنقیدي بحث د تخلیق نه وروستو شروع کېږي او تنقیدي نظریې ، پېرایې، رویې او پیمانې وخت سره سره بدلېږي ځکه چې تنقید په هره زمانه کښې د ادب د تفهیم د پاره خپلې ذریعې او وسیلې پیدا کوي.

د علامت مختصر تعریف چې د بحث وړاندې بوتلو د پاره دلته ضروري دے ، دا دے چې لفظ په مجازي معنیٰ کښې استعمال شي نو دا د علامت دائرې ته ورننوزي او د لفظونو د مجازي استعمال سلسله په ادب



www.pukhto.net

کښې ډېره پخوانۍ خبره ده. په شرقي ادب کښې دغه بحثونه د علم معاني او علم بیان و بدیع د بیلو بیلو څانګو لکه تشبیه، استعاره، کنایه، مجاز مرسل او صنعت تلمیح په نوم خپل اوږد تاریخ لري. دغه شان په مشرق کښې د صوفیانه شاعرۍ کلهمه پنګه علامتي ده.

په دې لړ کښې پروفېسر محمد حسن عسکري لیکي:

مغربي شاعرانو چې د علامت په حقله سوچ کړے دے نو دغه بې د مادي عالم په دائره کښې کړے دے خو په مشرق کښې هر څیز او هر لفظ علامت دے او هر علامت په یو وخت کښې د حقیقت د ټولو درجو سره خپل تړون لرلے شي ځکه نو دیو علامت ګنې معنې وي خو دا علامت اړ یا دونه نۀ جوړېږي ځکه چې د مطلب انحصار په یو غېر شخصي روایت او یو مربوط نظام وي. د دې په خلاف په جدیده مغربي شاعرۍ کښې علامتونه شخصي او ذاتي وي ځکه څنې وخت د ونورو دپاره په دیو پوهېدل ګران شي. دوېم فرق دا دے چې په مشرق کښې د علامتونو ژور تړون د روحاني عالم سره دے. د دې په خلاف په جدیده مغربي شاعرۍ کښې علامتونه د روح نه بلکې د نفس سره تړون لري. (ص ۱۲علامت کے مباحث ، مرتبه اشتیاق احمد بیت الحکمت، لاهور،۲۰۰۵)





په علامت د نور بحث نه وړاندې غواړم چې د لفظ په مجازي بڼه د استعمال په حقله د مشرق د تنقیدي پنګې نه دلته د هغه اصطلاح ګانو مختصر تعریفونه وړاندې کړم چې لفظ دلغت د دائرې نه راوباسي او د مجاز دائرې ته ئې ننباسي.

1) علم معاني: دا د معنیٰ جمع ده ؛ په لغت کښې مقصود او مطلب ته وايي او په اصطلاح کښې هغه ذهني تصویر ته وئیلے شي د کوم تعبیر چې مونږ په لفظونو کښې کوو.

2) علم بیان: دا په لغت کښې څرګندولو ته وايي او په اصطلاح کښې دا هغه علم دے د کوم په ذریعه چې د خپل زړۀ مطلب په مختلفو طریقو څرګندولے شي. دغه ذریعې او طریقې تشبیه، استعاره، کنایه او مجاز مرسل دي.

3) صنعت تلمیح: دا د علم بدیع یو صنعت دے ؛ په دې کښې په شعرکښې څۀ مشهورې واقعې یا کردار ته اشاره کولے شي. دغه اشاره په خپل پس منظرکښې د واقعې پوره تفصیل چې د جدید صورت حال سره د یو شان والي په وجه د نوې تجربې وضاحت ترې کېږي.



www.pukhto.net

د دغه پورته علمونو په رڼا كښې د يو مفهوم ادا كولو د پاره لفظ د خپلو لغوي تعلقاتو او متعلقاتو نه ما سېوا استعمالول په مشرقي شاعرئ كښې خپل پوخ روايت لري او د هغې په تسلسل او تعلق كښې پښتو شاعرئ هم د علامتونو او اشارتونو ښه درنه پنگه لري چې وروستو به ئې مثالونه وړاندې كړے شي خو لكه څنگه وړاندې ذكر وشهٔ چې په مغرب كښې دعلامتي شاعرئ باقاعده تحريك په نولسمه عيسوي صدئ كښې چلېدلے دے چې ابتدا ئې ايډگر ايلن پو او بودلئير كړې ده چې بيا دغه تحريك مېلارمے، ورلېن او والېري اتنها ته ورسوهٔ او د شلمې صدئ اهمو شاعرانو ازراپاونډ ، ډبليو بي ييټس او ټي ايس ايليټ په نظم كښې او جېمس جوائس او مارسل پروست په ناول كښې علامتي تجربې وكړې او نوم ئې پېدا كړهٔ

د علامتي تحريك سره تړلي شاعرانو د خيال په ځاے لفظونو ته اهميت وركولو ـ په شاعرئ كښې ئې لفظونه د ذريعې په طور نه بلكې د مقصد په طور استعمالول او د لفظ نه ئې هغه كار اخستهٔ كوم چې موسيقار د موسيقئ د سُرونو نه اخلي لكه د مشهور علامتي شاعر مېلارمے نه يو مصور دوست چې كله كله به ئې شاعري هم كوله ،





تپوس وكړهٔ چې ذهن مې د خيالاتو نه ډك دے خو بيا هم شعر ونهٔ ليكلے شم ، مېلارمے جواب وركړهٔ چې "شاعري د خيالاتو په ذريعه نه بلكې د الفاظو په ذريعه كولے شي" ـ يو بل علامتي شاعر او نقاد پال والېري ليكي چې شاعري د گډا په مثال ده چې په خپل ذات كښې په خپله غايت او مقصد دے او هېڅ خارجي مقصد ئې نشته بلكې يو كېفيت پېدا كول د دې مقصد دے او شعر او گډا دخپل اختتام نه پس هم غائبېږي نه ـ

د علامتي شاعرانو ټول زور د هېئت په تخليق وهٔ او لفظونه ئې د خيالاتو د غلامئ نه ازادول غوښتل لكه د يو فلسفي ډېكارټ د دې قول چې "زهٔ سوچ كوم ځكه زهٔ موجود يم" په جواب كښې مېلارمے دا ووې چې "دا د ژبې فېضان دے چې زهٔ موجود يم".

د علامتي شاعرانو د هېئت سازونې او معنیٰ او مفهوم پټونې د دغه رجحان په وجه شاعرئ د ابهام ، اړونو او دوڼو شكل واخستهٔ او هم په دغه وجه دغه تحريك تر ډېرې زمانې ژوندے پاتې نهٔ شهٔ خو بيا هم دغه تحريك ډېر زوراور شاعران پېدا كړل چې د هغوي شاعرئ په خپل تهذيبي پس منظر كښې د معنیٰ او مفهوم نوي نوي جهانونه څرگند كړل ـ په پښتو كښې په هغه شكل كښې شاعري په روان عصركښې زما په خيال رېنواز مائل او



www.pukhto.net

هاشم بابر کوي له دوي علاوه هغه علامتي شاعري چې د روايت تابع وي او علامتونه پکښې د اجتماعي روح مطابق پکارولے شي د ابتدا نه رواج لري.
لکه چې وړاندې وئيلي شوي دي چې شاعرۍ پخپله يو علامتي اظهار دے او په دې کښې استعمال شوي لفظونه صرف د لغت او واقعيت پابند نهٔ وي بلکې د منعیٰ او مفهوم يو سيال حالت لري نو په دغه حواله مونږ سره د علامتي شاعرۍ يوه درنه پنګه د ټپې په شکل کښې موجود ده. ټپه د علامتي اظهار بهترينه نمونه ده. هره ټپه د معنیٰ او ففهوم يو سيال حالت لري او ځان د بدلېدونکيو حالاتو او غوښتنو سره هم اهنګ کوي لکه:

ځانګه به نن سبا کښې ګل شي
ما ئې په سر کښې سرې غوټۍ لېدلي دينه
د لېونۍ حاجت پوره شهٔ
په لاره ځي په کاڼو ولي زياتونه
د ګاډي سر په کاڼو ولئ
زما جانان ئې په دکن ولګونه
کهٔ اباسين راغلے نهٔ وے
په ګنده خړو کښې به چا موندل ټيکونه





د پښتو د تحريري شاعرۍ معلومه پنګه هم د روايتي مفهوم مطابق خپل علامتي او اشارتي حيثيت په ځاے ساتي لکه د نورې شاعرۍ پښتو هم د صوفيانه شاعرۍ ښه درنه پنګه لري. صوفيانه شاعري ټوله ټاله علامتي شاعري وي ځکه چې دغه شاعران د يوې مابعدالطبعياتي يا روحاني دنيا د حالونو وئيلو د پاره چې کوم لفظونه استعمالوي هغه ټول علامات وي التبه دغه علامات خپل روايت لري او د انفراديت په ځاے يو اجتماعي روح لري.
په پښتو کښې د دغه علامتي شاعرۍ وړومبے لوے تحريك روښاني تحريك وهٔ. روښاني شاعران د يو فکري نظام سره تړلي شاعران دي او دغه فکري نظام د مشرق د هغه صوفيانه شاعرۍ تسلسل دے چې ورسره تړلي علامتونه په خپل پس منظر کښې کښېښودو سره د روښاني شاعرۍ معنیٰ او مفهوم واضحه کوي ؛ پخپله روښاني شاعرانو هم د خپلو دغو علامتونو تشريحات په دې غرض کړي دي چې هغوي په خپلو لوستونکيو د کومې دنيا سپلونه کول غواړي د هغې سپل پرې وکړے شي. د روښاني شاعرۍ يا روښاني فکر اهم علامتونه دا دي : شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت، باور ، يقين، ګمان ، کامل، ناقص،



www.pukhto.net

نفس، شیطان، راستي ، غیبت، ژوند ، محبت، مرګ ، خفي ذکر ، جلي ذکر ، غفلت، احمق، خوف، رجا، زړۀ ، دیدار، سماع، دم، فقر، اخلاص، او داسې نور ـ د مجازي مفهوم د استعمال نه بغیر صرف په لغوي استعمال د روښاني شاعرۍ د معنیو کړکۍ چرې هم نۀ واکېږي.

د روښاني شاعرۍ د دغه اجتماعي او مربوط علامتي نظام نه پس د خوشحال بابا دور راځي ـ خوشحال بابا د خپلې شاعرۍ د پاره خپل علامتونه وضع کړي دي ـ د خوشحال بابا د شاعرۍ علامتي بڼه د روښاني شاعرۍ د عقلي او روحاني نظام په مقابله کښې د حسي یا محسوساتي دنیا سره تعلق لري ـ دغه وجه ده چې خوشحال بابا د علامت جدید تعریف ته زیات نزدې دے ـ بابا د خپل شاعرانه اظهار د پاره ګڼ شمېر علامتونه وضع کړي دي لکه باز، شاهین، شهباز، ګرګس، تپوس، کارغۀ، زمرے، هوسۍ، مچ، مېږے، منږك، توره، غشي، نېزه، ډال، دستار، اور، توپك، فلك او نور بې شماره علامتونه ؛

د کابل مېوې خوراك وې د طوطیانو
پرې ماړۀ شو تور کارغان د هندوستان
د کلاه لائق یا باز دے یا شاهین دے





په دا څۀ کۀ د کارغۀ یا د کلاغ شي
په بل غشي توپك هېڅ ویشتلے نۀ یم
کۀ ویشتلے یم خو بیا په خپل توپك یم

د خوشحال بابا دا شعرونه نن هم د خپلې علامتي پېرایې په وجه د عصري صورتِ حال عکاسي او ترجماني کوي.
د خوشحال بابا نه پس د کلاسیکي دور ټولو اهمو شاعرانو لکه رحمان بابا ، حمید بابا، علی خان او کاظم خان شېدا هم د خپل شاعرانه اظهار دپاره یو ډېر لوے شمېر علامتونه وضع کړي دي چې د طوالت له وېرې ترې زۀ راتېرېږم.
د جدیدې پښتو شاعرۍ شروع د شلمې صدۍ د شروع سره سمه ده ـ په کال نولس سوه دېرش کښې د قیصه خوانۍ د خونې پېښې او د ازادۍ د تحریك تېزېدو سره او بیا په کال نولس سوه شپږ دېرش کښې په هندوستان کښې د انجمن ترقي پسند مصنیفین د جوړېدو سره پښتو شاعرۍ هم یوه نوې لاره وموندهـ د مثال په توګه:

باز کۀ د غماز په منګل ناست وي هېڅ پروا نشته
مونږ د زړۀ په غوښو باتوارن ورته ساتلي دي

کۀ څۀ هم د ازادۍ په تحریك کښې شاعرانو د اظهار او بیان پېرایه نېغ په نېغه ساتلې وه ځکه چې هغوي شاعرې



www.pukhto.net

د یو مقصد نه بلکې ذریعې په طور استعمالوله خو د نوي صورتِ حال په وجه د شاعرۍ ژبه د روایتي انداز نه بېخي بدله وه او دیو نوي شعور او احساس ترجماني او غمازي ئې کوله. د ازادۍ په مبارزه کښې د ترقي پسند خیالاتو ګډون چې بنیاد ئې په طبقاتي کشمکش او استعماري قوتونو سره سره د استحصال کوونکیو قوتونو خلاف په مبارزه ولاړ وهٔ. شاعرۍ ته نهٔ صرف دا چې یوه نوې ژبه ورکړې شوه بلکې زاړهٔ علامتونه لکه ساقي، مېخانه،جام، ګل، بلبل، چمن، ګلستان، ازغے، دام، قفس، صیاد، مغل، سپرلے او خزان هم بېخي په نوي او بدله معنیٰ کښې استعمال کړے شو. دغه تجربې په روان عصر کښې هم جاري دي. دلته زهٔ څو شعرونه د مثال په طور وړاندې کوم:

ګلستان کهٔ مې په وینو تازه کېږي
هر ازغے دې هم زما په زړهٔ کښې مات شي

(قلندر مومند)

د مېکدې به خدا ے قضا راوسته
چې ئې اختیار کښې د مُلا راوسته

(سیف الرحمان سلیم)

کهٔ شل ځله دستور د مېکدې پکښې ماتېږي
نن تنده ماتوم کهٔ مې تندے پکښې ماتېږي





(رحمت شاه سائل)

چې یار له ګل هم د دکان د ګلفروشه وړي
ځار د دې دور د مئینو له روزګاره شمه

(اندېش)

د چا تر سر تېر شهٔ اشنا چې دروازه جوړه شي
لکه دېوال ولاړ زما او ستا تر میان دي خلق

(درویش دراني)

په کوهستان کښې مو د عدل او انصاف درس پرانستهٔ
په تورو ځمځتو کښې سنګسار ئې بې ګناه کړو مونږه

(ډاکټر درویش)

په شلمه صدۍ کښې د غزل په حواله د ټولو نه اهم نوم د حمزه بابا دے. هغوي د تصوف او قام پرستۍ په امتزاج پښتو غزل ته نوے روح او نوے انداز ورکړهٔ. د هغوي په غزل کښې د مفرد علامتونو پنګه ډېره زیاته ده او څهٔ علامتونه خو د بابا دومره خوښ دي چې په رنګ رنګ مضمونونو کښې ئې په تکرار پېش کړي دي. د طوالت له وېرې زهٔ د بابا د علامتونو د تفصیل پېش کولو په ځا ے د هغوي په یو څو شعرونو پېش کولو اکتفا کوم:

چې ستا جبین ته مې نظر ورسېد
سپوږمۍ ته تلے شي او کهٔ نه پښتانهٔ
عقله اوس لار مې د صحرا ولیده



www.pukhto.net

مخکښې به نور د بربوکو سره ځم
دا سرکوزي پښتونه عشقه ولې
ستا د زلمیو هغه پګړۍ څهٔ شوې

د غزل نه علاوه پښتو کښې د علامتي نظمونو یا په نظمونو کښې د علامتونو د استعمال هم په زړهٔ پورې برخه شته. د مثال په توګه د غني خان نظمونه کارغان مارغان، چینډخ، مېږے، ملاچرګك، بورا، مچ، لنډے چرګ، خرو، نوې بلا، مړه، ماشے او کارغهٔ داسې دي چې د علامت په ژبه کښې اظهار شوے دے. غني خان د علامتي نظم ویونکیو سرخېل دے چې ورپسې د علامتي نظم یونکیو یو اوږد قطار دے چې سرئې زمونږ موجوده عصر ته رارسېدلے دے. د اجمل خټك نظمونه بین مار، یو بل سپرلے، برېاس، ګوجر او چرګ ته، د قلندر مومند د دنیا مشال او دانیال، د قمر راهي سپینه بلا، د ډاکټر امین پُتلۍ، شپه، مرام، دېوال او زرتشت او د عبدالرحیم مجذوب درمې شپونکیه څهٔ شوې، صبح کاذب علامتي نظمونه دي؛ د رحمت شاه سائل، سعدالله جان برق، محمد نواز طائر، سعید ګوهر، عبدالواحد قلندر، امین الله داودزي، عنایت الله ضیا، سلمیٰ شاهین، صاحب شاه صابر، محمد زبېر حسرت، روښان





یوسفزي، عبدالروف عارف حسینه ګل او نورو ډېرو مشرانو او ځوانانو شاعرانو په نظمونو کښې د علامتي نظمونو ښې ډېرې نمونې شته.

پښتو کښې زما په خیال دوه شاعران داسې دي چې د علامتي شاعرۍ په حواله د هغوي خصوصي ذکر پکار دے، یو پروفېسر ربنواز مائل او دوېم هاشم بابر. دا دواړه نېغ په نېغه د هغه تحریك سره تړلي شاعران دي چې بنیاد ئې انګرېزۍ کښې اېلن پو او فرانسیسۍ کښې بودلئیر اېښے وهٔ. د دې دواړو شاعرانو نظمونه د ژبې او بندش په لحاظ نهٔ صرف علامتي رنګ روغن لري بلکې په ابهام او اشکال کښې هم دمغربي شاعرۍ کړهٔ وړهٔ لري چې تفصیلي تجربه ئې په دې لنډ وخت کښې ناممکنه ده.

د یو بل شاعر درویش دراني د علامتي نظم په خصوصیت سره ذکر کول هم مناسب ګڼم. درویش نه صرف دا چې پښتو نظم ته د قیصې خواږهٔ ورکړهٔ بلکې د نظم علامتونه په یو خور ورو تاریخي، تهذیبي، معاشرتي، نفسیاتي او سیاسي پس منظر کښې کښېښودو سره ئې د علامت استعمال په یوه نوې بڼه وکړهٔ. د علامت انداز او د شعریت خوږلت د درویش دراني دنظمونو خاصه او په پښتو شاعرۍ کښې یوه نوې تجربه ده.



www.pukhto.net

پښتو شاعرۍ کښې د علامت نګارۍ دا جائزه په هر لحاظ ډېره نیمګړې ، سر سري او غېر مربوط ده خو د تفصیلاتو او تشریحاتو نهٔ دا وخت دے او نهٔ موقع ځکه نو زهٔ بخښنه غوارم.

***





# خاکه نګاري

د ادب دوه غټې څانګې دي یوه د نظم څانګه ده او بله د نثر ، څنګه چې د نظم څانګه په ډېر صنفونو کښې وېشلې شوې ده نو دغه شان د نثر هم ډېر صنفونه دي . ادب د انسان د سائیکي د اظهار ذریعه ده . د انساني نفس یا ذات د داخلي او خارجي تعلقاتو او متعلقاتو د اظهار د پاره یوه پېرایه کافي نهٔ ده او اظهار همېشه په نوو نوو پېرایو ، اسلوبونو او چوکاټونو کښې د پېشکش غوښتنه کوي . د دغه غوښتنې تر مخه نوي نوي صنفونه مېنځ ته راځي . په دغه اصنافو کښې یو صنف خاکه ده چې د نثري اصنافو ځنې یو دے.

لکه څنګه چې افسانه د ناول د خېټې نه زېږېدلې ده او ناول سره د څو شریکو قدرونو نه پرته ځان له خپل قدرونه خصوصیات او تکنیکي شرائط لري او د ناول نه د بېلتون یوه غټه پوله اودروي . دغه شان خاکه هم د سوانح عمرۍ له نسه زېږېدلے صنف دے چې د بیلو بیلو ارتقایي مرحلو سر کولو نه پس ئې دا موجوده شکل او رنګ اخستے دے.

په سوانح عمرۍ کښې د یو شخصیت سره تړلې د هرې خبرې، هرې واقعې د ذکر اذکار ګنجائش موجود وي . د



www.pukhto.net

پېدائش نه واخله تر مرګه د هرې مرحلې تفصيلي ذکر په سوانح عمرۍ کښې کېږي او دا د صحيح معلوماتو او واقعاتو پېش کولو د پاره د تحقيقي او تجزياتي نظر متقاضي وي.

په خاکه کښې هم يو شخصيت پېش کولے شي بلکې کۀ دا ووايم چې په خاکه کښې د شخصيت په ځاے کردار پېش کولے شي نو بې ځايه به نۀ وي ځکه چې شخصيت ډېر خور وور وي. د هغې د پېش کولو د پاره د يو لوي کېنوس ضرورت وي او د شخصيت د داخل سره سره د هغه ټولو خارجي عواملو بيان پکار وي کوم چې د شخصيت په څرګندلو او ځلولو کښې لاس لري خو په خاکه کښې د يو کردار د خارج نه زياته د هغۀ داخلي يا باطني دنيا رابرخېره کولے شي او د خارج ذکر صرف هلته کولے شي چې د دغه کردار د نفسياتي انفراديت به متعين کولو کښې ئې څۀ لاس وي.

په خاکه کښې چې څنګه تفصيلات نۀ وي نو دغه شان پکښې د معلوماتو وړاندې کولو نه هم پرهېز او ګرېز کولے شي. په خاکه کښې د دې خبرو هېڅ ضرورت نۀ وي چې سړے کله او کوم ځاے پېدا شۀ، تعليم ئې څومره او کوم ځاے حاصل کړۀ او داسې نورې ډېرې خبرې. کۀ په دغه خبرو کښې داسې يوه خبره وي چې د مطلوب يا





کردار په انفراديت او د هغۀ په شخصيت کښې د يو مستقل قدر يا خصوصيت پېدا کولو باعث وي نو بيا ئې ذکر خامخا پکار دے.

په خاکه کښې په هغه خبرو او خصوصياتو زيات زور راوړے شي کوم چې نۀ صرف د يو شخصيت سره خاص وي بلکې مستقل هم وي. خاکه د اختصار په لحاظ کارټون سره مشابهت لري بلکې کۀ خاکې ته لفظي کارټون ووئيلے شي نو بې ځايه به نۀ وي. په خاکه کښې سراپا نګاری هم کېږي خو په داسې انداز کښې چې د کېمرې په سترګه اخستے شوے تصوير ونه ښکاري بلکې د مصور د مو قلم نه وتے داسې تصوير وي چې ظاهري خدو خال ئې د باطني کېفياتو غمازي کوي. په خاکه کښې د زياتو واقعاتو بيانولو ګنجائش نۀ وي خو کۀ يوې واقعې د مذکوره شخصيت په يو مخصوص انفراديت يا صفت متعين کولو کښې څۀ کردار ادا کړے وي نو په اختصار سره ئې کۀ ذکر په داسې انداز کښې وشي چې د واقعې نه زيات د متعلقه شخصيت هغه خصوصيت ښکاره او ځلنده شي نو بيا عېب نۀ دے.

خاکه د سوانح عمرۍ نه په دې هم بېلتون لري چې په سوانح عمرۍ کښې د ليکونکي مداخلت نۀ وي هغه صرف د يو تماشبين يا راوي په مثال وي چې څۀ ئې



www.pukhto.net

لیدلي وي یا اورېدلي وي هغه بیانوي کهٔ چرته د یوې خبرې تصدیق پکار وي نو هغه په خارجي توګه کوي او خارجي ذریعې ورله پکار وي خو په خاکه کښې د لیکونکي خپل ذات هم شامل وي . د تصدیق پېمانه صرف د لیکونکي ذات وي.د سوانح نګار تصدیق بیا هم چېلنج کېدے شي خو د خاکه نګار تصدیق نهٔ شي چېلنج کېدے ځکه چې د هغې بنیاد د لیکونکي پخپله تجربه او مشاهده وي.د خاکه نګار د پاره د راوي وجود بېخي بې معنې دے.

ځنګه چې مصور ته دا اختیار وي چې هغه دیو خاص تاثر د ځرګندولو یا جوړولو د پاره کوم رنګ په کوم انداز کښې استعمالوي دغه شان خاکه نګار هم د تاثر په جوړولو یا پېدا کولو کښې ازاد وي او د لفظونو نه هغه کار اخلي چې مصور ئې د رنګونو نه اخلي د دغه ځاے نه په خاکه کښې د خاکه لیکونکي اسلوب راننوځي . اسلوب هغه څیز دے چې مونږ ئې د صحرائی ونې سره تشبیه ورکړو نو بې ځایه به نهٔ وي.ځنګه چې د صحرائې ونې جرړې په زمکه کښې دننه ډېرې ژورې او ډېرې تر لرې تلے وي هم دغه شان اسلوب د لیکونکي په نفس کښې خپلې جرړې داسې ژورې ښخې کړې وي چې د نشو و نما او ښېرزاے د پاره ورته خوراك د خارج نه نا بلکې





د لیکونکي د باطن نه رسي . کهٔ مونږ د خاکې د پاره څهٔ تکنیك یا اصول ټاکو نو د لیکونکي اسلوب ته به پکښې د ملا د تیر حېثیت او مقام ورکوو . ځنګه چې په افسانه کښې پلاټ د ملا د تیر حېثیت لري دغه شان په خاکه کښې دغه مقام اسلوب ته ورکول پکار دي ځنګه چې د یوې افسانې پلاټ د بلې افسانې نه جدا وي دغه شان د یو خاکه نګار اسلوب د بل خاکه نګار نه جدا پکار دے بلکې د یو لیکونکي خاکې هم د دغه اسلوبیاتي ځانګړتیا کښې رنګ پکار دے.

په خاکه کښې د اسلوب تقلید ډېر لوے عېب دے او خاکه ورسره ډېره بې خونده کېږي . کهٔ زمونږ د نظر د وړاندې یوه داسې خاکه داشي چې په هغه انداز او اسلوب کښې مونږ د هغې نه وړاندې یوه خاکه لوستے وي نو هغه به مونږ بېخي نهٔ متاثره کوي د مثال په طور قاضي عبدالحلیم اثر (مرحوم) چې د حکیم عبدالخالق خلیق (مرحوم) کومه خاکه لیکلې ده هغه ئې په داسې اسلوب کښې لیکلې ده چې لوستونکے ترې ډېر خوند اخلي خو وروستو چې چا هم دغه اسلوب خپل کړے دے نو هغه خوند ئې نهٔ دے کړے ځکه چې تقلید ئې کړے دے او تقلیدي خاکه هډو خاکه ګڼل نهٔ دي پکار ځنګه چې یو سړے د بل سړي نه د شخصیت په لحاظ بدل وي



www.pukhto.net

دغه شان یوه خاکه د بلې خاکې نه د اسلوب په لحاظ بدله پکار ده.
خاکه د موجوده لمحې سره تعلق لري او په دغه اساس په خاکه کښې د "حال" کیفیت پیش کولے شي. د قال کلهمې تنستې د " حال " څرګندولو دپاره پکارولے شي. خاکه نګار راوي نهٔ وي ، شاهد وي بلکې خالق وي. هغه صرف خارجي شهود نهٔ پیش کوي بلکې تخلیق هم کوي او په دغه لړ کښې د خپل قوتِ متخیله نه ښهٔ کار اخستے شي. هغه په خارجي شهود د خپل داخلي ذات په تکسال کښې داسې ضرب ولګوي چې د ادب په بازار کښې د هغهٔ د سکې د چلن سره د هغهٔ د نوم شناخت هم وګرځي.

****





# قلندر مومند د ناقد په حیث

د قلندرمومند د ادبي شخصیت په ګڼو اړخونو کښې یو اړخ د تنقید دے. د هغوي د تنقیدي شعور او صلاحیت روزنه او ځلونه په اولسي ادبي جرګه کښې هم شوې ده خو پرته له دې هغوي د خپلې ژورې او خورې وورې مطالعې او پرله پسې عملي تجربې په سبب خپل دغه صلاحیت نهٔ صرف د رایې تر صلابته رسولے دے بلکې په خلقو ئې منلې هم دے او چرته چې د پښتو د بهترینو ناقدانو ذکر کېږي نو د قلندر مومند نوم پکښې په سر کښې اخستے شي. د هغوي دغه مقام هر څوك مني خو ځنې خلق وایي چې قلندر صاحب د خپل بې شانه تنقیدي صلاحیت ، حیثیت او اهمیت په وجه ځنې وخت د منفي رویې او طرز عمل څرګندونه هم کوي خو دا کتل تحقیق غواړي چې آیا په دغه الزام کښې واقعي څهٔ صداقت شته او کهٔ دا صرف د "بغض معاویه" اظهار دے.

تر اوسه چې د قلندر صاحب د ذهن او قلم نه څومره تنقیدي مواد راوتي دي نو د هغې درجه بندي یا وېش بندي څهٔ په دې ډول کولے شو :

I. په اولسي ادبي جرګه او د ساهو لیکونکیو مرکه په تنقیدي اجلاسونو کښې د هغوي عملي تنقید



www.pukhto.net

II. په نظري او عملي تنقید مبني د هغوي لیکلې شوې خورې ورې مقالې

III. د "نظمیات" او تنقید په نوم د هغوي چاپ کتابونه

IV. په مختلفو کتابونو لیکلې سریزې او مقدمې

V. د هغوي په چاپ تحیقي کتابونو "پټه خزانه فی المیزان" او "د خیرالبیان تنقیدي مطالعه" کښې د تحقیق او تنقید امتزاجي طرز او عمل

دغه پورته ذکر شوي ټول نکات په تفصیل سره پلټل، څېړل او سنجول غواړي او ترې د قلندر صاحب یوه مکمله او مربوطه تنقیدي نظریه راوېستل او د هغوي د مقام او حیثیت پوره احاطه او تعین کول پوره تحقیق او ډېر وخت غواړي او د یو کتاب لیکلو تقاضا کوي چې په دې وخت کښې زما د پاره دا نا ممکنه ده. ما چې تر اوسه پورې د قلندر صاحب کوم لیکونه لوستي دي یا مې د هغوي په باره کښې څۀ لوستي دي د هغې په رڼا کښې څۀ نیم نیمګړے شان یو تاثر پېش کول غواړم.

په عالمي سطحي په وسیع تناظر کښې د تنقید دوه چینې ده یوه د تنقید مشرقي چینه او بله مغربي چینه. مغربي چینه د مشرقي چینې نه خور شوي تنقیدي علم د عربۍ او فارسۍ په ذریعه د دنیا ادبیات رالاندې کړي دي. دغه





شان د مغربي چینې سر د یونان نه لګي او وروسته د یورپ د ګڼو ژبو عالمانو فلسفیانو نقادانو په دغه رود کښې د خپل خپل فکر ولې ورګډې کړي دي. د تنقید دغه دواړه چینې خپل خپل روایات، تاریخ، نظریات، اصول او حدود لري او فی زمانه د ادب د سنجونې د پاره د مشرق او مغرب د تنقیدي اصولو امتزاج د ښو نتائجو ضامن کېدے شي.

د قلندر صاحب خاصیت دا دے چې هغوي د مغربي تنقید د تاریخ نه هم ښۀ خبر دے او د عربۍ، فارسۍ او اردو په پوهه د مشرقي تنقید هم پوره علم لري او له باریکیو ئې اګاه دے. ورسره د پښتو ادب په تاریخ هم ژور نظر لري او د دغه درېو ابعادو په اجتماع د هغوي د تنقیدي رایې توله او وزن ډېر برابر او درند وي. د هغوي د دغه خاص علم او پوهې له رنګارنګ دسترخوانه د ادب زده کوونکي د مرکې په اجلاسونو کښې په خلاص مټ رېزه چینې کوي.

د قلندر صاحب دوه کتابونه نظمیات او تنقید چې په ورومبي ورومبي ځل په کال نولس سوه درې شپېتم کښې چاپ شوي دي، ورومبے د ارسطو دکتاب **POETICS** تشریح او تبصره ده او دویم د هډسن د کتاب **AN INTRODUCTION TO THE STUDY OF**



www.pukhto.net

LITERARUTE د یو باب تلخیص ، تنقیه او ترجمه ده ـ د دغه دواړو کتابونو مطالب قلندر صاحب صرف د طالبعلمانو د پاره پښتو ته نهٔ دي راړولي بلکې دې سره ئې د خپل تنقیدي علم د ظرف حدونه هم ښودلي دي ، ځکه چې وړومبی کتاب د دنیا وړومبی باقاعده تنقیدي کتاب دے او دومره اهم دے چې د دنیا په اکثرو ژبو کښې ئې څو څو ترجمې شوي دي او بلا شرحې او تفسیرونه ئې لیکلي شوي دي ـ پښتو کښې هم د دغه کتاب خالصه ترجمه د کتاب الشعر په نوم مولوي اسرائیل صاحب کړې وه خو د قلندر صاحب دغه تشریح او تبصره هم ډېره ضروري وه ـ د ارسطو د دغه کتاب د اهمیت پته د ډاکټر جمیل جالبي د دې تبصرې نه ښهٔ واضحه کېدے شي ـ

"کهٔ چرې د مغرب په تنقید نګاری نظر واچولے چي نو د مغرب تنقید یا خو د ارسطو سره د اتفاق په نتیجه کښې یا د اختلاف په نتیجه کښې یا بیا د دواړو د امتزاج نه پېدا شوے دے ـ غرض دا چې د مغرب په تنقید کښې ارسطو د یو خدا ے په شان دائم او قائم دے او کهٔ تنقید په هره لاره روان شي خو د هغهٔ له اثره نهٔ شي بچ کېدے ۱."





دوېم کتاب د "تنقید" په نوم د هډسن د کتاب د یو باب ملخصه ترجمه ده خو دغه تلخیص قلندر صاحب دومره په اختصار او جامعیت سره کړے او د غیر ضروري تفصیلاتو تنقیه ئې داسې په مهارت سره کړې ده لکه چې د اصل کتاب جوهر ئې پېش کړے وي ـ

په دې کتاب کښې د ادب د مطالعې او څېړنې اصول ، د تنقید تعریف ، ضرورت ، د غلط او صحیح استعمال فرق، د تنقید قسمونه، اصول او نظریات ، په تنقیدي ادب کښې د تخلیقي ادب د عنصر نشان دهي ، د نقاد اوصاف او خصوصیات، په تنقیدي رایو کښې د اختلاف په صورت کښې د یوې متوازنې نتیجې د اخذ د پاره د تقابل او دادب په تاریخي مطالعه زور ، د ذاتي او انفرادي ذوق مطابق تنقید او د مختلفو منفردو نقادانو اجماع، د کلاسك مفهوم، کلاسك د معیار په طور تسلیمول ، د هغې نه اصول راوېستل او استعمالول ، په ادب کښې د بقائې اصلح د اصولو تلاش او د هم عصر ادب د څېړنې اصول او طریقه کار غوندې مسئلو په حقله ډېر په زړهٔ پورې مباحث لري او داسې محسوسېږي چې قلندر صاحب دغه باب دوباره تعمیر کړے دے ـ د هغوي د لیك اسلوب داسې دے چې هرې جملې او هر عبارت له ئې د "قول زرین" درجه ورکړې ده ـ دغه کتاب د تنقید



www.pukhto.net

تاریخ نهٔ دے خو د تنقید د مسلمو نظریاتو دومره په خوبئ سره احاطه کوي چې د ډېرو کتابونو د نهٔ کتو کمے پوره کوي . د تنقید پحقله د دغه باب د اتنخاب نه د قلندر صاحب د تنقیدي شعور او معیار اندازه هم لګېدے شي.

د هډسن د کتاب د لیك نه پس په تنقید کښې نوي نظریات هم قائم شوي دي چې قلندر صاحب ورته په "باعثِ تحریر آنکه" کښې اشاره کړې ده او اراده ئې ښکاره کړې ده چې کهٔ وخت او فرصت وهٔ نو نهٔ صرف د هډسن د کتاب د مشکلو نکتو او حصو توضیحي او تشریحي تعلیقات به لیکي بلکې د دغه جدیدو تنقیدي نظریاتو په باره کښې به هم لیکي او اوس حال دا دے چې د قلندر صاحب د کتاب نه پس نورې تنقیدي نظریې هم قائمې شوې خو متاسفانه قلندر صاحب د درې نیمو عشرو د تېرېدو باوجود خپله کړې اراده عملي نهٔ کړه . څومره به ښهٔ وے چې هغوي د دغه ارادې تکمیل او ورسره د پښتو ادب د کتنې او څېړنې د پاره په طبع زاده توګه یو اصولي تنقیدي کتاب لیکلے وے . کهٔ څهٔ هم دغه وړوکے غوندې کتاب هم دومره وزن لري چې په ډېرو غټو غټو کتابونو دروند ښکاري او داسې ښکاري چې هغوي د پښتو ادب د کتنې او څېړنې د پاره په دغه کتاب کې د





بیان شویو اصولو او طریقهٔ کار سره اتفاق لري او پېروي ئې هم کوي ځکه چې د جدید ادب او شاعرئ په باره کښې د کتابونو د سریزو او مقدمو په شکل کښې د هغوي په تنقیدي رایو کښې د دغه "تنقید" سرهٔ څرګند لیدے شي.

د پښتو ادب په باره کښې د قلندر صاحب تنقید مونږ په دوه برخو کښې وېشلے شو . یوه د زوړ کلاسکي ادب څېړنه او څېړنه او بل د جدید ادب په حقله د هغوي نظریه . د زوړ ادب په باره کښې د هغوي بشپړ تنقیدي کار په پټه خزانه فی المیزان ، د خېرالبیان تنقیدي مطالعه ، د ځینو پخوانو شاعرانو په حقله د هغوي په مقالو او څو دیوانونو او نثري کتابونو د هغوي په مقدمو مشتمل دے . دغه شان د جدید ادب په حقله د مختلفو شاعرانو ادیبانو په کتابونو کښې د قلندر صاحب په لیکلو سریزو مقدمو او تقریظونو کښې د هغوي د تنقیدي خیالاتو څهٔ تت غوندې عکس لیدے شي.

د زوړ ادب په باره کښې د تنقید ډانډې د تحقیق سره یو ځاے کېږي او دغه دواړه امور په یو وخت او یو ځاے په عمل کښې راوستل پکار وي . د زوړ ادب په باره کښې د قلندر صاحب په زړهٔ پورې تنقیدي کار د هغوي په دوو کتابونو "پټه خزانه فی المیزان " او " د خېر البیان



www.pukhto.net

تنقیدي مطالعه" کښې دے ۔ په دغه دواړو کتابونو کښې مشترك قدر د زوړ پښتو ادب په باره کښې د مسلمو نظریاتو رد دے ۔ بیا په دغه دواړو کتابونو کښې اهم تر کتاب پټه خزانه فی المیزان دے چې د پټې خزانې په رد کښې لیکلے شوے دے خو دا کتاب صرف د پټې خزانې په در کښې لیکلے کتاب ګڼل نۀ دي پکار بلکې زما په خیال دا د پښتون ناقد د پاره د یو "ګائیډبك" حېثیت لري ۔ دا کتاب د تحقیق او تنقید، واقعیت او منطقیت یو حسین امتزاج دے ۔ د دې کتاب د پټې خزانې د رد اړخ کۀ متنازعه دے او په نتیجه کښې ئې بلا اختلافات، خفګانونه، شکوك او شهبات مینځ ته راغلي دي او د خاتمې څۀ امکان ئې نۀ ښکاري خو دا اړخ ئې بېخي غېر متنازعه ګڼل پکار دي چې هغوي د ادب خصوصاً زوړ ادب د څېړنې او څېړنې د پاره څنګه طریقۀ کار او اصول ښودلي دي او پښتون ناقد ته ئې دا ښودلي دي چې د یوې فن پارې د صحت او عدم صحت تشخیص څنګه کول پکار دي؟ او د یوې فن پارې د مقام د تعین د پاره د ادب په تاریخ نظر لرل څومره ضروري دي؟ د ادب اجتماعي خصوصیات څۀ دي؟ او د یو شاعر انفرادي کار نامه څۀ ده ؟ دغه کتاب د عملي تنقید سره تعلق لري خو اصول پکښې دومره په شائستګۍ سره پکار راوسي





شوي دي چې د پښتو ادب/تاریخ لیکونکیو د پاره ډېر مواد پېش کوي او ډېرې نوې ار رڼې لارې ورته پرانزي ۔ د قلندر صاحب د تنقیدي نظر دوېم اړخ جدید ادب ته د هغوي کتنه ده ۔ د جدید ادب په باره کښې د هغوي د تنقدي عمل او نظریې اندازه لګول او احاطه کول به هله ممکن وي چې د اولسي ادبي جرګې او خصوصاً د ساهو لیکونکیو مرکې د تنقیدي اجلاسونو مکمل رپکارډ وکتے شي خو په دې وخت کښې زما د پاره دا ممکنه نۀ ده او نۀ د پښتو په زړو رسالو او اخبارونو کښې د هغوي خورو ورو چاپ مضامینو او مقالو ته رسایي ممکنه ده ځکه نو زۀ صرف د جدید شاعرانو او ادیبانو په کتابونو د قلندر صاحب د لیکلو سریزو پورې خپله خبره محدوده ساتم۔

چونکې د مختلفو خلقو د کتابونو سریزې د یو پروګرام د لاندې په مربوط انداز کښې نۀ شي لیکلے او نۀ پکښې انتخاب کېدے شي ځکه نو هم د دغه مشکل سره چې چا هم قلندر صاحب له کتاب ورے دے او مجبور کړے ئې دے نو هغوي پرې د "ډېرو تحفظاتو" سره سریزه لیکلې ده او ډېر په پام پام ئې قدم اېښے دے ۔ دومره په پام چې په اکثرو موقعو سړے داسې محسوسوي چې هغوي د مصنف نه محض د ځان خلاصي کوشش کړے دے لکه د



www.pukhto.net

مرحوم ایوب صابر په کتاب "ځیګر خون" لیکلې سریزه چې صابر صاحب ترې مطمئین نهٔ ښکاري خو بیا هم قلندر صاحب چې د هغوي د شاعرۍ په باره کښې کومه مجموعي رایې قائمه کړې ده دهغې اهمیت مسلم دے.
د قلندر صاحب د لیکلو شویو سریزو نه مونږ صرف دا قدر له معلومولے شو چې هغوي د یو شاعر، افسانه نګار یا بل مصنف د کتاب په باره کښې رایې څنګه قائموي.د نمونې د پاره زهٔ د هغوي د مختلفو سریزو نه څو اقتباسونه پېش کوم چې دا ترې معلومه شي چې د غونډ کتاب په باره کښې هغوي خپل نظر څومره او څنګه په اختصار خو جامعیت سره پېش کړے دے او له جزئیاتو ئې ځان ژغورلے دے.

- ❖ د دې مجموعې ټولې افسانې عمراني تنقید لري ۲.

د عمراني تنقید د پاره قلندر صاحب د عمرانیاتو په باره کښې پوره معلومات، تجربه او روغ نیت ضروري ګڼي او دا نظریه لري چې عمراني تنقید سره ژبه او ادب ترقي کوي.د دغه نظریې د اظهار نه پس او د عمراني تنقید د علم او اصولو په رڼا کښې د قیوم مروت د افسانو په کردارونو خصوصاً زنانه کردارونو دا اعتراض کوي چې په هره افسانه کښې ښځه لوستونکیو ته په یو ناولي شکل کښې ښکاره کوي او دغه شان د قیوم مروت





عمراني تنقید یو مخیزے ښکاره کېږي او د هغهٔ د فن د کامیابۍ په لاره کښې ئې یو خنډ ګڼي.

- ❖ اوس همېش خلیل یو بېدار معاشرتي شعور لري او کهٔ د ګل او بلبل نغمې وایي نو هم د سندرو مقصد ئې حُدي خواني وي چې غرض ئې پکښې د خپل پرزیدلي قام راویښول وي۳.

هم د هغه عمراني زاویې نه قلندر صاحب د همېش صاحب په مجموعي شاعرۍ نظر زغلولے دے او د همېش صاحب د شاعرۍ خصوصیاتو د قېد و بند د صعوبتونو نه یو رجایي پېغام، د حبِ وطن جذبه، د جدید قومي شعور تصور کښې د مظلوم اولس سره د درد اشتراك او د پښتنو یو والي ته هم د دغه معاشرتي او عمراني تنقید په تلازمه ګوري.

- ❖ دهٔ چې څهٔ محسوس کړي دي هغه ئې د یو امانت په طور خپل راتلونکي نسل ته پرېښي دي. شاید چې دغه وجه ده چې هغهٔ خپل ځان له کوم تخلص خوښ کړے دے هغه په دې دلالت کوي۴.

دلته هم قلندر صاحب د شاعر د پاره په ژوند او معاشره نظر لرل او د ژوند له تجربو نه شعر له الهام اخستل، د فن په شکل کښې په معاشره تنقید کول او اخذ شوے الهام واپس معاشرې یا اولس ته رسول ضروري ګڼي.



www.pukhto.net

❖ د نباغلي شېر محمد مهمند د شعري مجموعې ''خوارهٔ خيالونه'' په سريزه کښې قلندرصاحب د هغهٔ د شاعرۍ پېنځهٔ بنيادونه او خصوصيات معلوموي.

1) د تشکيك بلکې الحاد د ننو چپو په مقابله کښې د يو صحيح پښتون په شان په اسلام ټينګه عقيده لرل.

2) د دغه عقيدې په بنياد په خپله چارچاپېره معاشي او معاشرتي رغونه د اصلاح په غرض تنقيد کول.

3) د معاشي او معاشرتي اړي ګړي په نتيجه کښې د پېدا شوي شديد احساس او ژور جذباتي کېفيت سره دمايوسۍ نه بلکې د رجائيت غلبه او د فطرت د هارموني په شان په بشري حالاتو کښې د هارموني امېد.

4) د احساس د دغه شدت او فطري مناظرو سره د مينې په نتيجه کښې په شعر کښې پېدا شوې نغمګي او موسيقيت.

5) د معاشرتي او شخصي ټکونو د پاره د طنز و مزاح پېرايه.





دغه پېنځهٔ واړه خصوصيات داسې دي چې نهٔ صرف د شاعر په شاعرۍ ترې ښه تېزه رڼا پرېوځي بلکې د قلندر صاحب د تنقيد د زاويې درك ترې هم لګي چې دلته هم هغوي ادب ته د ژوند او انساني ټولنې له زاويې کتنه کوي او ادب نهٔ صرف د ژوند عکاس ګڼي بلکې دمعاشرې د اصلاح ذريعه ئې هم ګڼی.

❖ د دېو ټول افسانو تعلق چونکې د معاشرې د مختلفو مسئلو سره دے نو ځکه ئې اصلاحي پهلو نمايان دے او ځکه زهٔ دا هيله لرم چې د ادب د ژوند د پاره نظريې ته به پرې تقويت ورسي ۲.

له دغه پورتنو اقتباساتو يا د اقتباساتو د نچوړ نه دا نتيجه راوځي چې قلندر صاحب ډېر په شد و مد سره د ادب د ژوند د پاره نظريې قائل دے . کهٔ څهٔ هم د پښتو کلهم ادب هم د دغه نظريې ترجمان دے ، تر دې چې د تصوف غوندې مثالي، مابعدالطبيعاتي ، ماورايي او مجهول روحاني موضوعات هم چې پښتنو شاعرانو خپل کړي دي نو د خپلې خاورې، خپلې ټولنې او خپل عصر غوښتنې ئې نهٔ دي نظر انداز کړي او خپل فن ئې د عصري غوښتنو يا د ټولنې د اصلاح خلاف نهٔ دے استعمال کړے او دغه وجه ده چې قلندر صاحب د رحمان بابا په شاعرۍ کښې هم رجائيت لټوي او د دې سبب دا



www.pukhto.net

ښايي چې رحمان بابا چونکې پښتون وهٔ اوهېڅ يو پښتون د ژوند نه تېښته نهٔ کوي او دغه عمل د خپل نسلي خصوصيت خلاف ګڼي او د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د ژوند د قدرو قيمت ، په ژوند کښې د دائمي خوشحالۍ د خواهش، محنت، مشقت ته د ملاتړلو او تکليفاتو د مقابلې کولو درس صرف د دغه خصوصيت په وجه ګڼي او هم له دغه عصري ، ارضي او معاشرتي زاويې قلندر صاحب د حمزه بابا شاعرۍ ته هم کتلي دي او د ديو ټولو حوالو په نتيجه کښې قلندر صاحب د يو عمراني او معاشرتي نقاد په طور څرګندېږي.

حوالې:

- ❖ جميل جالبي/ډاکټر. ارسطو سے ايليټ تك
- ❖ قيوم مروت، پټ مخونه صـ ۹
- ❖ همېش خليل ، زما سندرې
- ❖ محمدزبېر حسرت، ډاکټر امين يوه مطالعه ، د شا پانه
- ❖ شېرمحمد مهمند ، خوارهٔ خيالونه
- ❖ محمد زبېر حسرت "قيصه خانه" شا پانه

له دغو حوالو نه علاوه د قلندر صاحب کتابونه نظميات، تنقيد، پټه خزانه فى الميزان، د خېرالبيان تنقيدي مطالعه، رحمان بابا او د هغهٔ رجائيت (مقاله مطبوعه





مياشتنۍ ګلستان، کوټه جنوري 1959ء) او د عزونې سريزه زمونږ عهد او د حمزه مقام هم وکتے شول.

13م جون 1998ء

****



www.pukhto.net

# د سليم راز تنقيدي کرښې

تنقيدي کرښې د محترم سليم راز د تنقيدي مضمونونو غالباً چې ورومبې کتاب دے چې د پښتو په تنقيدي ادب کښې يوه اهمه اضافه ده. د دې کتاب اهميت صرف په دې وجه نهٔ دے چې ګڼي دا د نثر کتاب دے او پښتو کښې د نثر کمے دے او د نثري کتابونو سخت ضرورت دے خو د دغه ضرورت تر مخه ډېر داسې کتابونه چاپ کېږي چې سره د دغه جذبې بيا هم د نثر په کمي پوره کولو کښې څهٔ لاس نهٔ شي کولے. دا ځکه چې ډېر خلق د نثر نه مراد هم هغه ليك اخلي چې د منظوم کلام په ضد د دې خيال د لاندې ليکلے شوي وي چې د نثر مطلب خور وور او منتشر کلام دے او کهٔ وکتے شي نو دغه کلام د خپل مفهوم په رڼا کښې واقعي چې اسم بامسمیٰ وي.

د محترم راز د نثر د دې کتاب اهميت په دې وجه دے چې دا د خيالاتو د ترتيب او توازن، د نظريې د استحکام او په هغې د نهٔ ماتېدونکي باور، د اسلوب د انفراديت ،سحرکارۍ او اثرافرينۍ او د تخليقي تنقيدي او تاثراتي عناصرو يو حسين امتزاج دے او سره د دې چې د نثر کتاب دے خو چرته هم پکښې د انتشار، عدم





توازن ، بې ترتيبۍ يا بدترتيبۍ احساس لوستونکي ته نهٔ کېږي.

د دې کتاب د ټولو نه اهم اړخ زما په خيال دا دے چې نظرياتي زاويه يې ډېره واضحه ده او د يو انسان د پاره عموماً او د يوليکونکي نقاد او فنکار د پاره خصوصاً د نظريې تعين ډېر ضروري وي لکه څنګه چې انسان ته سماجي حېوان وئيلے شي نو د دې نه دا شعور څرګندېږي چې د سماج جوړښت چونکې د نظريې د تخليق يا تعين ، د نظرياتي استحکام او په دې د اتفاق اتحاد، او هم اهنګۍ نه بغېر ممکن نهٔ دے. په نورو ټکو کښې مونږ داسې هم وئيلے شو چې انسان نظرياتي حېوان دے ځکه نو په معاشره کښې فعال کردار هغه سړے ادا کولے شي چې نظرياتي حېثيت ئې څرګند او ترون ئې مضبوط وي. په وسيع مفهوم کښې د معاشرې نظرياتي اډانه د قدرونو په بنياد ولاړه وي خو دغه اقداري نظام په معاشره کښې په غېر محسوس طريقه رائج او سرايت وي. فنکار دغه غېر محسوس روح د محسوساتو عالم ته راولي يا د لاشعور نه ئې د شعور رڼا ته راوباسي په دغه اساس فنکار د سماج هغه پرزه وي چې د دې په کل ئې نظر وي او په کلي طور سره د ژوند ترجماني په خپل فن کښې کوي. هر هغه فنکار چې د خپل سماجي ژوند ترجماني



www.pukhto.net

ئې په داسې طريقه کړې وي چې اول ئې د سماج تراخهٔ ، خواږهٔ ، خوشحالۍ او غمونه په خپل ذات کښې جذب کړي او بيا ئې د هغې واپس اظهار کړے وي خو دغه اظهار داسې وي چې د فن او مقصد د توازن مثال وي او توله ئې يو يا بل طرف ته درنه نهٔ وي نو داسې فن د خپل عصر د پاره هم او راتلونکيو عصرونو د پاره هم د خبر باعث وي.

په يوه فن پاره کښې کهٔ توله مقصديت طرف ته درنه وي نو د وعظ تبليغ يا پروپېګنډې احساس به راولاړوي او وعظ تبليغ يا پروپېګنډه په قول د انتظار حسېن د انسان د مغلوب کولو کوشش وي. په دغه روش کښې د خيال د بره نه د مسلط کولو کوشش کولے شي. د ادب او ارټ په روش کښې دانسان د مغلوب کولو نه ، بلکې د هغهٔ سره د ورورولۍ پېدا کولو او د هغهٔ دننه انسان ته د رسايۍ کوشش وي ځکه نو د تبليغ يا پروپېګنډې په اثر کښې کهٔ يو سړے بدلېږي نو د بهر نه خو د ادب او ارټ په واسطه سړے له دننه بدلېږي. د ارټ کار وعظ نه بلکې د اګاهۍ بخښنه ده او هم دغه اګاهي د فن او ادب مقصد او د دې جواز دے. شاعر او اديب د سماج د زړهٔ درزا او د خپل زړهٔ په درزا کښې هم اهنګي پېدا کوي او د سماج د زړهٔ د درزا ردم چې چرته بې وزنه کېږي ، شاعر او ديب





ئې د خپل زړهٔ او خپل فن په زور قابو کوي. د فن او مقصد ، جذبې او شعور ، سکون او حرکت ، قول او عمل اشتراك او توازن د ترقي پسند ادب د منشور ورومبۍ نکته ده او د دغه زاويې نه خپل ادب ته د محترم راز کتنه ډېره په زړهٔ پورې ده.

په ادب کښې ترقي پسندي د هغه شعور نوم دے کوم چې د ادب نه له فني خصوصياتو او تخصيصاتو نه علاوه د نور څهٔ غوښتنه هم کوي او دغه نور څهٔ هغه څيز دے څهٔ ته چې مقصديت وايي. ترقي پسند تحريك د دې شلمې صدۍ پېداوار دے او ترقي پسند سوچ يا نظريه چې په کومه بنيادونو ولاړ دي هغه هم ډېر پخواني نهٔ دي خو د دې مطلب دا نهٔ دے چې ګني د ترقي پسند تحريك نه وړاندې ادب کښې مقصديت نهٔ وهٔ بلکې ادب خو په هره زمانه کښې بامقصده پېدا شوے دے خو په هره زمانه کښې د ډېرو بامقصده څيزونو سره ډېر بې مقصده څيزونه هم ګډ شوي دي. ترقي پسند تحريك د دغه دواړو څيزونو تر مينځه بريد کښېښودهٔ او په ادب او فن کښې د لا مقصديت امکان يا جواز ئې مسترد کړهٔ خو څنګه چې د دنيا د هرې نظريې سره شوي دي. ترقي پسندي هم د افراط او تفريط ښکار شوې ده.



www.pukhto.net

د محترم راز دا دعویٰ چې په ترقي پسند ادب د نعره بازۍ الزام بې جوازه او بې بنياده دے ، ما ته لږه غوندې په جذباتيت مبني خبره ښکاري . څنګه چې هغوي د محترمې س ب ب ، ربنواز مائل او هاشم بابر د شاعرۍ او فن جائزه له ترقي پسند نقطهٔ نظره اخستې ده او د دوي په فنونو کښې چې ورته کوم څيزونه له دغه چوکاټه بهر ښکاره شوي دي په هغې ئې نيوکه کړې ده حالانکې دغه درې واړه فنکاران په نظرياتي لحاظ هم او په عملي لحاظ هم د ترقي پسند تحريك سره وابسته نهٔ دي پاتې شوي خو بيا هم چونکې د خپل سماجي چاپېرچل او د ژوند د سرګرميو نه بيل نهٔ دي ځکه هغه عناصر پکښې جوت ښکاري کوم چې د ترقي پسند سوچ سره سمے خوري . دغه شان هغه خلق څوك چې د فن په باره کښې حساس وي هغوي په ادب کښې د مقصد او نظريې برملا او واعظانه اظهار نعره بازي يا پروپېګنډه ګڼي او دغه نعر بازي د هغه ټولو شاعرانو په شاعرۍ کښې شته چې په مقصد زور راوړي خواه کهٔ هغه ترقي پسند وي او کهٔ غېر ترقي پسند . د ادب ترقي پسنده نظريه د اشتراکيت او اشتماليت د کارخانې پېداوار دے او په ادب کښې د مقصديت چغه په وړومبي ځل د هم دغه نظريې مبليغينو وهلې ده خو وروستو هغه خلق چې د مقصيدت او ترقۍ





خوښوونکي وو خو د اشتراکيت او اشتماليت مخالف، هغوي د دغه نعرې په الفاظو کښې دا ترميم وکړهٔ چې ترقي خو صرف د سوشلزم سره مشروطه نهٔ ده خو بيا هم د جدلي ماديت په بنياد د سماجي حرکت کومه سائنټفېك نظريه چې سوشلزم پېش کړې ده هغې د هغه خلقو په خيالاتو کښې هم حرکت پېدا کړهٔ چا چې د نظريې او اقدارو په انجماد يقين لرلو . په روس کښې د سوشلزم د انهدام نه پس اوس ډېر خلق د تغير، حرکت، ارتقا او اضافيت خبرې کوي خو نوم د سوشلزم ځکه نهٔ اخلي چې دغه نوم ورته ناکامه ښکاري خو کم از کم ښاغلے راز دغه منافقت نهٔ کوي او د خپلې نظريې تبليغ په ډانګ پټيلے کوي.

د ښاغلي راز د کتاب بل ښهٔ اړخ دا دے چې په دې کښې په کومو شخصياتو ، فنکارانو او اديبانو ليکونه شوي دي هغه ټول د شلمې صدۍ سره تعلق لري او ټول په خپل خپل ځاے ډېر اهم دي او په دغه ټولو شخصيتونو د راز صاحب ليکونه کهٔ يو طرف ته د هغوي د علم ، فن او خدماتو اعتراف دے نو بل پله ئې د هغوي د فن تجزيه هم کړې ده او د ټاکلي شوي منشور مطابق ئې دهغوي د فن ښهٔ جائزه اخستې ده ، ربښتنوے انقلابي، د اټك پُل، دروند پښتون، د ازادۍ نغمه ګره او پښتون هيومانسټ



www.pukhto.net

کهٔ د شخصیت نگارۍ اعلیٰ نمونې دي نو رامبېل شانې سرے، د خوبونو د جزیرې بې خوبه شاعر، مزل په دائره کښې ، خپل زړهٔ کښې نظر بند او د ښکلا په سفر د تجزیاتي تنقید ښې نمونې دي . دغه ټولې مقالې او مضامین کهٔ د دې کتاب د وجود مختلف اعضا دي نو "ژوند او تنقید" په دغه اعضاو او وجود کښې د روح حېثیت لري او دغه شان دا یو مربوط تصنیف گرځي چې د پښتو په تنقیدي ادب کښې یوه بهترینه اضافه ده.

د ښاغلي راز د نثر اسلوب دومره زړهٔ راښکونکے دے چې لوستونکے ځان د لفظونو په یوه شاعرانه فضا کښې موجود محسوسوي او ځوك چې د هغوي د نقطهٔ نظر سره اختلاف لري هغه به هم د دومره شگفته ، برجسته بې ساخته ، شاعرانه نثر د جمالیاتي لذت د سحر نه ځان خلاص نهٔ کړے شي او بې اختیاره به ئې د خلې نه واه واه وځي.

***





# د چاربېتې بابا

چاربېته د ټپې نه پس د پښتو په اولسي شاعرۍ کښې د ټولو نه مقبول صنف دے او په نننۍ دور کښې د دغه صنف په حواله د ټولو نه مقبول شاعر عبدالواحد ټیکه دار بابا مرحوم دے هغوي ته کهٔ د چاربېتې د بابا لقب ورکړے شوے دے نو د هغې اهمیت په دې وجه نهٔ دے زیات چې گني د هغوي نه وړاندې چا زیاتې او ښې چاربېتې نهٔ وې لیکلې بلکې د اهمیت سبب ئې دا دے چې په کوم دور کښې هغوي دا صنف نهٔ صرف ژوندے وساتهٔ بلکې د نوو نوو تجربو سره ئې هم اشنا کړهٔ ، هغه د چاربېتې دور نهٔ وهٔ. پښتو شاعرۍ یو ځل بیا د اولسي او ملي رنگ نه فني رنگ ته مخ اړولے وهٔ . د نوو معاشرتي، سیاسي، اقتصادي، نفسیاتي او ثقافتي مسئلو سره د مخ کېدو او د نوي تعلیم په اثر د شاعرۍ په رجحاناتو کښې د بدلون راتلو سره د اظهار په پېرایو کښې نوې نوې تجربې شروع شوې وې او په هېئتي کېنوسونو کښې وسعت راغلے وهٔ. دغه تجربې کهٔ څهٔ هم د وخت ضرورت وهٔ خو د دغه ضرورت په پوره کولو کښې د خپلو اولسي صنفونو سره زیاتے هم وشهٔ. په دغه صورت حال کښې ټیکه دار بابا خپله اولسي شاعري



www.pukhto.net

خصوصاً چاربېته ژوندۍ وساتله او په یوائې ځان ئې دومره څهٔ وکړل چې نهٔ صرف خپل صلاحیتونه ئې په خلقو ومنل بلکې دا ئې هم ثابته کړه چې چاربېته د ژوند په لاره د هر قسمه حالاتو سره برابر تگ کولے شي.

د ټېکه دار بابا د زېږون نېټه د هغوي ځوي ښاغلي یار احمد شاه 1905ء ښايي خو د هغوي د کتاب "امېل" په اخري مخ 112 د ورکړې شوې سوانح عمرۍ تر مخه په کال 10-1909ء کښې د صوابۍ په جلبۍ نومې کلي کښې زېږېدلے وهٔ. د والد صاحب نوم ئې محمد شاه وهٔ او شجره نسب ئې د شېخ المشائخ جېلاني ځوي د اسماعیل شاه پشیني په واسطه شېخ عبدالقادر جېلاني ته رسي. د دوي کورنۍ تر شپږو پېړیو پورې په جلبۍ کښې، د هغې نه څو پېړۍ وړاندې په پیرپايي زاخېلو کښې اوله هغې نه وړاندې په پشین کښې وسېدلې ده۱. ټېکدار بابا د اسلحې ډېر ښهٔ مستري وو او د څهٔ مودې نه د دغه کاروبار په لړ کښې په مردان کښې مېشته وهٔ ، له دغې علاوه د تعمیراتي کار ټېکداري ئې هم کړې وه او هم په دغه وجه په ټېکدار بابا مشهور وهٔ. هم دلته په مردان کښې په شلمه مئي 1996ء د گل په ورځ د شپې لس بجې په حق ورسېدهٔ او په سبا له د مردان د سید جلالِ بخاري په مقبره کښې ماسپښین دوه بجې خاورو ته وسپارلے شهٔ





او دغه شان د انساني تاریخ د ټولولو نه خېرتاکه صدۍ په وړومبۍ عشره کښې سترگې غړولو او په وروستۍ عشره کښې سترگې پټولو او د اوږد طبعي ژوند سره سره د یو اوږد شاعرانه ژوند تېرولو سره ټېکه دار بابا د پښتو اولسي شاعرۍ په حواله د تاریخ یو اهم باب وگرځېدهٔ.

د اولسي شاعرۍ په حواله د ټېکه دار بابا خدمات دومره زیات او رنگارنگ دي چې په دې لنډ تنگ مضمون کښې د هغو احاطه کول ناممکن دي. د هغوي کتابونه "سُندر ښاپېرۍ" چې د بدلې په شکل کښې پکښې یوه قیصه منظومه شوې ده "درصدف" چې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم منظوم سیرت دے ،"مېدانِ جنگ" چې د سن نولس سوه پینځهٔ شپېتهٔ د پاك بهارت د جنگ منظوم واقعات لري او "امېل" چې د پښتو شاعرانو او ادیبانو منظومې خاکې " د چاربېتې په شکل کښې لري، ټنگ ټکور، حشبِ زېتون او برغ موران ئې د چاربېتو مجموعې دي او دا ټول کتابونه داسې دي چې هر یو د ځان ځان له مقالې غوښتنه کوي خو دلته زهٔ د طوالت نه د بچ کېدو په خاطر صرف د بابا د چاربېتو پورې محدود پاتې کېدل غواړم او کوشش کوم چې په مجموعې توگه



www.pukhto.net

د هغوي د چاربېتو غټ غټ خصوصيات په اختصار سره وړاندې کړم.

چاربېته يو کثير الهېئتي صنف دے او څنګ چې هېئتي تنوع لري نو دغه شان پکښې د موضوعاتو د بيان هم څهٔ قېد نشته. هره موضوع د چاربېتې موضوع کېدے شي او د دغه پابندۍ ازادۍ نه چاربېتي شاعرانو هر کله پوره پوره فائده اوچته کړې ده. د ټپکه دار بابا په چاربېتو کښې هم د عشقيه (خوکم) اخلاقي، تاريخي ، سياسي، نعتيه، حمديه، مناقب، د اسلامي شخصيتاتو سره تړلي څنې واقعات، د قران او حديث تعليمات، سماجي او ثقافتي موضوعات بلکې لکه د خور وور ژوند هر څهٔ موندے شي او دغه شان د بابا شاعري خصوصاً چاربېتې د پښتنو مسلمانانو د تېر او روان ژوند هنداره ده.

په چاربېته کښې اکثر د واقعاتو بيان په واقعاتي رنګ کښې زيات شوے وي ، د تخيل رنګ امېزي پکښې کمه وي ، د شعريت په ځاے نظميت ته رجحان زيات وي ، خارجي اهنګ ته په داخلي اهنګ تر جيح ورکولے شي. د استعارو او علامتونو په مقابلا کښې په تشبيهاتو زيات زور راوړے شي ځکه چې تشبيه هم زيات تره د خارجيت او معروضيت ترجمانه وي. شايد د دې هر څهٔ وجه اولس





ته مخاطبه وي او چونکې د اولس زيات شمېر بې سواده اوبې تعليمه وي ځکه نو چاربېتي شاعران هم د خپل مافي الضمير د استعارو او علامتونو په پرده کښې د نغاړلو او د تخيل په رنګ کښې د رنګولو په ځاے واضح او نېغ په نېغه اظهار ته ترجيح ورکوي. دغه رجحان د ټپکه دار بابا په چاربېتو کښې هم ډېر زيات دے خو بيا هم کله کله ئې اولس په سوچ او غور و فکر مجبورولو د پاره چيستانونه، اړونه او معمې هم وئيلي دي او دغو چاربېتو ته ئې د فني چاربېتې نوم ورکړے دے. البته د هغوي څنې چاربېتې د دغه سنګين معروضيت او خارجيت نه مستثنیٰ دي. په دغو چاربېتو کښې د هغوي يوه اوږده چاربېته "امېل" هم شامله ده چې د تشبيهاتو سره سره ئې پکښې د شاعرانه تلازماتو او استعارو نه هم پوره کار اخستے دے او د شاعرانو او اديبانو پېکرونه ئې د تخيل په رنګ کښې رنګ کړي پېش کړي دي او دغه انځور ګري د چاربېتې په تاريخ کښې يوه زبردسته تجربه ده چې په کلهمو چاربېتي شاعرانو کښې د بابا برتري څرګندوي. د دغې چاربېتې نه دا يوه کړۍ د نمونې په طور پېش کوم:

کونجکې مشکنې کهٔ طالبان ګرځوي
د علم په ميانۍ کښې چې موران ګرځوي

تل سپوږے د هما سره د ځان ګرځوي
دا ځکه خېرالحق ځۀ شهسوار غوندےدے

په دې کړې کښې د کونجکو، مشکنیو او مورانو استعاراتي، علامتي او د هما د سیوري تلازماتي او ذومعني استعمال سره ئې د میا صاحب خېر الحق ګوهر د استاذانه او عالمانه شخصیت خاکه په ځومره ښکلي پېرایه کښې راښکلې ده او هم دغه شان ئې د اکثرو شاعرانو ادیبانو قلمي انځورونه جوړ کړي دي.

د بابا د چاربېتو یو بل اهم خصوصیت د ژبې وسیع المشربي ده. د شعر جوړولو په وخت چې هغوي له هر ټکے کۀ هغه د هرې ژبې وي مخې له ورغلے دے نو د هغې په استعمال کښې ئې د لساني تعصب نه کار نۀ دے اخستے. هغوي په خپله شاعرۍ خصوصاً چاربېتو کښې د عربۍ او فارسۍ سره سره د انګرېزۍ او اردو ټکي هم استعمال کړي دي لکه ټکټ، د قلم جرمنۍ ځوکه، سوهي (سوهني) ټېټ، ډائنامېټ، سکیم، ناچونه، کنګڼ (ګنګن) چوټونه، چمکدار، نګر، ګائل، نوټس، سروش، سرټیفیکېټ، رنګوټان، فټ، فېر (فائر) کنکشن، کهېل، رېل ، پلټن، ورکشاپ او داسې نور بې شماره لفظونه چې عام اولس ئې د انګرېزۍ او اردو د اثر د لاندې په خپلو خبرو اترو کښې په خپل مخصوص تلفظ کښې





استعمالوي او هم په هغه تلفظ کښې ټېکه دار بابا هم استعمال کړي دي خو دغه لفظونه بد ځۀ چې لا ښۀ لګي:

وي د سترګوپه کتو کښې دې ګزار د ګولۍ
په خندا دې د مشین چلولے فېر فېر دے
د سرونو نه دې ډکه وي په ښکار کښې جولۍ
که پتنګ د شمعې خوا کښې مړ وي خېر خېر دے
د پېرزوان دې په لبانو وي چغار کښې بولۍ
کنکشن پرې د نتکۍ لکه د وېر وېر دے
سرۀ لعلونه پرې کلۍ د کوتي لال زانګي
توري زلفې دې په مخ لکه د ټال زانګي
لونګین ئې د ختو د پاره بام بام جي
خوشامندې کوم بت له سادو رام رام جي

ټېکدار بابا د چاربېتې په ټولو مروجه هېئتونو کښې چاربېتې وئیلي دي او د خپلې مخصوصې ژبې د استعمال په وجه اکثرې چاربېتې په تول پوره کړي دي.

د قلم د ټیکه داره خبر نۀ شوې
د ټوپك سره کلهارې جنګوې

25مه مئي 1996ء

***

# جوشي علی حېدر

جوشي علی حېدر د پښتو په هغه شاعرانو کښې وهٔ چې د اولسي شهرت او مقبولیت نمر ئې د پښتو ادب په اسمان د یوې اوږدې زمانې پورې ځلان او تابان پاتې شوے دے۔ کوم پښتون به وي چې د هغهٔ نوم به ئې نهٔ وي اورېدلے یا به ئې د هغهٔ یو نه یو کتاب نهٔ وي لوستے۔ علی حېدر جوشي د پښتون اولس خاص او عام وګړي ته یو شان ځان رسولے وهٔ ۔ د هغهٔ شاعري کهٔ یو طرف ته د حجرې د مېلس او ټنګ ټکور ساه وه نو بل پله د جومات او منبر نه د ملیانو د وعظونو او نعت خوانانو د مولودونو ښکلا هم وه۔

علی حېدر جوشي د شلمې میلادي صدۍ په دوېمه لسیزه یعني نولس سوه شپاړس کښې د یوسفزیو مندڼو د سیمې د مشهور کلي سمېلا (اسماعیله) کښې زېږېدلے وهٔ ۔د بابی خېل خاندان د داود خان په درنه کورنۍ کښې ئې سترګې غړولې وې۔ تعلیم ئې څهٔ په رواجي او څهٔ په غېر رواجي توګه دومره کړے وهٔ چې د هغهٔ دماغ ئې د علم په رڼا منور کړي وو ۔ هغه په عقیده کلك او د هر قسمه بدعاتو او شرکیاتو نه پاك او سپین سپېځلے پښتون مسلمان وهٔ ۔ د هغهٔ د شاعرۍ یوه ډېره درنه برخه





بلکې زیاتره د مذهبي جوش او جذبې نه ډکه په پښتني اسلامي روح معموره او د پښتني اسلامي ثقافت ائینه داره ده:

ستا په نیت پورې ترلي دي دا دواړه
کهٔ جنت ګټې و ځان ته کهٔ عذاب
اے غریبه خدا ے اسره که چې کامیاب شې
د بتانو په سجده دې شرافت لاړ

علی حېدر جوشي د اولسي شاعرۍ په هر صنف طبع ازمائیلې ده خو د هغهٔ خصوصي مېدان بدله یعنې منظومې قیصې دي او په دغه حواله ئې د ټولو نه غټه او لویه کارنامه چې هغه ئې د شهرت په اسمان ځولے دے د یکه یوسف (یوسف خان شېربانو) قیصه ده چې په کال نولس سوه ځلوېښت کښې ئې د بدلې په نوم منظومنه کړې وه ۔ په دغه روماني داستان کښې چې د بدلې (مثنوي) په شکل کښې دے هغهٔ د خپل تخلیقي توان او د بیان د تخیلي اوتمثیلي انداز دومره په موثره پېرایه کښې اظهار کړے دے چې د پښتو په داستاني ادب کښې ئې نهٔ صرف دا چې یو اوچت مقام موندلے دے بلکې مجاز د حقیقت او تخیل د واقعیت رتبه تر لاسه کړې ده ۔ یوه زمانه خو داسې وه ، دپښتنو د وړوکي

وړوکي او مشر مشر په خلهٔ به د دغه قیصې څهٔ نه څهٔ حصه هر وخت ګویانه وه '

یو قیصه درته کوم د ګل په رنګ
چې دې لرې شي د خورې زړګي نه زنګ
د اکبر په زمانه کښې زما لاله
غوږ پرې کېږده خبروم دې له احواله

دا د دغه قیصې د اولسي مقبولیت وجه ده چې د پاکستان جوړېدونه پس د پښتو وړومبے فلم په دغه قیصه جوړ شهٔ. دغه فلم د یوسف خان شېربانو په نوم په کال نولس سوه یو اویا کښې ریلیز شوے وهٔ. د دغه قیصې کردارونو له ژبه او د سندرو خوارهٔ هم علی حېدر جوشی ورکړي وو. دغه قیصې او دغه فلم د پښتو په داستاني ادب او ثقافتي تاریخ کښې د کلاسيك رتبه تر لاسه کړې ده او علی حېدر جوشی ته ئې د لیجنډ مقام ورکړے دے.

د یکه یوسف د قیصې نه پرته علی حېدر جوشی ګڼ شمېر منظوم اثار پرېښي دي لکه

- د یار مینه
- ګلِ سرحد
- پیغام جنت





- آدم روح
- حکایت لا جواب
- دیدار حسېن
- رامداد خان
- عجیبه ګل
- پردے غم
- انصاف
- د دنیا رواج
- انجام غرور
- څهٔ چې وینم هغه وایم
- د اخلاص هدیه
- دیوان حېدري
- ایمان نخښه
- اخري توبه
- نیت او مراد
- ښکلے ژوند
- دیوان جوشی
- علم او هنر
- غل او ساز
- خان او کِسان
- پېغور

- تېر مثالونه
- لالونه سمندر کښې

د علی حېدر جوشی دغه ټول کتابونه د شعر او سخن په بيلو بيلو او رنګا رنګ صنعتونو لکه بدله، رباعي، حمد، نعت، غزل، نيمکۍ، ټپه، مصرئيزه، چاربيته، مرثيه، منقبت، معمه او داسې نورو مشتمل دي. هغه د خپل رنګ او اهنګ يو قادرالکلام او پُرګو شاعر وهٔ او د اولس د ذوق او مزاج رښتونے ترجمان وهٔ.

پښتو شاعري او ادب په درېو قسمونو کښې وېشلے کېدے شي.

I. فولکلور
II. فني ادب
III. اولسي ادب

کهٔ څهٔ هم د اولسي ادب يا اولسي شاعرۍ اصطلاح لږ ابهام لري خو د دغه ټولو قسمونو ادبونو باقاعده لوستونکيو د پاره ئې تصور دومره واضحه دے چې بې د څهٔ تشريح يا تفسير نه پرې سړے پوهېږي چې د اولسي شاعرۍ نه مراد کومه شاعري ده. دا شاعري کهٔ په هر صنف کښې وي خو د عام اولس د عامې ذهني سطحې او عمومي مزاج مطابق وي. په پوهېدو کښې يا د شاعر مدعا ته په رسېدو کښې هېڅ قسمه اِشکال يا ابهام نهٔ





لري. د دغه ټولې شاعرۍ روح نزدې نزدې يو شان وي، د ابلاغ قوت پکښې زيات وي. د اولسي ژوند، تهذيب او تمدن په باره کښې د عمومي تصور ترجمانه او عکاسه وي. مخاطبه ئې زياتره بې سواده اولس ته وي او د امروزه ژوند سره څنګ په څنګ وي. د دغه روحيې مطابق د علی حېدر جوشی ډېر شعرونه د عام اولس په ژبه ختلي، مشهور او مقبول شوي دي لکه:

نـهٔ په مينه مرېدهٔ شته نـهٔ په مال
نهٔ په عمر څوك مرېږي نهٔ په سوال

مانۍ څهٔ له جوړوې اخر به لاړ شې
دومره بس ده چې په تا څڅېږي نه

چې تسبې ئې وي ټګۍ له جوړې کړې
چې درغله پرهېزګار وي ورك دې شي

علی حېدر جوشی په اولس کښې د سمېلا علی حېدر، علی حېدر استاذ، جوشی علی حېدر او علی حېدر بابا په درنو نومونو ياد وهٔ او دغه ټول نومونه هغهٔ په خپلو منظوماتو کښې راوړي دي او د هغهٔ د مقطعو د شهرت او مقبوليت سره دغه نومونه عام شوي او مقبول شوي

دي ـ دغه شهرت او مقبوليت په اولسي شاعرانو کښې د ډېرو کمو نصيب شوے دے که څه هم د اولسي شاعرانو تر مينځه به شاعرانه چشمك زيات وي خو بيا هم د علی حېدر استاذ د دې شعر :

د سمېلا علی حېدر چې څو ژوندے وي
سر دې نۀ پورته کوي نور شاعران

په عکس د هغۀ د عصر ټولو شاعرانو هغۀ ته احترام لرلے وۀ د مثال په طور زۀ به صرف د يو شاعر عبدالله استاذ د نوښار ذکر وکړم ـ عبدالله استاذ د علی حېدر جوشی د شاعرۍ په باره کښې ليکي :
شعرونه ئې جذباتي او غټ غټ مثالونه دي ، هر مثال ئې د کانړي کرښه ده او د زړونو مقناطيس دے ؛
(ديوانِ جوشي صـ۲)
د علی حېدر جوشی شاعرۍ د مذهبي خيالاتو سره سره ، د حسن او ښکلا د تذکرو ، د اعلیٰ پښتني او اسلامي قدرونو او ثقافتي انځورونو ائينه داره ده :

شانه کړے دې وربل دے نور څۀ نۀ دے
زړۀ زما ورپسې بيل دے نور څۀ نۀ دے





محبت به دې زياتېږي څه راڅه
د رقيب زړۀ به خوږېږي څه راڅه

ابوجهل درې پنځوس حجونه وکړۀ
څوك تر اوسه ورته نۀ وايي الحاج

کوم سړے چې په موسم د کر غافل شي
کړي په وخت د درمندونو ارمان پټ پټ

ګوټ کنډر او جېب وهل څۀ هنر نۀ دے
ځـــان ســـاته د دې ګـــنـده هـنـر نه بچ

د دنيا په حرص هېڅوك نۀ مړېږي
راشه واخله اے بنده د اخرت ورځ

د پښتو مشهور او ښۀ شاعر عبدالغفران بېکس (مرحوم) د ديوان جوشي په سريزه کښې ليکي :
د سوچه پښتون د پښتونولۍ د رواياتو ترجماني په ساده او مانج شوې پښتو کښې د جوش نه ډك دا ديوان يوه ګلدسته ده چې پکښې يو خوا د حسن او عشق پاکيزه جذبات دي او بل خوا د نصيحت رنګ رنګ غوټۍ دي يو درياب دے چې

روان دے يو بهير دے چې جاري دے ، د
سړيتوب او انسانيت تقاضو ته دا شعرونه د
لوستونکي لمن راکاږي.

د علی حېدر جوشی په فن ډېر څهٔ ليکلی کېدے شي. هغهٔ چې په کومه زمانه کښې شاعری کړې ده د هغې ښه بد ئې د خپل شعر په ژبه بيان کړي دي او د پښتنو د ټولنيز ژوند پوره خاکه ئې راښکلې ده. د يو ډېر اوږد او پټ موړ شاعرانه ژوند تېرولو نه پس دا صدارتی ايوارډيافته شاعر په شپږمه فروری کال دوه زره درې په حق ورسېدهٔ. په ګور ئې نور شه.

ماته هر کار د دې دنيا خوشے بازار ښکاري
خوشي بازار سره مې نهٔ شي د سودا خبرې

ښهٔ پوهېږم چې د خېټې په مذهب شوې
نور څهٔ نهٔ غواړې تش وخورو کښې دې پام دے

د پښتون مثال په مثل د سندان دے
چې په مينځ له ټسه چوې سندان په څهٔ يې
وايي دا علی حېدر چې خپل مې نهٔ کړې
نفسه پښې درباندې ږدم په رب توکل دے





او د هم دغه اولسي رنګه ژبې په ذريعه نېغ په نېغه خو پُر تاثيره پېغام سره به استاد جوشی علی حېدر تل تر تله د پښتون اولس په زړونو کښې ژوندے وي.

23م ستمبر 2009ء

***

# د میا حمدالله فقیر خېل "دیوان"

د میا حمدالله فقیر خېل دیوان چې ښاغلي میا وکیل شاه فقیر خېل ئې تدوین کړے دے او مقدمه ئې پرې لیکلې ده او په خپل خرچ ئې په وړومبي ځل په اگست نولس سوه اووۀ نوي کښې چاپ کړے او خور کړے دے۔ دوه سوه اتۀ اویا مخونه لري چې د مندرجاتو ترتیب ئې دا دے۔ وړومبے د ښاغلي عبدالله بختاني خدمتگار پېژندنه ده چې د الف نه تر واو مخه خوره ده۔ ورپسې د ښاغلي میا وکیل شاه مقدمه ده چې د سریزه د عنوان لاندې د یو نه ته تر پینځویشتو مخونو اوږد والے لري۔ ورپسې د دیوان اصل متن شروع کېږي چې په یو سل شپږ درېش غزلونو درېو مناجاتونو او فارسي غزلو مشتمل دے۔

میا حمدالله د خوشحال بابا د ورور فقیر جمیل بېگ په اولاد کښې په دیارلسمه هجري صدۍ کښې تېر شوے دے، د زېږون او مړینې تاریخونه ئې نۀ دي معلوم البته د کوټې صوابۍ د روحاني پېشوا سید محمد امیر صاحب (1210 تا 1294هجري) په باره کښې لیکلې شوې کتاب "مدح الابرار" په ذریعه ئې د ژوند د زمانې تعین کېږي۔ دغه کتاب میا حمدالله د ذکر شوي باباجي په مریدانو کښې گڼي او په دولس سوه څلور اویا هجري





کښې ئې د خپل پیر له طرفه قاشقار، گلگت او تانگیر ته د تبلیغ او دعوت په سلسله کښې په سفر ښایي۔

هر کله چې د کوټې باباجي د سید احمد شهید د جهادي تحریك كلك ملگرے وۀ نو د هغۀ په وجه د میا حمدالله هم دغه تحریك سره تړون مسلم دے۔ کۀ څۀ هم په داخلي توگه د ستائیلي شاعر په کلام کښې دغه تحریك ته ښېخې څۀ اشاره نشته۔ د دغه پورته خبرو تفصیل ښاغلي مدون په خپله سریزه کښې پېش کړے دے۔ دلته ئې ملخص ذکر ما په یو خاص مقصد وکړۀ چې لاندې کرښو کښې به ئې وضاحت وشي۔ د پورته ذکر شوي تاریخ دولس سوه څلور اویا نه مونږ دا قیاس کولے شو چې زمونږ شاعر د دیارلسمې هجري صدۍ په نیمه کښې ژوند کړے دے۔ دغه زمانه د پښتو کلاسیکي شاعرۍ د دور نه پسته دور دے۔ چې زۀ ئې د اولسي یا چاربېتي شاعرۍ او تقلیدي فني شاعرۍ دور گڼم۔ د دغه دور ټولو فني شاعرانو د کلاسیکي شاعرانو پېروي او تقلید کړے دے۔ د ژبې، تکنیك، ډکشن او اسلوب په لحاظ ئې هېڅ تجربه نۀ ده کړې۔ تر دې چې موضوعات او مضامین ئې هم روایتي او تقلیدي دي۔ بس دا یو کردار ئې لوبولے دے چې د کلاسیکي اسلوب تسلسل ئې تر څوارلسمې هجري پېړۍ رارسولے دے۔ د سیاست نه په اخذ شوے ادبي

اصطلاح کښې دا خبره مونږ داسې هم کولے شو چې د مغلوالې دور د پښتو شاعرۍ زرین دور دے او ټول د اوچتې درجې کلاسيك شاعران په دغه دور کښې تېر شوي دي. ورپسې د سیکوالې او پېرنګ والې دور راځي چې د اولسي یا چاربېتي شاعرۍ او اولسي مزاحمتي شاعرۍ دور ورته هم وئیلے شو. په دغه دور کښې د پښتنو د ملي شعور ترجماني په چاربېتو کښې ښه شوې ده. په دې خاوره د سیکانو او ورپسې پېرنګیانو سره د مبارزو عکس هم په اولسي شاعرۍ خصوصاً په چاربېته کښې ښهٔ روڼ ښکاري. د دغه دور فني شاعرانو د اخلاقیاتو درس او له دغې زاویې په معاشره تنقید د خپلې شاعرۍ موضوع ګرځولې ده. د کلاسیکي شاعرۍ صرف د یو اړخ په افراط سره تقلیدي اظهار کړے دے.

په دې پس منظر کښې چې مونږ د میا حمدالله شاعري ځیرو نو په دې نتیجه رسو چې هغوي هم شاعري تقلیداً کړې ده او د رحمان بابا اسلوب ئې خپل کړے دے او ځان ئې په دغه رنګ کښې د شریکو شاعرانو همنوا کړے دے. د میا صاحب شاعري هم لکه د رحمان بابا د شاعرۍ ساده ، اسانه او عام فهمه ده خو فرق دا دے چې د تخیل پرواز ئې د رحمان بابا نه ډېر کم دے. مذهبي خیالات پند او نصیحت ، اخلاقیات، د دنیا بې ثباتي، د





اخروي ژوند یادونه ، د حقیقي او مجازي مینې امېزش د میا صاحب د شاعرۍ جوت موضوعات دي خو د تخیل رنګ امېزي د تشبیهاتو ، استعارو او نورو لفظي او معنوي محاسنو استعمال کم کوي. نېغ په نېغه خبره کوي، د مضامینو جدت او ندرت نهٔ لري خو ژبه ډېره سُتره او روانه استعمالوي. د مضمون په تړلو د مهارت ثبوت ئې ټوله شاعري ورکوي چې څومره غزلې ئې وئیلي دي نو صرف یو بحر ئې د پښتو شاعرۍ مقبول او خوښ یعني دولس سېلابي بحر دے استعمال کړے دے.

د زړو شاعرانو یو روایت دا هم دے چې په غزل کښې دوه مقطعې راوړي. د دې په عکس د یوې نه زیاتې مطلعې راوړل د جدید غزل ګو شاعرانو خاصیت دے. په زړه شاعرۍ کښې د دوو مقطعو د التزام مثالونه ډېر دي او په دغه لړ کښې میا حمدالله له ټولو وړاندې تلے دے. د هغهٔ زیات شمېر غزلې دوه مقطعې لري. یو بل خصوصیت ئې دا دے چې هر غزل ئې د تاثر مکمل وحدت لري او د یو مسلسل او مربوط کېفیت اظهار وي.

د دې دیوان یو بل خصوصیت چې زهٔ ئې له ټولو اهم ګڼم دا دے چې غزلونه ئې د هجې د تورو په ترتیب نهٔ دي. کهٔ څهٔ هم دې عمل سره دا د دیوان له تعریفه وځي خو چونکې قلمي نسخه ئې د شاعر د خپل لاس لیك ده نو

داسې ښکاري چې د غزلو دغه ترتیب د دې د تخلیق یا نزول ترتیب هم دے. کهٔ په دقت وکتے شي نو کلام کښې ئې د یو ارتقایي یون نخښې صفا ښکاري. د سر د غزلو نه د اخر په غزلو کښې د ژبې بیان او بندش پختګی او ښکلا زیاته ښکاري او ښاغلے مدون دا ډېر ښهٔ کړي دي چې د غزلو ترتیب ئې هجایي کړے نهٔ دے. داسې به یوه تکنیکي غوښتنه پوره شوې وه خو د کلام فطري او طبعي ترتیب او ښائست به له مینځه تلے وهٔ البته کهٔ نوم ورله دیوان نهٔ وے وکړے شوے نو دغه اصولي تنقید به پرې نهٔ وارېدېدهٔ.

د شاعر د ژوند او فن په باره کښې د ښاغلي زیار ډېر د قدر وړ دے. خپله مقدمه ئې په ښه طریقه پېش کړې ده. البته یوه خبره چې زهٔ ئې محسوسوم دا ده چې املا ئې زړه ساتلې ده چې اوس ئې رواج ډېر نهٔ دے پاتې. بله خبره دا ده چې ښاغلي مدون د قلمي نسخې په املایي اړخ ښېخې څهٔ نهٔ دي وئیلي. هر کله چې قلمي نسخه د شاعر د خپل لاس لیك ده نو پکار ده کهٔ څهٔ خاص خبره پکښې نهٔ وه هم چې اجمالاً یا ارشارتاً ئې څو خبرې په دغه حقله کړې وے. دا د متن پوهنې یا متن کتنې یو ضروري جز دے ، باید چې ښاغلي میا صاحب ورته خیال کړے وے. زما په خیال دغه اړخ ته د توجه نهٔ کولو په وجه د ښاغلي مدون





نه ډېر شعرونه بې بحره شوي دي لکه د زړو نسخو د املا یو اصول دا وو چې د کومو لفظونو وروستے حرف به متحرك وهٔ نو زو زېر یا پېښ به ئې پرې اچولو یا فرض کولو چې په جدیدې املا کښې مختفي ه، ې ، او و سره لیکلے شي کهٔ داسې ونهٔ شي نو د دغه زوړ املایي اصول نه بې خبره لوستونکیو ته به هغه شعرونه یا مصرعې ساقط الوزن ښکاري لکه :

کهٔ په خپل پرېشانۍ څوك ملالېږي
فکر نهٔ کړي خوشحال شته څوك جاودان

په وړومبۍ مصرعه کښې د لفظ خپل لام مفتوح دے چې په نوې املا کښې خپله لیکلے شي ، پرېشانۍ درې سیلابي لفظ دے.

په یو شان هېڅوك خود نهٔ پاتې کېږي
د ماضي حال ئې اوس وکړه تهٔ پرسان

په وړومبۍ مصرعه کښې د لفظ شان ن مکسور دے چې په نوې املا کښې شانې لیکلے شي.

قراري مې له صورته بېګانه شهٔ
اویزان د حوادث په جال ګرځم

په دوېمه مصرعه کښې د لفظ حوادث ث مضمومه ده چې نوې املا ئې حوادثو ده. دا درې شعرونه ما د نمونې په طور پېش کړل ګني په کتاب کښې ئې شمېر ډېر زیات

دے بلکې لوستونکيو ته کۀ چرته هم شعر بې وزنه ښکاره شي د هغې سبب به هم دغه املايي غلطي وي.

په دې ديوان کښې درې مناجاتونه هم دي ، مناجات دعائيه نظم وي چې د حمد يو قسم هم ورته وئيلې شو او د نعت او منقبت سره صنفي توپير لري په دغه دريو مناجاتونو کښې وړومبے نعت دے ، دوېم د فقير جمال خان يعني جميل بېګ منقبت دے او درېم د مناجات مخصوص مضمون لري. د ديوان اخر کښې دوه فارسي غزلې دي چې په حقله ئې زۀ له څۀ ليکلو معذور يم. د دې ديوان اشاعت د ادبي نه پرته يو تاريخي حېثيت او ارزښت هم لري . د پښتو هغه ټول اثار چې تر اوسه موندلے شوي دي او چاپ نۀ دي بايد چې کم نه کم يو يو ځل خو چاپ شي ، دې سره به نۀ صرف دغه اثار محفوظ شي بلکې د ژبې تحريري تسلسل به هم قائم پاتې شي او د ژبې د ارتقا نشېب او فراز به هم ترې معلومېدے شي ځکه نو ښاغلے ميا وکيل شاه فقير خېل زمونږ د ډېرې منننې او مبارکۍ مستحق دے.

17م اکتوبر 1997ء

***





# د سعيد ګوهر
# په شاعرۍ يو ځغلنده نظر

اروانښاد سعيد ګوهر (1947-12-25 نه 2010-8-21 پورې) د پښتو شعر او ادب د جديد دور د درېم کول نمائنده شاعر ، اديب، محقق او نقاد وۀ. په وړومبي کول کښې زۀ هغه ليکونکي ګڼم چې د 1901ء او 1920ء په مينځ کښې پېدا شوي دي. په دوېم کول کښې هغه ليکونکي دي چې د نولس سوه شل او نولس سون څلوېښت په مينځ کښې پېدا شوي دي په درېم کول کښې هغه ليکونکي دي چې د نولس سوه څلوېښت او د نولس سوه پنځوس په مينځ کښې پېدا شوي دي.

ښاغلے سعيد ګوهر يو صاحبِ طرز شاعر او نثر نګار وۀ او د پښتو شعر او ادب د علمي او فني روايت يوه اهمه کړۍ وه. دې سره سره د اردو شعر او ادب د مېدان هم يو غښتلے شهسوار وۀ او په دغه اساس د هغۀ په دواړو ژبو کښې د ليك شان بېخي ډېر منفرد دے. هغۀ همېشه په خپلو ليکونو کښې د نظريو او ډلو په ځاے ادبي ، ژبني او کلتوري غوښتنې په نظر کښې ساتلې او په عمل کښې راوستلې. د پښتو ادب د ژبني، ادبي او کلتوري رواياتو نه پوره خبر وۀ . په دغه حواله ئې ژور علمي او تنقيدي

نظر لرلو ، تحقیق او تنقید ئې په علمي او عقلي بنیادونو او تخلیق ئې په فني، جمالیاتي او فکري بنیادونو اودرولې او بامونو ته خېژولې وهٔ خو زهٔ دا وخت د هغهٔ تحقیقي، تنقیدي او نور نثري اړخونه پرېږدم او د هغهٔ د شاعرۍ په حقله خبره په وړاندې بوځم.

په ژبني حواله چې زهٔ د سعید ګوهر شاعرۍ خصوصاً غزل ته ګورم نو په دې نتیجه رسم چې هغهٔ د غزل د ژبې د هغه مجتهدانه رنګ نه کسب فیض کړے دے ، د کومې بنیاد چې په لسمه پېړۍ کښې روښاني شاعرانو خصوصاً میرزا خان انصاري ایښے وهٔ ، د غېر شاعرانه سنجیده او درنو لفظونو استعمال چې سره د درووند والي او ثقالت خپل یو علوي او متین شان لري لکه د میرزا د شعرونه:

هغه ملك له خلله نهٔ خلاصېږي
چې لښکر ئې لوامه او اماره کا
دم په دم له خپله ذاته لرې وځې
په وطن کښې اشنا نهٔ مومې غریبه
خلوتیان دې و بازار وته خوارهٔ کړهٔ
د حجرې روښنايي وخته و بام ته

د سنجیده او درنو لفظونو دغه قلار ،مهین او متین انداز د ګوهر په شاعرۍ کښې هم د کتو دے ؛





سرګردانه په اسمان کښې دعا ګرځي
زهٔ اودهٔ وم چې کوم وخت د اجابت وهٔ
یو سړے د خپل عمل له خجالته
له دنیا څخه روان دے او لاس مړې
وزګار نهٔ یم چې افاق مشاهده کړم
انجمن یم د خپل ذات په تنهایۍ کښې

دا هغه ژبه نهٔ ده کومې ته چې شاعرانه ژبه وئیلې شي ، د تشبیهاتو ، استعاراتو ، رنګینو رنګینو ترکیبونو شعري صنعتونو او لفظي رعایتونو هغه استعمال نهٔ لري کومو سره چې عموماً د شاعرۍ لوستونکي یا اورېدونکي اشنا او شاعران پرې رسوا وي. د یو مخصوص ذوق سره هم اهنګ وي او تسکین ئې کوي . دلته د ژبې په جمالیاتي ائینه کښې د جذبې په ځاے فکر جلوه نما دے او د بیان پېرایه علامتي او اصطلاحي ده . په اصطلاح دې څوك تندے نهٔ غوټه کوي ځکه چې اصطلاح هم د ژبې مجازي استعمال دے.

د ګوهر د شاعرۍ د ژبې بل خصوصیت دا دے چې کومه ژبه هغهٔ په نثر کښې استعمال کړې ده هم هغه شان ژبه ئې شاعرانه اظهار له هم ورکړې ده او زما په خیال په شعر کښې د دغه شان ژبې استعمال د ټولو نه ګران کار دے.

په نثر خصوصاً په تحقیقي ، تنقیدي او علمي نثر کښې د رنګین بیانۍ هېڅ ګنجائش نهٔ وي خو په شاعرۍ کښې رنګین بیاني او زېبِ داستان لازمي عنصر ګڼلے شي . تشبیهات، استعارات او رنګین ترکیبونه د شاعرانه ژبې ځرګند صفت دے او اکثر داسې کېږي چې هم یوه خبره په بدلو بدلو تشبیهاتو او ترکیبونو کښې په تکرار سره کولے شي او د لفظونو د بدلون سره د مضمون تکرار د ناګوار په ځاے خوشګوار کولے شي خو کومې ژبې ته چې ما د ګوهر د شاعرۍ په حواله اشاره وکړه هلته د مضمون تکرار نشته ، نهٔ د رنګینو لفظونو لباده شته او نهٔ د لفظونو په رنګینو کښې د لوستونکیو په زوړ مال تېرباسل شته.

زمونږ هر تورے یو تصویر دے د ژوندون د سلوك
مونږ فنکاران یو و ډبرې ته څهره ورکوو

اضطراب زما سرشت دے خپل وجود له مانه لرې
اطمینان زما رقیب دے انتشار له ما سره دے

په ولاړ نمر هم له مونږ ورکه لاره لیکه د ژوند
شپې ته حاجت څهٔ وهٔ د بخت تاریکه لړه نهٔ وه





د ګوهر د شاعرۍ اهنګ او د لفظونو ترون د لحن او ترنم د پاره نهٔ دے بلکې دا ټوله شاعري د تحت الفظ شاعري ده او د تحت الفظ شاعري د زړهٔ په ځاے ذهن ته اپیل کوي . سرے راپاروي نه په سوچ ئې مجبوروي او د سرغونډکي په ځاے ئې سر نیولو ته جوړوي . زما دا مطلب هرګز نهٔ دے چې ګني د هغهٔ په شاعرۍ کښې لحن یا ترنم نشته یا په ترنم کښې نهٔ شي وئیلے . د هغهٔ شاعري په وزن بحر پوره شاعري ده او په وزن بحر پوره شاعري د لحن او ترنم په کالیو هم ښائسته کېدے شي خو د دې کوم خوند چې په تخت الفظ کښې وي هغه په ترنم کښې نهٔ وي.

تر اوسه چې ما د ګوهر په شاعرۍ څومره بحث وکړهٔ نو د هغهٔ ژبني خصوصیات مې په نظر کښې وساتل او هم دغه د هغهٔ انفرادیت دے او د دغه اسلوب د پاره کهٔ زهٔ یو ترکیب وضع کول وغواړم نو هغه به دا وي چې د هغهٔ د شاعرۍ اسلوب نثارانه اسلوب دے.

پاتې شهٔ د هغهٔ د شاعرۍ موضوعاتي اړخ نو هر کله چې تر اوسه د هغهٔ د شاعرۍ (په پښتو کښې) صرف یوه مجموعه چاپ شوې ده "په خیري لمن کښې امېد". په هغې کښې هم د هغهٔ د ژوند د وروستي دور شاعري شامله ده یعني د کال نولس سوه څلور نوي نه تر کال دوه

زره پورې. دغه پورته بحث او وروپسې راروان بحث هم د دغه چاپ مجموعې په بنیاد دے چې د هغهٔ د شاعرۍ د هېئت او ماهېئت د ارتقايي پړاوونو اندازه ترې نهٔ لګي ځکه نو دا بحث د ترمیم ، تنسیخ او اضافې ډېر ګنجائش لري.

په دې مجموعه کښې ګوهر د جذباتو نه کم او فکر نه زیات کار اخستے دے. دا شاعري چې هغهٔ په کوم عمر کښې کړې ده نو په دغه عمر کښې سړے جذباتي کم او فکر مند زیات وي. دغه فکر مندي په ذاتي حواله هم وي او په اجتماعي حواله هم ؛ دلته د فکر مندۍ حواله اجتماعي ده. هغهٔ د افغان ملت غم هم ژړلے دے ، د مسلمان ملت هم او عالمي انساني الميو له ئې هم د اظهار ژبه ورکړې ده.

یا زما په زړهٔ کښې سر پرې کړې مړې ښخ دي تول
یا د کابل جان په زمکې لو د سر فصلونه شول
یا په فلسطین کښې د سر لوبه نا تمامه شوه
یا په کشمریانو تر محشر هم سخت وختونه شول
یا د بوسنیا په خاوره باندې د فنا اتڼ
یا د کربلا په سینه بیا تازه زخمونه شول
یا و پښتونخوا ته ماشومانو ښېره کړې ده
یا د ئې هېر ګوهره له مولا کچکول لاسونه شول





ډېر ازمونه ، مذهبونه، مسلکونه ، رهنمونه
د انسان ښېګړې واړه له اسلامه څخه ښکاري

شاعري په حال کښې تخلیق کېږي ځکه چې د احساس او تجربې تعلق د حال سره دے خو حال د ماضي او مستقبل نه بې تعلقه نه وي. شاعر عموماً په حال مطمئن نهٔ وي او د هر شاعر ادرش دا وي چې حال دې بدل شي او انسان دې ښهٔ او خوشحاله مستقبل ته ورترغاړه وځي. د دغه ادرش نه دوه رجحانات مینځ ته راځي یو رجحان دا دے چې شاعر بار بار خپلې ماضي ته د رجوع رویه ښکاره کوي ، د ماضي ښې ورځې یادوي ، د خپل تاریخ او روایاتو سره د مینې او تړون څرګندونه کوي. د ماضي د احیا ارمان ښکاره کوي . دغه نفسیاتي کېفیت ته ناستلجیا وايي چې دوېم نوم ئې رجعت پسندي ده. دوېم رجحان دا دے چې د حال د بدلون د پاره د مستقبل نوو نوو امکاناتو ته غېږه پرانستې ولاړ وي او د نوو قدرونو مینځ راتګ ته د قبولیت صلاحیت پېدا کوي. دا بې شکه د ادب او فکر انقلابي او ترقي پسنده رویه او نظریه ده.

سیعد ګوهر هم د هر باشعوره او حساس شاعر په شان د پښتانهٔ په زاره چاودي حال ببخي خواشینے دے. د بدلون

ارماني دے او د ښهٔ مستقبل د پاره د رجائیت نه ډك پیغام لري:

انتظار دے د بـهار ، بـهار به راشي
ابدي نهٔ دے تکلیف ، قرار به راشي
دومره مهٔ وار خطا کېږه له تا جار شم
شپه سحار لري قربان سحار به راشي

د ژوند خلاف ملګریو مزاحمت ضروري
بدو بدیو سره مبارزت ضروري

ظلم ته لاس ونیسه جبر تر ګرېوان ونیسه
خوراکښے ولې ژوبلوې د کلي خان ونیسه

د غریبانو حق وهلے دے یو څو کسانو
د خدا ے په وېش کښې د هېچا هم حصه لږه نهٔ وه

وړاندې چې ما د بدلون د کومو دوو رجحاناتو ذکر وکړهٔ او په دغه پورته شعرونو کښې مې په حال د عدم اطمینان تصویر وړاندې کړهٔ نو د دې په رڼا کښې زهٔ قضاوت په لوستونکیو پرېږدم ځکه چې کهٔ دا کرښې څوك لولي نو بايد چې هغوي کم نه کم دغه چاپ کتاب "په څیرې لمن





کښې امېد" هم ولولي او د پرېښودي جواب د لټون سره د هغهٔ د شاعرۍ د نورو ګڼو اړخونو نه هم ځان خبر کړي.
24م ستمبر 2010ء

***

# د لفظونو جادوګر

زاهـــده ځکـه په ښکلا د غـزل پوهه نهٔ شي
چې خوښوي تشه معنیٰ، اظهار ته نهٔ شي کتے

معنیٰ هم ښه ده ، خيال هم ښهٔ دے خو زاهده ګوره
پيـدا چـې نهٔ شي په غـــزل کښې د لفظونو ګيلې

د يو معاصر ليکونکي په حقله تنقيدي ليکنه کول ډېر ګران کار وي وجه ئې دا وي چې د لوستونکيو په عدالت کښې تخليق کار او نقاد دواړه لاس تړلي پېش وي او د دغه عدالت په کرسيو ناست ججان ډېر بې ريا او د ډېرو وسيعو اختياراتو خاوندان وي او کهٔ لږه هم بې احيتاطي وشي نو د ډېرې سنګينې سزا سره د مخ کېدو احتمال وي ـ دلته د دغې ګرانې سره سره ماته يوه بله ګرانه هم پېښه ده چې زهٔ نهٔ صرف د محترم زاهد سره عصري اشتراك (خصوصاً د قيامتونه دي لمحې تر حده) لرم بلکې زاهد زما مشر ،دوست او مربي هم دے خو په يوه خبره زړهٔ له ډاډ ورکوم او هغه دا چې کهٔ زما رابې غلطه يا کمزورې وي نو د لوستونکيو نه د بخښانې امېد او د محترم زاهد نه د عفوې خواست کوم۔





د هر لوي او اهم شاعر په شاعرۍ کښې ځنې داسې اشارې موجودې وي چې د هغې په مدد سره د هغه شاعر په فنپارو د تنقيد د پاره نهٔ صرف لاره هوارېدے شي بلکې ځنې اصول ترې هم اخذ کېدے شي۔د تنقيد د ټولو نه ښه طريقه دا ده چې د متعلقه شاعر د شاعرۍ نه هغه ټولې نقطې راوېستے شي د کومو نه چې د هغهٔ په شعري رويو رڼا اچولې کېدے شي ـ دې طريقې ته د تنقيد په اصطلاح کښې د داخلي شهادت طريقه وئيلے شي او زما په خيال داخلي شهادت د خارجي شهادت نه زيات معتبر وي۔
ما چې د دې مضمون کوم عنوان ايښے دے او په سر کښې مې د زاهد کوم دوه شعرونه ورکړي دي د هغې نه دې څوك دا مطلب هېڅ کله وانهٔ خلي چې ګني زاهد صرف د لفظونو جادوګري کوي او معنیٰ يا خيال ته څهٔ اهميت نهٔ ورکوي ـ زما په خيال د اسلوب پېژندنه د شاعرۍ د مغز يعني د مضامينو نه زياته د الفاظو په انتخاب او استعمال يعني ډکشن ښهٔ کېدے شي۔
مونږ چې په کوم عصر کښې ژوند کوو دا د اجتماعي شعور دور دے ـ پښتون قام او پښتو ژبه چې د کومو پېښو، کشالو او مسئلو سره مخ دي د هغې احساس ، اظهار او ترجماني د پښتو ليکونکيو مشترك قدر او

طرز دے او د دغه حالاتو ردِ عمل په اکثرو لیکونکیو یو شان ممکن کېدے شي خو هر کله چې مرحله د اظهار راشي نو بیا کتے شي چې اظهار د چا موثر دے او په دغه مرحله کښې د ډکشن اهمیت ښهٔ ځرګند شي. زما په خیال د زاهد طرز د هغهٔ د لفظونو انتخاب او بندش، د بحرونو چستي ، د ردیفونو رواني او رنګیني، د لفظونو تکرار، د خیالاتو سادګي او په سادګئ کښې زور والے نهٔ صرف منفرد دي بلکې ناقابلِ تقلید او بې مثاله دي. ځوك کهٔ د زاهد پېښې کوي نو خپل تګ به ترې ضرور خطا کېږي.

کهٔ ځوك ساده زړے او سهل پسنده د زاهد په شاعرئ په لنډو د خپلې رایې ځرګندونه کوي نو وبه وایي چې زاهد بنیادي طور د غزل شاعر دے. نظم هم لیکي خو غزل ښهٔ لیکي خو د زاهد د غزل حق دا قسمه روایتي او تاثراتي رایې نهٔ شي ادا کولے. د هغهٔ د غزل دپاره به د پښتو د جدید غزل په روح کښې ځان او په ځان کښې دغه روح جذب کول غواړي او د دغه جذب او انجاذب نه پس به د زاهد غزل د هغهٔ په چشمو کښې کتل غواړي.

د غزل په مزاج د پوهېدو د پاره د انساني نفسیاتو نهٔ صرف ژوره مطالعه بلکې تجربه هم پکار ده. د جمالیاتو فلسفیانه موشګافئ نه بلکې نېغ په نېغه جمالیاتي





تجربه او اعلیٰ جمالیاتي ذوق هم پکار دے او زاهد ته دغه ځیزونه قدرت ډېرپه فیاضئ ورکړي دي.

اوس به درته پته د سوي ولګي زړګیه
یار چې لکه ګل په مُسېدو خبرې زده کړې
ما اوښکې کړې زر اوچې په تارونو د لمن
سرونه د خبرو ستا نامې ته رسېدل

محترم زاهد د ابتدا نه راواخله تر ننه د غزل باقاعده لیکونکے دے. د هغهٔ د ابتدایي دور شاعري ما نهٔ ده لوستې خو اورم چې په هغه وخت کښې هم د هغهٔ د غزل درز په ټوله پښتونخوا کښې خور وهٔ. او کله چې د هغهٔ د دویم دور شاعري د پرخه په نوم چاپ شوه نو د هغهٔ د غزل رعب نور هم په خلقو کښېناست. د پرخه شاعري د پښتو په جدید غزلي شاعرئ کښې یو منفرد او اوچت مقام لري . په پرخه کښې زاهد د غزل د امکاناتو د وسعت پوره پوره ثبوت ورکړے دے ځکه نو د پرخې نه پس چې لوستونکي د "قیامتونه دي لمحې" شاعري ګوري نو کهٔ شعوري نهٔ وي نو غیر شعوري خو د موازنې او تقابل خیال به ئې په ذهن کښې خامخا راځي.

دلته زما مطلب د زاهد د دواړو شعري مجموعو موازنه او مقابله کول هیڅ کله هم نهٔ دي خو هسې یوه خبره مې

ذهن کښې راځي او هغه دا چې د زاهد د پرخه د غزلو "زمکې" خلقو دومره وستائيلې او دومره ئې خوښې کړې چې قيامتونه دي لمحې کښې ډېرو ځايونو کښې سړے داسې محسوسوي لکه چې زاهد د بحرونو او رديفونو په غورځنګ کښې لاهو شوے دے لکه:

- ➢ هم تلۀ په زولنو کښې هم راتلۀ په زولنو کښې
- ➢ ورتلل دي په صليب او هم راتلل په دي په صليب
- ➢ ملګريو بس وعده باندې راتلۀ ترې خطا کېږي
- ➢ ستا ماته کتل مرګ دے زما تا ته کتل مرګ دے
- ➢ د تلو مې درته وې خو د راتلو مې درته نۀ وې
- ➢ راتلونکي دي وختونه او کۀ تلونکي دي وختونه
- ➢ دا څۀ رنګې راتلۀ دي دا راتلۀ به دې ما مړ کړي

دا مصرعې د سياق او سباق نه بيلې پېش کول کۀ څۀ هم غېر محفوظ فعل دے خو بيا هم په ټول کتاب کښې نۀ صرف دا مصرعې بلکې داسې نورې ډېرې مصرعې او شعرونه په سړي ساه ډوبے راولي او داسې محسوسېږي چې د لفظونو دغه جادوګر د بحرونو او رديفونو اسير شوے دے او زما په خيال زاهد د خپل دغه شعر

زاهـــده ځکه په ښکلا د غـــزل پوهه نۀ شي
چې خوښوي تشه معنىٰ اظهار ته نۀ شي کتے





په جوش کښې د افراط او تفريط ښکار شوے دے. د هر شاعر په تخليقي ژوند کښې يوه دوره داسې وي چې هغه د هغۀ د تخليقي ژوند بهترينه دوره ګڼلے شي او دغه دوره (کۀ څۀ هم دا رايې زياته مستنده نۀ ښکاري) د شلو کالونه تر څلوېښتو يا زيات نه زيات تر پينځو سو کالو وي. په دغه دور کښې د شاعر جذبې ژوندۍ وي، اعصابي نظام ئې قوي او جنسي جوش ئې په غورځنګونو وي، د هر قوت مقابلې ته تيار وي او د فکر په ځاے جذبې ته زيات اهميت ورکوي. زما په خيال د دغه دور شاعري په جذباتي لحاظ د شاعر د شاعرۍ کلائمکس ګڼلے شي. کۀ څۀ هم ما سره د ترديد ويره هم ده خو داسې محسوسوم چې پرخه د زاهد د شاعرۍ کلائمکس دے. افسانو کښې هغه افسانه ښه ګڼلې شي چې انجام ئې په کلائمکس پسې سمدستي واقع شي خو په شاعرۍ کښې انجام چونکې وي نه (په شرط د دے چې سړے فطري شاعر وي) ځکه نو شاعر صرف په نقطۀ منتها د ولاړ پاتې کېدو کوشش کوي او کوم شاعر چې په دغه نقطه ولاړ پاتې شي يا ورته نزدې نو هغه اصلي شاعر دے. زاهد کۀ د پرخه په نقطۀ انتها ثابت قدم نۀ هم وي خو راپرېوتے ترې هېڅ کله نۀ دے او هم دا د هغۀ شاعرانه کمال دے.

لکه سپوږمۍ ځکه یواځې اوسم
ستوري چې تل ما ځایول په زړهٔ کښې

ستا د اوږدو زلفو سودا رانه خوبونه یوړل
سترګې مې سپینې شوې سحر ته جوړې شپه نهٔ رسي

د یزید ظلم کړل رایو ځاے د حسېن ملګري
ګـنـي نـا پوهه د صحرا خلق په څهٔ پوهېدل

ښکاري چـا تـړلې کمـڅې پرانستې زاهده
ما ته د زندان په زولنو کښې خوشبويي شوه

وروزې دې ملاتړې د ښو شي چې غصه شې
څهٔ د خپرو کـهٔ پـه دره کښـې دشمنـي ده

زاهد نهٔ صرف د غزل ښهٔ شاعر دے بلکې د غزل استاد شاعر هم دے۔ په غزل د هغهٔ ګرفت دومره مضبوط دے چې چرته هم د هغهٔ په شاعرۍ کښې هنري عاجزي نهٔ محسوسېږي۔ د پښتو په جدیدو غزلګو شاعرانو کښې دا خوبي د حمزه بابا او قلندر مومند نه پس د زاهد په غزل کښې زیاته ده ۔ د لفظونو په تلازماتي استعمال





کښې هغهٔ ته بې شانه مهارت حاصل دے۔ هغه خبرې هم چې هر شاعر ئې کوي۔ د لفظونو په زربفتو کښې داسې ونغاړي چې د بوډۍ نه ناوې جوړه کړي کېدے شي چې زما دې خبرې سره څوک اتفاق ونهٔ کړي خو دا حقیقت دے چې زاهد د غزل په مزاج د هر چا نه زیات پوهه دے خو دا منل به هله ممکن وي چې مونږ د عقیدتونو او تعصباتو د خولونو نه بهر ته راوځو۔ په دې سائنسي دور کښې کهٔ څهٔ هم اکثر خلق شعر او ادب له جمالیاتي نقطهٔ نظره سنجولو ته ښهٔ نهٔ ګوري او د ادب د تنقیدد پاره د سائنتفك اصولو د حد نه زیات حمایت، تلقیقن او تبلیغ کوي۔ کهٔ څهٔ هم د دې طریقهٔ کار ډېرې فائدې دي خو د شاعرۍ ذوقي او جمالیاتي عنصر نظر انداز کول نهٔ صرف ناممکن دي بلکې زیاتے هم دے۔ د ذوق، جمال او ذوقِ جمال پېژندنه لا په سائنسي معنیو ممکنه شوې نهٔ ده ۔ او د ډېر زیات سائنسي کېدو باوجود هم مونږ د تنقید په وخت له تاثراتي او جمالیاتي اثره او له اظهاره ئې بچ کېدے نهٔ شو او د شاعرۍ د مطالعې په دوران کښې مونږ په غېر شعوري او غېر محسوسه توګه ځان د جمالیاتي لذت په طلسم کښې اسیر ګڼو ۔ دغه حال د زاهد د شاعرۍ د مطالعې په دوران کښې هم وي۔ هغهٔ کهٔ یو طرف ته خپل غزل په هئیت کښې د تجربو او جدتونو

په ذریعه د جمالیاتو معروضي انداز خپل کړے دے نو بل پله د موضوع د ښائست نه هم غافله نهٔ دے. هغهٔ کهٔ د تریخ نه تریخ خیال یا حیقیقت هم پېش کړے دے نو د خپل معروضي جمالیاتي مهارت په زور ئې هغه مضمون حسین او جمیل کړے دے او چې د جمالیاتو د موضوعي دنیا په ګل ګشت تلے دے نو قاري ئې هم د ځان سره د کېف ، سرور ، لذت او حظ په غورځنګونو کښې لاهو کړے دے. زما په خیال د" قیامتونه دي لمحې" ټوله شاعري په دې وصف پوره ده.

نن ئې په خپله تپوس وکړهٔ چې په زړهٔ دې څهٔ دي
ژبــه مــې اودرېده ربښتیا خبرې نهٔ شي کېدے

ستا د نظر اثر مې هغه شان لا سترګو کښې شته
پــې مـــخي ډېر دي خو په ما د چا نظر نهٔ لګي

***





# ژوندي لفظونه

''ژوندي لفظونه'' د ښاغلي محمد زبېر حسرت څلورمه شعري مجموعه ده چې د افغانستان د لیکوالو انجمن له خوا د ښاغلي نعیم باتور په اهتمام په دولتي مطبعه کښې په مانو ټائپ شوې ده او ښاغلي افضل ټکور ئې ترتیب او تدوین کړے دے او سریزه ئې پرې لیکلې ده. دا مجموعه کهٔ څهٔ هم طباعتي ښائست نهٔ لري خو معنوي ښائست ئې زیات دے.

ښاغلے زبېر حسرت ''د خیال په سیوري'' نه راپه دې خوا په خپل ادبي او شعري سفر کښې د ګڼو پړاوونو نه راتېر شوے دے او د هغهٔ دغه څلور واړه مجموعې کهٔ په ژور نظر وکتے شي نو د هغهٔ د شعري ارتقا پته ترې په اسانه لګېدے شي. د خیال په سیوري او زما او ستا سندرې لوستو سره د سړي په ذهن کښې دا خبره راځي چې دا د یو داسې شاعر شعرونه دي چې مستقبل ئې روښانه ښکاري خو چې کله ''غزلزار'' ته راورسي نو د شعري ریاضت او تجربه کارۍ بخرې پکښې ورته څرګند و بربښي. یوه خبره په ابتدا کښې سپینول غواړم او هغه دا چې ښاغلے حسرت یو بېسیار ګو شاعر دے خو د هغهٔ

دغه بېسیار ګویي داسې نهٔ ده چې ګني خپل معیار ئې راغورزولے دے.د هغهٔ خوبي دا ده چې ډېر هم لیکي او ښهٔ هم.

په "ژوندي لفظونه" کښې ښاغلے حسرت د یو باشعوره او سترګه ور فنکار په رنګ کښې ځان ښکاره کوي. ښاغلي حسرت کښې تخلیقي توانايي ډېره زیاته ده.د ادب او شاعرۍ په هر اړخ چې هغه وغواړي نو غوره لیك پرې کولے شي.ژوندي لفظونه د هغهٔ یو ښهٔ تخلیقي زیار دے.

دې مجموعه کښې ګڼ نظمونه څو غزلې او قعطې شاملې دي خو اهمیت او انفرادیت ئې په دې زیات دے چې د نظمونو برخه ئې د نورو صنفونو نه درنه ده او دا ښېك مرغي په دې ده چې د ښاغلي حسرت په وړاندینو کتابونو کښې نظمونه نیشته.حالانکې هغه د غزل سره سره نظم هم ډېر ښهٔ لیکي او په نظمونو کښې ئې د خیال او مقصدیت سره سره تکنیکي تنوع هم ډېر زیات دے.د ازادو او غېر مقفیٰ نظمونو نه علاوه د هغه په پابندو نظمونو کښې هم د ژبې او تکنیك څهٔ عاجزي نشته او دا د هغهٔ په قادرالکلامۍ دلالت کوي.

ښاغلي حسرت په خپلو نظمونو کښې د رومانیت سره سره د قامي غوښتنو او محرومیو اظهار او ترجماني





پوره پوره کړې ده.هغه چې خپل قام د کومو سماجي، سیاسي او ثقافتي کشالو سره مخ ویني ، په ټولنه کښې کوم اړے ګړے او انتشار دے.پښتو او پښتون سره کوم ناروا سلوك کېږي هغه ترې غافله نهٔ دے او په خپل نظم کښې د هغې اظهار او ترجمانۍ د پاره د خپل تېر او رروان تاریخ نه اکتساب کوي.استعارې، تشبیهات او علامتونه ترې اخذ کوي او د خپلو نظمونو او غزلونو ښائست او پسول ئې جوړوي.په " امانت" نومې نظم کښې هغه خپل زړګے او ذهن د اولس امانت ګڼي او د دواړو نه د هغه کار اخستو عزم څرګندوي کوم کښې چې د هغهٔ د خوار و زار اولس ګټه وي.

په "تکلونه" کښې هغه د خپل چاپېرچل د غم زپلي او غم ناك حالت تصویر پېش کوي.هغه چاپېرچل چرته چې محرومۍ دي، ولوږې، تندې دي ، انتشار دے او د بیلتون، جدايي او بې اتفاقي ده نو شاعر ئې خپل اولس ته د نغمې په ژبه ورښکاره کوي او په اخر کښې ورته د امېد لمن په لاس کښې نیولې چغه کوي چې

احساسات به رالړزېږي سرې جنډې به اوچتېږي
د وختنو دا خدایان به نکسور پرمخې غورزېږي
دا جامونه به ماتېږي مېخانې به نسکورېږي
دا اودهٔ به راویښېږي دا نظام به ټول بدلېږي

## د ژوندون په نوې لار به تکلونه ته جوړېږي

"روښان" نومې نظم کښې هغه پیر روښان د شعور، یوالي، اوچتې حوصلې، ننګ او مړانې د علامت په توګه پېش کوي او پښتنو ته د خپل ماضي یو ورک سپرکے ور په یادوي.

"سنګر" کښې هغه د وطن په مینه او ستاتنه کښې هره قرباني کمه ګڼي او د وطن مینه په هر څۀ مقدمه ګڼي ځکه چې وطن لاړ نو ننګ ، ناموسِ حیا ، پوهه، شعور ، مینه او حسن هر څۀ لاړل.دا ټول قدرنونه دغه یو قد ازدۍ سره تړلي دي. غلامي تیارۀ ده او ازادي رڼا چې رڼا نۀ وي نو تیندکونه خوړل، سر ماتېدل او په نتیجه کښې ئې د ژوند نه لاس وینځل یقني شي.

د باچاخان ، رحمت شاه سائل ، عبدالروف زاهد ، خان بهادر حسرت ، بنجمن مولائس او مقبول بټ په شان شخصیتونو باندې نظمونه لیکلو سره ښاغلي حسرت د انسان دوستۍ پوره پوره ثبوت ورکړے دے . دا ټول شخصیتونه د ظلم زور او استحصال په ضد د صلحې ، ازادۍ ، انسانیت او یو والي علمبرداران وو او دي . د دغه پورته شخصیتونو د نومونو په ترڅ کښې ښاغلے افضل ټکور په خپله سریزه کښې د پیر ګوهر او غني خان





ذکر هم کوي ، حالانکې د دوي په حقله ښاغلي زبېر حسرت نظمونه نۀ دي لیکلي.

"ژوندي لفظونه" د مقصدي او روماني شاعرۍ یو حسین امتزاج دے.د اکثرو نظمونو نه علاوه د هغۀ غزل هم د حسن او عشق ، شراب او شباب او ګل و بلبل د تذکرو نه زیات د سماجي او سیاسي شعور پوره پوره ثرګندونه کوي خو دا خبره زۀ په ډاډه زړۀ کوم چې چرته هم نظمیت د هغۀ په شعریت نۀ دے غالب شوے او دا ځکه چې هغه د زړۀ له درده په کوکار دے . دغه خبرې ، هغه د فېشن په طور نۀ کوي لکه ځینې خلق چې ګرځي خو په موټر کښې او خبره د مزدور کوي.

د ښاغلي حسرت غزل کښې لکه چې د جدید غزل مجموعي مزاج دے . د تغزل کمے دے . دا زما په خیال ژوند ته له جمالیاتي زاویې د نۀ کتو وجه ده یا د حالاتو جبر دے چې هېڅ یو شاعر ترې خلاص نۀ دے.

د ژوندي لفظونه شاعري د مزاحمتي شاعرۍ هم یو ښۀ مثال دے ، کۀ څۀ هم د دې مجموعې ، اکثر نظمونه او غزلې د مارشل لایي دور پېداوار دے خو د جمهوریت په راتلو هم د وطن اولس خوشحالي او سوکالي ونۀ لیده بلکې د جمهوریت په نوم چې کوم استحصال د قام وشۀ یا کېږي هغه اوس هم د مزاحمتي ادب او شاعرۍ د پاره

محرك جوړېدے شي او زهٔ په دې ډېر خوشحاله يم چې ښاغلے حسرت د دغه احساس نه غافله نهٔ دے.
په دې مجموعه کښې د ناسټلجېك شاعرۍ نمونې هم شته. د رانقل کولو نه ئې اول بايد چې په ناسټلجيا هم څهٔ رڼا واچولے شي. ناسټلجيا د يونانۍ ژبې ټکے دے چې مطلب ئې "کور ته د واپس تلو درد ناك خواهش دے. دا اصطلاح په سر سر کښې ډاکټرانو د هغه سپايانو د پاره استعمال کړې وه څوك چې د يورپي نوابانو د پاره وطن نه لرې جګنيدل دا يوه نفسياتي اصطلاح وګرځېده چې وروستو بيا د طبي شعبې نه ووته او په عام ژوند کښې په انفرادي يا اجتماعي توګه د ماضي د څهٔ واقعې يا تش په نوم خوشګوارې لمحې استعاره شوه. د دې لفظ نورې معنې هم وشوې لکه د وطن د ياد عارضه، د وطن د فرقت بيماري ، وطن ته د راستنېدو خواهش چې د بيمارۍ تر حده رسېدلے وي . د سويټزرلېنډ يو ډاکټر جوهانس هوفو د دې علامې داسې بيان کړې دي.

- يو خفګاني کېفيت
- د زړهٔ ماتېدل
- د ژړا ناځاپي دورې
- د ضائع کېدو شديد احساس





- کله نا کله د خودکشۍ خيال پېدا کېدل يا کوشش کول

د ادب نفسياتي نقادانو په ادب او شاعرۍ کښې هم د ناسټلجيا اثرات په ګوته کړل او هغه شعرونه يا ليکونه ئې ناسلټلجيك وګڼل چې دغه پورته علامې په کښې برېښي.
د ښاغلي حسرت په شاعرۍ کښې د ناسټلجيا احساس د جلاوطنۍ خو نهٔ دے ، البته په خپل وطن کښې د بې کوره کېدو تجربې هغهٔ ته د خپل کور او وطن د مينې احساس ورکړے دے ، هغهٔ څهٔ موده د خپل کور کلي نه لرې په نامساعدو حالاتو کښې په کراچۍ کښې تېرې کړې ده او بيا د کراچۍ کوم فسادي حالات چې هغهٔ ليدلي دي نو په داسې حال کښې د کور او وطن ارمان کول لازمي خبره ده بلکې کراچۍ کښې چې پښتنو سره څهٔ شوي دي هغې په کراچۍ نومې نظم د اجتماعي ناسټلجيا شکل اختيار کړے دے.

چې مې تېته پکښې نن هسکه غړۍ ده
د چا پښو کښې مې ريښې ريښې پګړۍ ده
د ستم پنجه مې ښخه په مرۍ ده
چې خبره اوس د نسل پرستۍ ده
هر امېد مې د زړګي په وينو سور دے

تمنا مې پکښې خپله نهٔ پردی ده
چې زما د قدم خاپې زغمے نهٔ شي
جورې دا خاوره زما نهٔ ده پردی ده

دغسې دا ټول نظمونه د کراچۍ د غېر یقیني صورت حال پوره نقشه پېش کوي او په دغه قسمه حالاتو کښې د غریب الوطنۍ احساس نور هم شدید شي.

اظهار کومه د وطن په ژبه ،پردي وطن کښې بې ژبانه یمه
د کراچۍ زمکې سوکړه موسم کښې ، ګله بې ګله بې بارانه یمه

په یو بل مکتوب نما غزل کښې ئې دغه احساس جوت دے:

ورك شومه له کلي له کالهٔ لیکم
در په در قیصه د ژوندانهٔ لیکم
څهٔ په ماتېرېږي په دې دشتو کښې
ښهٔ د حس سختن بې زهٔ به څهٔ لیکم
رونډ شومه د خاورې په خوشبو پسې
یاد ئې د اوبو په ژړېدهٔ لیکم
څهٔ به درته وایي مسافر حسرت





بس خو ئې د زړهٔ له ارمانهٔ لیکم

په دې مجموعه کښې څو قطعې هم شاملې دي. د دغه قطعو په حقله زهٔ دومره وایم چې یوه هم د قطعې ساختیاتي تقاضې نهٔ پوره کوي . قطعه صرف څلورو مصرعو ته نهٔ وایي بلکې د څلورو مصرعو شرط خو پکښې لازمي هم نهٔ دے. د قطعې د مصرعو شمېر شپږ، اتهٔ او لس هم کېدے شي. قطعه یو اسم باسمیٰ صنف دے لکه چې د نوم نهٔ ئې څرګنده ده. د قطعې سر قطع وي یعنې مطلع پکښې نهٔ وي. د ټولو شعرونو دوېمې دوېمې مصرعې ئې خپلو کښې هم قافیه وي او په ټوله قطع کښې یو مضمون بیان شوے وي، د فارم نه بغېر نورې د حسرت قطعې د خیال په لحاظ ډېرې ښې دي. د نمونې د پاره دا یوه قطعه وړاندې کوم او بس:

جامونه مات کړئ مېخانه نسکوره
شوه مو د صبر پېمانه نسکوره
رندانو ویښ شئ چې په هوش ئې کنه
شوله په تاسو زمانه نسکوره

***

# د پښتو غزل روایت
# او د حسرت انفرادي صلاحیت

" د ګل په کټوي کښې" د ښاغلي زېر حسرت پینځمه شعري مجموعه ده چې هغه ورته دویمه باقاعده مجموعه وایي . د هغه ورومبۍ مجموعه د خیال په سیوري (1982ء) دویمه مجموعه " زما او ستا سندرې" (1985ء) دریمه مجموعه " غزل زار" (1991ء) او څلورمه مجموعه " ژوندي لفظونه" (1991ء) ده . د هغهٔ په دغه ټوله چاپ شاعرۍ کښې یو ارتقایي سفر ښکاره محسوسېږي . هغه پرله پسې په وړاندې تلے دے . د هغهٔ د شاعرۍ موضوعاتي دائره خوره وره ده . د لفظیاتو پنګه ئې درنه ده ، فني وسائل ئې په لاس کښې دي او د اظهار پېرایه ئې زړهٔ راښکونکې ده خو بیا هم د هغهٔ د شاعرۍ نه د نور مخ په وړاندې تلو توقع پکار ده . کهٔ څهٔ هم د هغهٔ د دې مجموعې د شاعرۍ نه وړاندې ارتقایي سفر کړے هم دے خو دا مجموعه ئې د خپل وخت نه لږه وروستو چاپ کړه او د خپلې شاعرۍ جدید رنګونه ئې پکښې نهٔ دي شامل کړي . بل نظمونه خو ئې پکښې بېخي نهٔ دي





شامل کړي او دغه شان ئې خپل فن په یو اړخیزه توګه پېش کړے دے اولږ شان بېخي جدید عصر او جدید حسیت د اظهار او ترجمانۍ دائره ئې تنګه پاتې شوې ده . دازهٔ ځکه وایم چې د حسرت نظم د مضوعاتي تنوع او فکري سطحې د لوړ والي ښې نمونې لري او د دې موجوده چاپ مجموعې نه پس لیکلي غزل کښې د روایت د پېروۍ سره سره د نوو رجحاناتو او عصري غوښتنو ځلنده کرهٔ وړهٔ لري .

ښاغلے حسرت د خپل زوړ او نوي ادب خوره وره مطالعه لري، د شعري روایت نه ښهٔ خبر دے او په مونډي او پېوندي رجحاناتو ئې ژور تنیقدي او تحقیقي نظر لري . د شعري محاسنو او معائبو هم ښه پوهه لري چې نخښې ئې د هغهٔ په شاعرۍ کښې ښکاره برېښي .

د حسرت په دې مجموعه کښې د کال نولس سوه دوه اتیا نه تر کال نولس سوه دوه نوي پورې زمانه کښې د لیکلو شویو غزلو انتخاب شامل دے . کهٔ څهٔ هم یو څو غزلې پکښې د وروستو دور هم دي خو هغه یو څو دي . ځکه نو رنګ ئې دومره شوخ نهٔ ښکاري چې د هغهٔ دا مجموعه د بېخي جدیدو غزلو مجموعه وګرځوي . په دې موجوده شاعرۍ د پښتو د قدیم نه راواخله د جدید دور پورې د پښتو غزل د روایت اثر ډېر پوخ او شوخ دے . هغهٔ چې د

خپلو اسلافو او پېش روانو نه په کوم خلاص مټ فني او مضوعاتي اکتساب کړے دے د هغې نخښې ډېر جوتې دي خو دا خبره اهمه ده چې هغهٔ محض تقليد نهٔ دے کړے بلکې په خپل فن کښې ئې د نوي روح پوك وهلو نه وړاندې د خپل فن دپاره د نوي کالبوت جوړولو په خيال د پښتو د زوړ او نوي غزل د صالحو عناصرو د امتزاج نه د يوې ځانګړې مسالې جوړولو هڅه شروع کړې ده ځکه نو مونږ دا وئيلې شو چې د هغهٔ غزل د نوي کول يا د حسرت د کول په شاعرانو کښې خپل شناخت او خپل اهميت هم لري او د پښتو غزل د روايت تسلسل هم په ځاے ساتي.د پښتو غزل باقاعده روايت د ملا ارزاني نه شروع کېږي . د روايت نه زما مطلب د يو شاعر په بل شاعر اثر يا د وروستو راتلونکي شاعر د خپلو اسلافو نه اثر اخستل دي . ملا ارزاني پسې جُخت د ميرزا خان انصاري په ډاډ پښتو غزل لکه چې د تګ په ځاے تږپ وهلے وي . د فن او موضوع د توازن فکري او فني سنجيدګۍ ، متانت او ژورتيا د ميرزا خان انصاري غزل د پښتو غزل د روايت بنيادونه ډېر مضبوط کړل.د هغهٔ اثر په خپلو پس روانو ډېر ښکاره دے او ډېر شاعرانو ترې د فېض او اثر اخستو اعتراف کړے دے.د ميرزا خان انصاري او د هغهٔ د عصر د نورو ټولو شاعرانو د





اسلوب ډکشن او موضوعاتو د اشتراك په وجه د پښتو غزل د روايت وړومبے پړاو سر ته رسي . د روښانيت نه پس خوشحال بابا (1613ء – 1689ء) پښتو غزل د نوو رجحاناتو سره اشنا کړهٔ . د موضوع او هېئت نوې نوې تجربې ئې وکړې . د قاميت واضحه شعور، سياسي افکار ، صحت مند جنسي رحجانات ، د عصري او هنګامي حالاتو ترجماني ، د لهجې تېزي ، د اسلوب غورځنګ، د خور وور ژوند د رنګارنګ اړخونو عکاسي ، کوټلےسماجي شعور، انساني انفرادي او اجتماعي نفسيات د خوشحال بابا د غزل کالي دي او د ميرزا خان انصاري نه د ميزان موندلو او د هغهٔ ديوان په ګوډي منډلو سره ئې د پښتو غزل روايت ډېر مخ په وړاندې بوتلے دے . خوشحال بابا د هغهٔ ځامن او د هغهٔ مقلدين او متاثرين د غزل د روايت يو بل پړاو سر کوي.

رحمان بابا مشکلو صوفيانه افکارو ته عام فهمه او ساده لهجه ورکړه او د سماجي رشتو او تعلقاتو د انسانيت په مزي ترړولو ، د معاشي اقدارو د احترام، د اخلاقي نظام د قيام او د لهجې او وېنا خوږوالي او د زهٔ او تهٔ په مکالماتي انداز ورکولو د پښتو غزل يو بل باب مکمل کړهٔ

حمید بابا د انساني عشق دائره کثیرالجنسي کړه او محبوب ئې دغوښې او هډکو نه جوړ د یو نازك اندام پیکر په شکل کښې مخې ته اودروهٔ . د محبوب د مجموعي ښائست د ستائینې سره سره ئې د ښائست جُزئیات نگاري هم وکړه او په خپله نفسي پاکیزگۍ ئې د عشق او محبت د یو نوي باب پرانستو سره د پښتو غزل روایت یو پړاو نور وړاندې بوتلو .

کاظم خان شېدا د خپل هندي سبك فارسي امېز اسلوب د تخیل رفعت او ښېخې یو بیل ډکشن خپلولو سره د حمیدبابا قائم کړې روایت ته علوي شان وبخښلو . على خان او محمدي صاحبزاده د روزمره ژبې د استعمال ، مختلفو علمونو د اصلاحاتو نه د شاعرانه مضمون راېستلو او بحرونو کښې د تجربو سره د پښتو غزل کلاسیکي دوره اختتام او تکمیل ته ورسوله . د کلاسیك او جدید دورونو په مینځ کښې زمانه د تقلید او تکرار زمانه ده چې جدید غزل ته د فضا جوړولو او نوي تخم زرغونولو د پاره ئې زمینه تیاره کړه .

د پښتو جدید غزل نه وړاندې د پښتونخوا معاشرتي ، سیاسي او مادي حالات د تغیر ، بدلون او اړې گړې سره مخ شو . د سیك والې او پېرنگ والې په ضد د پښتنو مبارزې او د دغه مبارزو ثمره د خدایي خدمتگار تحریك





په شکل کښې راڅرگندېدلو د پښتو شعر او ادب د پاره هم یوه نوې مساله راوړه . خدایي خدمتگار دپښتنو یواځینے قامي سیاسي او سماجي تحریك وهٔ چې په پښتني ژوند ژواك او فن ادب کښې ئې یو نوے ورح پوك وهلو . د خدایي خدمتگار د عروج نه سمدستي پس او د هندوستان د وېش نه ډېر وړاندې د انجمن ترقي پسند مصنفین د قیام سره پښتو شعر او ادب او ورسره پښتو غزل هم هغه افکارو سره اشنا شهٔ کوم چې د دغه انجمن منشور وهٔ . د قام پرستۍ او ترقي پسندۍ په دغه دواړو بنیادونو قامي ازادي سماجي انصاف او تړون معاشي مساوات ، طبقاتي کشمکش ، سیاسي افکار او انقلابي رجحانات د پښتو غزل موضوعات هم وگرځېدل او دغه شان د پښتو غزل د یوې نوې توانایۍ سره مخ په وړاندې لاړ .

زېړ حسرت په خپل غزل کښې د کلاسیکل دور نه راواخله دجدید دور پورې مینځ ته راغلوعناصرو ،افکارو، رجحاناتو او مېلاناتو نه په خپل رنگ کښې استفاده کړې ده . سېوا د تصوف نه چې زما په خیال د روایت په پېروۍ کښې د غېر ضروري او غېر حقیقي عناصرو د اخراج ښهٔ ثبوب ئې ورکړے دے . ساقي ، شراب، جام، مېخانه، وعده، انتظار، رقیب، وفا، جفا،

ائینه ، زلفې ، سترګې، شونډې، رخسارونه، د زړهٔ زخمونه، ګل ، سپرلے ، ازغي، بلبل ، د بېلتانهٔ تراخهٔ ، د وصال خوږهٔ ، د پېزوان شړنګار ،سپېلني، لونګ، د وخت او حالاتو ناکړدې، سماجي ، معاشي ، طبقاتي کشکمش، پښتو او پښتون ولي ، د خپلې ژبې اهمیت ، د جانان او دوران د عشق او روزګار د غمونو پټ پټهونے ، د انفرادي محبت سره د اجتماعي محبت اظهار، د روښانه سباوون او بدلون امېدونه ، زړو لفظیاتو ته نوې ترقي پسندانه مفهوم ورکول او ځنې بېخي جدید حسیات د هغهٔ د غزل خوارهٔ وارهٔ موضوعات دي۔

د حسرت دا مجموعه د هغهٔ د مینځني دور په غزلو مشتمله ده چې د هغه بېخي نوو رجحاناتو او حسیاتو ته د داخلېدو د پاره د پُل کار کوي۔د هغهٔ د وروستي دور غزل عموماً او نظم ئې خصوصاً د جدت او ندرت ښې نمونې لري خو هغه خپل لوستونکي لا د انتظار په خوړو ماړهٔ ساتل غواړي۔د ګل په کتوري کښې شاعري د ټي ایس ایلیټ د روایت د نظریې مطابق بېخي په هغه تول پوره او درسته ده ۔ ایلیټ د یو شاعر اهمیت او لوے والي دپاره دا خبره ضروري ګڼي چې د هغهٔ د خپلو مشرانو او مرحومو شاعرانو سره څهٔ رشته ده۔د یو شاعر د مقام د تعین د پاره د هغهٔ د خپل روایت نه په ډېره نه





بلکې د خپلو مشرانو او مرحومو شاعرانو په مینځ کښې کښېښودل،و مقابله کولو او فرق څرګندولو سره کېدے شي ۔ د دې عمل د پاره هغه د تاریخي شعور په اهمیت زور راوړي ۔ د تاریخي شعور تعریف هغه دا کوي چې مونږ ته صرف د ماضي د ماضیت نه بلکې د هغې د موجودګۍ ادراك کول پکارد ي او د لیك په وخت مونږ له نهٔ صرف د خپل عصر او نسل احساس کول پکار دي بلکې د خپل ماضي ټول ادب هم ژوندے او په یو نظام کښې مربوط ګڼل پکار دي ۔ د ایلیټ د دومره اوږدې حوالې د پاره بخښنه غواړم خو دا خبره په وثوق سره کوم چې د حسرت شاعري د روایت په دغه تناظر کښې د تاریخي شعور ښهٔ نمونه ده۔

حسرت کهٔ یو طرف ته د خپلې کلاسیك شاعرۍ نه ډېر لفظیات لکه خط و خال، فراق ، وصال، هزار داستان، خاورې خجل، سیاه پوش، صدا ، خوبرویان، سوز او ساز ، عشق او جنون، اتش، ګنج ، افتاب، مهتاب، صهبا ، ساغر، کب ، سروې قد ، نقاب، غلاف، تشنګي، سحر ګر ، چشمان، خوبان، ګل افشان ، هېواد ، تلخي، پېمانه او داسې نور ډېر لفظونه خپل کړي دي چې د حسرت د کلاسیکي شاعرۍ په ژوره مطالعه او تاریخي شعور دلالت ورکوي نو بل پله ئې د خپلو مشرانو جدیدو

شاعرانو بلکې د خپل کول د شاعرانو نه هم په استفاده کښې د تذبذب نه کار نهٔ دے اخستے ، لکه دا یو څو مثالونه :

بخت به مو رڼا شي فکر مهٔ کوه
دا شپه به سبا شي فکر مهٔ کوه
(حسرت)

تېرې به تیارې شي تهٔ دعا کوه
دا ورځې به ښې شي تهٔ دعا کوه
(عبدالواحد قلندر)

زهٔ به هېرې په اور سوے جونپړۍ نهٔ کړم
کهٔ رڼا رڼا دې ګلې رنګ محل شي
(حسرت)

څومره جونګړو ته دې اور ورته کړهٔ
چې خپل محل ته دې رڼا راوسته
(سیف الرحمان سلیم)

هغوي د چا د زړهٔ شیشه په کاڼو باندې نهٔ ولي
(حسرت)

کاڼي دې څوك نهٔ ولي چې خپله شیش محل کښې دي
(قمر راهي)





هر پې مخے ئې مرید پرې دعوې ګیر شهٔ
د حسرت زړهٔ د همه پیرانو پیر شهٔ
(حسرت)

د جهان ښکلي مې داسې په زړهٔ پنډ دي
چې ګمان مې په خپل زړهٔ د سومنات شي
(قلندر مومند)

رنګ د پسرلو دې اننګو کښې چورلکونه خوري
(حسرت)

مستي دې اننګو کښې چورلکونه خوري ګډېږي
(سرور خټك)

حسرته سوچ کوم د چا په پل مې پل اېښے دے
پښې مې شوې ماتې په مزل ولې منزل نهٔ راځي
(حسرت)

د لېونۍ په پل مې پل پروت دے
ځکه په پښو کښې مزل پروت دے
(قمر راهي)

دلـــداري څـــهٔ ته وايي څهٔ وي دلبري یارانو
تلے نهٔ شو وخت سره په لار محبت ځنګه وکړم
(حسرت)

نـهٔ مـې دلـبري نـهٔ دلـداري وکړه
هسې مې د ژوند سره خواري وکړه

(هدایت الله ګل)

چې دا وختونه خسمړي مو روزګار پله وړي
په داسې حال کښې به د یار محبت څنګه وکړو

(حسرت)

زړهٔ کهٔ مې ډېره لمن رانښکه چې د یار په طرف
زهٔ د حالاتو ترخو بوتلم د روزګار په طرف

(اندېش)

زهٔ خو چې والوځمه خیال په وسعتونو لرم
چا اراده مې د تړلو د وزر کړې ده

(حسرت)

زهٔ په اسمان د الوتو نوي خوبونه وینم
تهٔ مې کوهي د ذلالت کښې ځوړند سر ترې

(اجمل خټک)

د خپل روایت نه په خلاص متې د استفادې باوجود حسرت روایاتي شاعر نهٔ دے. د هغهٔ د غزل خپل رنګ او اهنګ شته. هغهٔ د روایت نه استفاده کړې ده ، دې ته دې څوك سرقه نهٔ وایي ځکه چې ما ئې جواز د ایلیټ نه راوړے دے. هغهٔ ځان د خپلې لرې او نزدې ماضي د غزلي شاعرۍ وارث ګڼلے دے او مونږ له د هغهٔ دغه حېثیت تسلیمول پکار دي. تر کومې چې د حسرت د انفرادي صلاحیت خبره ده نو د هغې د پاره دا کافي ده





چې حسرت په خپل کول کښې یوائینے شاعر دے چې د قدیم او جدید نه ئې یو شان اثر اخستے دے. هغهٔ په زړو لفظیاتو کښې نوې او په نوو لفظیاتو کښې زړه خبره کړې ده او هم دغه د هغهٔ د اسلوب انفرادیت دے. لکه څنګه چې ما وړاندې لیکلي دي چې د حسرت دا مجموعه د هغهٔ جدیدې شاعرۍ ته د داخلېدو د پاره د پُل کار ورکوي ځکه نو په دې کښې د جدیدیت نخښې کهٔ څهٔ هم ډېرې څرګندې نهٔ دي خو بیا هم په دومره مقدار کښې شته چې د هغهٔ دا مجموعه پرې د ارزښت وړ ګرځي لکه:

زړهٔ مې سپك شي چې مې وورېږي سترګې
له بارانه پس د ښار موسم بدل شي

د تهذیبونو په زوال خو کتابونه ډك شي
د تهذیبونو په زوال کښې شاعري نهٔ کېږي

ستا سترګې دي دوه مستې جینکۍ د سیند په غاړه
کهٔ سېل له راوتلي دي ایلۍ د سیند په غاړه

دې ښار کښې څومره ښکلي وو له یادو مې وتلي
یو مخ وهٔ د کتاب غوندې په یادو راته یاد دے

د خوبرويانو په محفل کښې به حسرت څۀ وئيل
نقـارخانه کښې د طوطي اواز بـه چا اورېده

دلته کښې هر سړے له خپل قامته کم ښکارېدۀ
دلته کښې هر سړي په ځان لويې نامې اېښې وې

چې مې نظر ستا د زلفانو نه رخسار ته وځي
لکه ځنګل کښې چې روان وي څوك او ښار ته وځي

چا بيا د پښتانۀ د بې ننګۍ قيصې تازه کړې
نيمګړي چې مو پاتې شو په خلو کښې داستانونه

کومه نشه چې مې رګ رګ کښې لا تر اوسه ګرځي
هغه نشه مې ستا د سترګو په باور کړې ده

وينه ښه ډېره ارزانه د اجناسو بيعه خېژي
چې هېڅ نرخ په دې وطن کښې د سرونو پاتې نۀ دے

د رسوايۍ له ويرې مۀ ږده مې په خلۀ لاسونه
خوږه نغمه ستا د نامې نه بله نۀ شي کېدے





په مازيګر کښې د ګودر په غاړه
هغه زما په زړۀ کښې پښې وينځي

اوس چې دې په خپل چوکاټ کښې خپل تصوير هم نۀ راځي
چا درته ښودلي مې اشنا باغونه شنۀ شنۀ دي

دا او داسې نور ډېر شعرونه چې د موضوع او فن ښې نمونې دي د خپل عصر ترجماني دي او د ياد پاتې کېدو صلاحيت په ځان کښې لري. مونږ د حسرت نه طمع لرو چې هغه به خپله بله مجموعه ډېره زر چاپ کړي او خپل ځان به بېخي په جديد شکل کښې څرګند کړي ځکه چې په دې کتاب کښې حسرت ځاے په ځاے داسې اشارې کړې دي چې ډېر موضوعات د هغۀ په نظر کښې دي خو لا په قابو کښې ئې نۀ دي راغلي او هم دغه فني شعور د هغۀ په جديديت دال دے.

حسرته ډېر خيالونه راشي لاړ شي
خو نۀ رديف نۀ قافيه کښې راشي
خيال ته مې راشي خو له خياله مې حسرته وځي
بلا خيالونه بې رديف او قافيې پراتۀ دي
14م اګست 2004ء

***

# د همایون همدرد
# شاعري د سندونو په رڼا کښې

د کتاب چاپ کولو په لړ کښې په زلمو شاعرانو کښې یو رجحان هشترك او ډېر عام دے چې په خپلو کتابونو کښې ګڼې سریزې یا تعریفي تبصرې شاملوي - په یو لحاظ کهٔ دغه رجحان بد نهٔ دے نو په بل لحاظ کم نه کم ماته یو صحت مند رحجان په دې نهٔ ښکاري چې په دغه سریزو یا پېش لفظونو کښې اکثر د کتاب د مندرجاتو سره هېڅ تعلق نهٔ لري او کهٔ لري هم نو په انتقادي رویه مبني نهٔ وي بلکې د تعلقاتو او یارانې دوستانې سرهٔ پرې غالب وي یا یو مشر لیکونکي د یو کشر شاعر د زړهٔ ساتنې د پاره د داسې تعریفي کلماتو اظهار کړے وي چې د کتاب قدر او قیمت به پرې زیاتیږي یا نه خو مصنف خامخا په یو فرېب یا خوش فهمۍ کښې مبتلا کړي بلکې بعضې وخت خو دګه خوش فهمي یو ابنارمل صورت حال اختیار کړي۔

د دې خبرو نه زما مطلب دا هېڅ کله هم نهٔ دے چې ګني د ښاغلي همدرد په دویمه شعري مجموعه ''ګلګون'' کښې شاملې سریزې یا ماهرانه تبصرې یا رایې د حقیقته لرې د





مبالغې په دنیا کښې لیکلې شوې دي خو د بار بار لوستو نه پس چې له دغه تبصرو یا سریزو نه ما کوم تاثر اخستے دے هغه دا دے چې د دغه سریزو د پاره په کتاب کښې د شاملو موادو د مطالعې زخمت د ښاغلي سعید ګوهر نه علاوه چا هم نهٔ دے کړے او حقیقت له دې اپوټه وي نو بیا کم نا کم مطالعه ئې په غور نهٔ ده شوې - پورته چې ما د ګڼو سریزو د رجحان کوم بد اړخ ته اشاره وکړه د هغې مطلب هم دا دے چې دا قسمه مبالغه امېز تعریفونه کهٔ ثقه لوستونکي نهٔ وي نو عام لوستونکي ضرور ګمراهه کوي او د ذهني انتشار سره ئې مخ کوي - کهٔ لوستونکي نهٔ وي نو شاعر خو خامخا ګمراهه کړي او د دومره نیازبینتوب احساس ورکړي چې په خپل کتاب هېڅ قسمه انتقاد منلو ته تیار نهٔ وي او کهٔ دومره دې ولیکل چې د فلاني شعر قافیه دې غلطه ده نو کهٔ د شر وس ئې نهٔ وي نو ځان به درنه ضرور مرور کړي بلکې دغه صورت حال د ځنو لیکونکیو تر مینځه د ادبي نه پرته د ذاتي دشمنو شکل اختیار کړے دے۔

ښاغلے همدرد دې په دې خبره خاطر نهٔ درنو چې کهٔ زهٔ یا بل څوك دا ووایي چې د هغهٔ په فلاني شعر کښې کمي کمزوري ده نو ګني د هغهٔ د شاعرۍ عمارت به راوغورځیږي یا به ئې رنګ پیکه شي - زمونږ اکثر

ښاغلي د تنقيد په مرسته کښې ډېرې لافې وهي خو کله چې په خپله د تنقيد په ضد کښې راشي نو بيا د هوش لمن پرېږدي او په جواب کښې هر هاغه څۀ وايي او ليکي څۀ چې د يو عاقل او معقول انسان سره نۀ ښايي.

زما د دې مضمون چوکاټ د ښاغلي همدرد شاعرۍ ته د هغه سريزو په تناظر کښې کتنه ده کومې چې د هغۀ په کتاب "ګلګون" کښې شاملې دي. ما په مثال کښې د شعرونو راوړلو نه د يو ځاے نيم نه علاوه ډډه کړے ده ځکه چې هسې نه په دې عمل کښې د کتاب زياته برخه ستاسو وړاندې راشي او د کتاب افاديت ته نقصان ورسي.

په ګلګون ورومبۍ سريزه د ښاغلي سعيد ګوهر ده چې عنوان ئې دے "د نوي کول نمائنده شاعر" ښاغلي ګوهر د ادب او شاعرۍ په حقله عمومي خبرې زياتې کړې دي او د همدرد په شاعرۍ ئې مختصره رايې ورکړې ده خو څۀ چې ئې وئيلي دي نو ډېر د احتياط نه ئې کار اخستے دے. خبره ئې په څو کرښو کښې کړې ده خو د جامعيت اندازه ئې د ټول کتاب د لوستو نه پس لګي. ښاغلي ګوهر د همدرد د غزل اسلوب ، تخليقي صلاحيت ، موضوعاتي او فني اړخونو ته بليغې اشارې کړي دي او





دغه سريزه د DETAIL MARKS CERTIFICATE حېثيت لري.

دوېمه سريزه د ښاغلي اکرام الله ګران ده چې عنوان ئې دے "د غزل شاعر" څنګه چې معلومه ده ښاغلے ګران د جديد غزل لوے شاعر دے او د ښاغلي همدرد په غزل د هغوي رايې ډېر اهميت لري او کۀ هغوي د همدرد د غزل تعريف وکړي نو واقعي د ستائيلي غزل به د دغه تعريف جوګه وي ، د ښاغلي همدرد غزل د دغه تعريف جوګه دے هم خو تر کومې چې د ښاغلي ګران د سند په حقله زما د رايې تعلق دے نو هغه په دې قياس مبني ده چې محترم ګران د ګلګون شاعري نۀ ده لوستې او د همدرد د ورومبي کتاب "سپېلني" او د هغه شاعرۍ په بنياد ئې رايې قائمه کړې ده کومه ئې چې له همدرده وخت په وخت اورېدلې ده. محترم ګران ليکي "د همايون همدرد غزل د ګل هغه غوټۍ ده چې په سپړدو کښې ئې رنګ او خوشبو داسې راپرېښې دي چې د هر چا توجه ئې ځان ته راګرځولې ده لا چې پوره ګل شي نو کوم قيامت به راکوز کړي". د ښاغلي همدرد غزل ته مونږ د سپېلني په رڼا کښې د غوټۍ سره تشبيه ورکولے شو ځکه چې په تخليقي لحاظ د سپېلني شاعري زياته ښه ، موثره او توانا ده خو د فني رياضت کوم کمے چې په ورومبۍ

مجموعه کښې وهٔ هغه په ګلګون کښې نسبتاً زیات دے۔
د ګلګون په شاعرۍ کښې د لفظونو او خیالونو هغه
جادوګري او د ژوند او فن هغه ترون او اختلاط نشته
کوم ته چې ګران باچا اشاره کوي بلکې د سپېلني او
ګلګون موازنه کهٔ وشي نو داسې محسوسېږي چې د
ښاغلي همدرد تخلیقي ارتقا په ځاے ولاړه ده۔
په ګلګون دریمه سرېزه د جدید غزل د یو بل لوے شاعر
ښاغلي خېبر اپریدي ده چې عنوان ئې دے "همدرد او
جدیدیت" ښاغلي خېبر چې د همدرد د شاعرۍ کوم
خصوصیات په ګوته کړي دي ، خاص طور د تغزل رنګ
هغه په خپل ځاے ، تر کومې چې د ګلګون د شاعرۍ
خصوصاً د غزل تعلق دے نو کهٔ څهٔ هم ځنې ځایونو کښې
د تعزل د پېش کړي شوي تعاریف په رڼا کښې د تغزل نه
ډك شعرونه شته او هغه ټولې خوبۍ لري کومې چې
محترم خېبر بیان کړي دي خو لکه چې وروستو به ئې
مثالونه وړاندې کړے شي ، په دې مجموعه کښې د ژبې
، اندازِ بیان او تکنیك دومره خامۍ دي او د عامیانه
خیالونو پکښې دومره کثرت دے چې د ښاغلي همدرد
خوبۍ ئې تتې کړې بلکې پټې کړي دي ۔ دلته زهٔ یو
وضاحت کول غواړم چې زما دا معروضات دې څوك د
ښاغلي همدرد د شاعرۍ په حقله د تنقید په منفي رویه





مبني چرې هم وګڼي۔ زهٔ چې د کومو ښاغلیو سره اختلاف
څرګندوم هغوي سره د ښاغلي همدرده زما د پاره محترم
دي او د هغوي شاعرانه ، علمي او انتقادي مقام منلے
شوے دے خو زما مقصد صرف دا دے چې مونږ د
سریزو ، تبصرو او مخ کتنې د دستورو د پاره لیکلیو
شویو مقالو کښې تنقید د کومو مصلحتونو ښکار کړے
دے دا یو منفي او غېر صحت مند رجحان دے باید چې
په دې لړ کښې د حقیقت پسندۍ نه کار واخستے شي۔
د ګلګون څلورمه سرېزه د ښاغلي فرهاد محمد غالب
ترین ده چې عنوان ئې دے " د همایون همدرد د شاعرۍ
خصوصیات" په دې کښې محترم غالب د ښاغلي همدرد
د شاعرۍ څلور غټ خصوصیات په ګوته کړي دي چې په
خپله لمن کښې د بلها نورو خصوصیاتو څرګندونه کوي۔

- د بلاغت خوبي
- د محاورې او روزمرې صحیح استعمال
- غنائیت او اٰهنګ
- د مضامینو تازګي، ندرت او جدت

د ښاغلي همدرد د بلاغت په حقله ښاغلے غالب لیکي "
اګر چې د همدرد په شاعرۍ کښې د سوچ وړ او
فلفسفیانه خبرې شته مګر انداز ئې فلسفیانه نهٔ دے
بلکې شاعرانه دے".

اول خو دا چې د همدرد په شاعرۍ کښې فلسفیانه خیالات ، کهٔ چرې د فلسفیانه خیالاتو نه مراد د کائنات ، خالقِ کائنات ، انسان ، روح ، ذات ، وجود او ژوند په باره کښې خاص نقطه نظر وي، دومره کم دي چې اندازه ترې هډو لګېدے نهٔ شي چې ښاغلے همدرد ئې په ابلاغ کښې تر کومه حده کامیاب شوے دے ؟ بلکې د هغهٔ په شاعرۍ کښې د عامو نه عامې خبرې دومره زیاتې دي چې پوهېدو کښې پرې د عام نه عام وګړي ته هم څهٔ مشکلات نهٔ پېښېږي ، بله دا چې په قول د ډاکټر جمیل جالبي " په موجوده سائنسي او تجربي دور کښې فلسفې د سائنس د لاسه خپل اهمیت بائللے دے او فلسفه په دومره څانګو کښې تقسیم شوې ده او هره څانګه ځان له یو سائنس دے او دغه تقسیم د فلسفې د وجود زیاته برخه بې کاره کړې ده " کوم څیز ته چې فلسفه وئیلې شي هغه سماجي ژوند ، انساني تعلقاتو او رویو ته د یوه خاص نقطه نظره کتنه ده او د ښاغلي همدرد په شاعرۍ کښې دغه نقطه نظر واضحه نهٔ دے.

ښاغلے غالب د همدرد د شاعرۍ دوېم خصوصیت د هغهٔ د محاورې او روزمرې صحیح استعمال ګڼي ، د ښاغلي همدرد له کتابه زهٔ څو شعرونه پېش کوم چې دا ترې





معلومه شي چې همدرد د ښاغلي غالب د ټاکلي شوي خصوصیت پېروي څومره کړې ده.

زړهٔ مهٔ څه د زلفو د تیارهٔ په لار
ګرځي د نظر سرې خوارهٔ په لار

د مخ سره دې خیال کښې په لېمهٔ کښې چرته لاړ شي
ماشوم زړهٔ مې جانانه په غارمهٔ کښې چرته لاړ شي

اوس هم ئې هاغه خلق د ګمان په نظر ګوري
همدرد کهٔ هغه کلي ته نازړهٔ کښې چرته لاړ شي

مونږ د ژوند تاودې سرې لیدلي دي
مونږ ته قسمتونو نه خوارږهٔ رسي

همدرد یمه شاعر یمه خوږې خبرې وایم
اواز یمه د مینې په نغمو کښې مې راټول کړه

همدرده چا چا ته نمرود وو وایم
د چا په لاس لمبو کښې زهٔ سوزمه

کله چې له عشقه دې باهر کړمه
څومره په اسانه دې کافر کړمه

دومره دې په مینه راته وکتل
خامخا دې ځان وته غاور کړمه

ستا د جمال لېوني نهٔ جوړېږي
د پشکال لېوني نهٔ جوړېږي

زلفون کښې څوك نور سوچونه نهٔ کوي
ځنګه به څوك شپه تیارهٔ داو کوي
ورك یمه ساه ساه یمه ما وګوره
ځنګه وار خطا یمه ما وګوره

په دې شعرونو کښې ترتیب سره د غرمه کښې په ځاے غارمه کښې ، د نهٔ زړهٔ په ځاے نازړهٔ کښې ، خوارړهٔ رارسي په ځاے خوارړهٔ رسي ، خبرې کوم په ځاے خبرې وایم ، د چا د لاسه په ځاے د چا په لاس ، د بهر کړمه په ځاے باهر کړمه ، د غاوره کړم په ځاے غاور کړمه ، د بادرو لېوني په ځاے د پشکال لېوني ، د توره شپه په ځاے شپه تیارهٔ او ماته وګوره په ځاے ما وګوره د





روزمرې او محاورې خلاف دي ، دا صرف له خرواره یو موټے د نمونے په طور وړاندې کړې شو او صرف د محاورې او روزمرې په لړ کښې ـ د داسې نورو ډېرو شعرونو نه علاوه هغه شعرونه چې د شعر د نورو فني او هنري کمزریو سره تعلق لري لکه د لفظونو او جملو سست بندش ، د عامیانه لهجې استعمال ، د قافیو غلطي ، د بهر نه پرېوتل او نور ډېر څهٔ لا د دې د پاسه دي ـ تفصیل ئې نهٔ پېش کوم ځکه چې داسې به نهٔ صرف دا مضمون بې خونده شي بلکې کېدے شي د تنقیص الزام راباندې ولګي ـ ښاغلے غالب د همدرد د شاعرۍ درېم خصوصیت غنائیت او آهنګ ګڼي او واقعي چې د همدرد په شاعرۍ کښې دغه خصوصیت نسبتاً زیات جوت دے ـ په بحر خفیف کښې د اوږ ردیف استعمال د بحر مضارع او د رباعۍ د یو بحر نیم استعمال د هغهٔ په شاعرۍ کښې غنایي کېفیت پېدا کړے دے او د ژبې او بیان سادګۍ په دغه غنائیت کښې د سحر غوندې اثر پېدا کړے دے ـ

ښاغلي غالب د همدرد د شاعرۍ څلورم خصوصیت د هغهٔ د مضامینو تازګي ، ندرت او جدت بیان کړے دے ، کهٔ چرې د ګلګون لوستونکي زما مرسته کوي نو زما موقف دا دے چې په دې لړ کښې ښاغلے همدرد د خپل

کول د شاعرانو نه وړاندې خو ښېخي نهٔ دے البته د څنو سره څنګ په څنګ او د څنو نه وروستو دے. په مضامینو کښې تازګي، ندرت او جدت هله راځي چې د شاعر د مضوعاتو کېنوس وسیع وي او د اظهار فني وسیلې ئې په قابو کښې وي ځکه نو په داسې حال کښې د همدرد د شاعرۍ دغه خصوصیت تت دے ځکه چې په قول د ښاغلي سعید ګوهر د هغهٔ مضوعات محدود او فني علم محدود تر دے.

د ګلګون پینځمه سریزه چې سریزه نه بلکې اخذ شوے اقتباس دے، د هغه کرښو نه کومې چې ښاغلي محمد زبېر حسرت د مرکې خاکه نمبر کښې د تصویرونو په نوم لیکلي او چاپ کړے وې او بیا ئې وروستو د ښاغلي همدرد په حقله لیکلي شوې خاکه "مالګین" کښې ضم کړې وې او دغه خاکه ئې د پښتو تحریك په یو اجلاس کښې تنقید ته پېش کړې وه او د شویو تنقیدونو په رڼا کښې ښاغلے حسرت د هاغه حصو حذف کولو اقرار کوي په کومو کښې چې ئې ښاغلے همدرد د مرحوم خاطر اپریدي دوېم جنم او لکه د مرزا غالب د خپل وخت نه مخکښې پېدا ګڼلے وهٔ. د ښاغلي حسرت موقف دا دے چې په دغه اقتباس تنقید به په مانه بلکې په همدرد وارد ېږي. په هر حال تر کومې چې ګلګون کښې د ښاغلي





حسرت د چاپ شوي اقتباس تعلق دے نو د هغې هرې کرښې سره زهٔ اختلاف لرم، نه ښاغلے همدرد د خاطر مرحوم دوېم جنم دے او نهٔ لکه د مرزا غالب د خپل وخت نه مخکښې پېدا دے بلکې زهٔ دې خبرې سره هم اتفاق نهٔ کوم چې ګڼي غالب د خپل وخت نه مخکښې پېدا وهٔ او نهٔ د ښاغلي حسرت دې خبرې سره اتفاق کوم چې ګڼي د همدرد غوندې ذهنونه چرته په صدو پس پېدا کېږي. بلکې د دې خبرې د منلو د پاره به د خپلو ټولو جدیدو شاعرانو قرباني ورکول غواړي او ظاهره ده چې داسې کول ناممکن دي ځکه نو زهٔ د ښاغلي حسرت له طرفه ورکړے شوے دغه سند جعلي ګڼم.

د ښاغلي همدرد د غزل په حقله شپږمه رایې د پروفېسر عبدالله قانت ده چې د کتاب په شا "د غزل نمائنده" په نوم چاپ ده. ښاغلے قانت د همدرد غزل د خپل چاپېرچل نه چاپېره چورلېدونکے ګڼي او لیکي "کهٔ ښهٔ ادب ته د ماحول ترجمان جوړېدل پکار وي نو بیا د همدرد د غزل نه زیات د خپل ماحول نمائنده د چا غزل کېدے شي" او دغه شان ښاغلي قانت د همدرد د غزل په حقله یوه عامه خبره د مبالغې په رنګ کښې رنګ کړې ده. د ماحول په ترجمانۍ کښې ښاغلے همدرد د خپلو هم عصرو بلکې خپلو همځولو نه هم وړاندې ښېخي نهٔ دے تلے بلکې په

ډېرو ځایونو کښې خو زمونږ اکثر څهٔ چې ټول شاعران په غزل کښې د خپل ماحول ترجماني مجبوراً نهٔ شي کولے.
د ښاغلي همدرد په کتاب د دې بالواسطه تنقید نه دې څوك دا مطلب هېڅ کله وانهٔ خلي چې ګني په دې مجموعه کښې هېڅ هم نشته. د پورتني صورتِ حال باوجود په دې مجموعه کښې ښهٔ شعرونه هم شته چې اندازِ بیان او اندازِ فکر له رویه دومره د تاثیر نه ډك دي چې مونږ ئې په ډېر څهٔ قبلولو مجبور یو. په دې کښې هېڅ شك نشته چې ښاغلے همدرد د غزل فطري شاعر دے او د هغهٔ د شاعرۍ اسلوب فطرت ډېر نزدې دے خو فقط د فطرت په رنګ رنګېدل د فن کمال نهٔ دے ، فطرت د شاعرۍ د پاره د خام موادو کار ورکوي او فطرت په متصرف حالت کښې پېش کول فن دے او هم دغه د شاعرۍ صنعت دے . د همدرد په شاعرۍ کښې مصنوعیت نشته. د هغهٔ جذبات معصوم دي. ذهن ئې پیچیده نهٔ دے. د پښتنو دموجوده پېچیده سیاسي او ثقافتي صورتِ حال هغه کم اثر اخلي . البته ثقافتي اکتساب نسبتاً زیات کوي. مونږ چونکې په سیاسي او ثقافتي لحاظ د یو انتشاري دور نه تېرېږو ځکه نو په شاعرۍ مو د دغه شکست او رېښت اثر زیات غالب دے بلکې زمونږ جدیده شاعري خو د دغه صورتِ حال المیه





یا مرثیه ده. زمونږ ډېر قدرونه د نړېدو او ماتېدو د عمل سره مخ دي . په داسې حال کښې زمونږ شاعران کهٔ یو طرف ته د غم او مایوسۍ اظهار کوي نو بل خوا د مزاحمت او مبارزت انداز هم لري . کهٔ څهٔ هم په ادب کښې د دغه دواړه قسمه شاعرۍ اهمیت شته خو زمونږ ښه شاعري هغه ده په کومه چې د مزاحمت او مبارزت سرهٔ زیات غالب دي. د ښاغلي همدرد په شاعرۍ کښې کهٔ څهٔ هم ځنې ځایونو کښې داسې اشارې شته چې په قامي، سیاسي ، سماجي صورت حال ترې څهٔ نا څهٔ رڼا غورځېږي خو بیا هم د واضح نقطه نظر اظهار نهٔ کوي البته د هغهٔ په شاعرۍ د ثقافتي ژوند اثر زیات جوت او واضح دے او هم دغه اثر دے چې د ښاغلي همدرد په شاعرۍ کښې ئې د فوك شاعرۍ خوند رنګ پېدا کړے دے. د بیان سادګي او تازګي، د جذباتو معصومیت ، د لنډو لنډو او چستو چستو بحرونو په زور په ذهن په ځاے زړهٔ ته کوزېدل د هغهٔ د شاعرۍ وصف دے. په اخر کښې څو شعرونه پېش کوم چې د خیالاتو تازګي هم لري، د بیان سادګي او خوند رنګ هم:

ستا کوځې خاورې دي باد شوي دي
ما وې کهٔ چا نوستي دي رانخهٔ په لار

څنګه په قبله خو غلط نهٔ یمه
هره ګوته ستا سو کورته نیسمه

راشه چې د مینې مزه ووینې
راشه کهٔ تندے وهې د غرهٔ سره

ستا د محبت چینه به رانهٔ شي
زهٔ کهٔ ځان اوبهٔ کړم شونډې سپورې کړم

اوس خو هم همېشه له غمه شین یمه
غم دې په لونده زمکه کرلے یم

زر به ګرېوانونه رېښې ووینې
ستا کهٔ دې مئینو ته پام داسې وي

ماته چې ښېرې زما قبلېږي نه
زهٔ مې د دلبر په دعا رنګ یمه

ځار له محبته ځار له مینې شم
هره ګناه هره کرکه توره ده





مینې دې دومره تکړه کړے یمه
صبر خو څهٔ دے چې غر هم وړمه

14 مه جولايي 1994

***

# "درشید جوهر غزل"

په پښتو ادب او شاعرۍ کښې هغه رنګ دبستانونه خو نشته لکه څنګه چې په اردو کښې د دِلي او لکهنو دبستانونه وو خو بیا هم د پښتونخوا مختلفې سیمې چې څهٔ رنګ په جغرافیایي لحاظ له یو بله توپیر لري دغه شان په ادب خصوصاً شاعرۍ کښې هم څهٔ ځانګړې خصوصیات لري او دغه خصوصیات داسې دي چې د هر شاعر د انفرادي اسلوب باوجود د اجتماعي اسلوب یو رنګ او دائره جوړوي او کهٔ یو شاعر ډېر هم خپل انفرادي اسلوب له زور ورکوي خو د اجتماعي اسلوب د دغه دائرې نه وے نهٔ شي لکه په خېبر کښې د حمزه بابا د تصوفي او فلسفیانه افکارو سره د هغوي د رومانیت په اثر کښې تخلیق شوې شاعري د یو اجتماعي اسلوب څرګندونه کوي۔ د مردان په شاعرۍ خصوصاً غزل کښې د لساني تجربو سره د مترقي او روماني خیالاتو امتزاجي اظهار او د هشتنغر په شاعرۍ کښې د مترقي خیالاتو فني او شاعرانه اظهار سره سره د سیاسي خیالاتو په جار اظهار او د فن او پروپېګنډې ګډون د دغه سیمو د شاعرۍ د اجتماعي اسلوب څرګندې نخښې دي۔





په دې لړ کښې چې مونږ د بنو شاعرۍ ته ځیر شو نو مرحوم طاهر کلاچوي، عبدالرحیم مجذوب ، غازي سیال، رحمت الله درد، مجبور سوراني او مطیع الله قرېشي د خپلو تخلیقي صلاحیتونو په زور د غزل تر حده د خپلو ځانګړو اسلوبونو سره د اجتماعي اسلوب فضا هم سازه کړې ده۔ د محترمو مجذوب او سیال د نظمونو نه قطع نظر د بنو په غزل کښې د حسن و عشق تذکرې ، د مترقي خیالاتو کم او روماني خیالاتو زیات اظهار ، ځاے په ځاے د دې سیمې د مخصوصو لفظونو او لهجې استعمال او ژوند ته له جمالیاتي او داخلي نقطه نظره کتنه د اجتماعي اسلوب یوه داسې فضا سازوي چې زلمے کول د انفرادیت د کوشش باوجود له دغه اجتماعي رنګه ځان نهٔ شي بچ کولے۔

په دغه تناظر کښې چې مونږ د ښاغلي رشید جوهر شاعري ځېرو نو هغه هم په هغه پانکو روان ښکاري چې کوم ورته خپلو مشرانو ایښې دي خو تقریباً د لس کاله سفر باوجود لا هغه مقام ته نهٔ دے رسېدلے چرته نه چې د انفرادي اسلوب رده کښېښودے شي۔

د ښاغلي جوهر په کتاب "سپرلي" کښې د یو څو نظمونو نه علاوه نورې ټولې غزلې دي او دا د دې خبرې دلیل دے چې جوهر بنیادي طور د غزل شاعر دے او د

خپلو خیالاتو اظهار په غزل کښې په ښه طریقه کولے شي . د جوهر د عمر زلمي اکثر د صنفي انتشار ښکار دي . غزل، نظم ، قطعه، سندره، هائیکو، دوه بېتي او نور ډېر څیزونه یو شان لیکي او دغه صنفي انتشار اکثر د هغوي ذهنونه د انتشار ښکار کړي او د یو صنف په حواله خپله پېژندګلو مسخ کړي خو د ښاغلي جوهر د صنفي انتخاب نه دا پته لګي چې هغه ته دا احساس دے چې د هغهٔ طبع د غزل دپاره ښه موزونه ده ، د هغهٔ اکثر غزلې په قول د زبېر حسرت د غزل په فن د هغهٔ د ګرفت نخښه پته ورکوي . هغهٔ په خپل غزل کښې د ژبې او بیان د سادګۍ او صفايۍ ، د وحدت تاثر او نورو فني لوازماتو ډېر خیال ستاتلے دے او صفا سوتره غزلې ئې وئیلي دي . څنې شعرونو کښې ئې د جذبې خلوص ، بې ساختګۍ او د بیان سادګۍ د تغزل رنګ پېدا کړے دے ، لکه:

نن جوړې بیا وېش د دیدن وهٔ چرته
سرونه مات چې لېونو یوړل

ستــا قربت تــه زما واړه بهانې دي
کهٔ رکوع ده کهٔ سجده کهٔ نماز دے





زما مو یو جانان کتلے نهٔ شهٔ
د کلي خلقه ډېر ارمان راشي

خو کوم څیز چې زهٔ زیات محسوسوم هغه په دې مجموعه کښې دموضوعاتو محدودیت او سطحیت دے . د جوهر د غزل جوته موضوع مینه ده لکه چې وایي :

ما مینه زده ده نور مې هېڅ نهٔ دي زده
مــا پــه دنیــا دغــه یو کار کړے دے

خو د مینې دائره ئې د دوو افرادو تر حده محدوده ساتلې ده او یو شخصي غوندې کېس ئې ترې جوړ کړے دے او بیا دغه شخصي او ذاتي معامله ئې په رنګ رنګ پېرایو کښې بیا کړې ده چې زما په خیال صحت منده رویه نهٔ ده بلکې یو قسم له موضوعاتي ابتذال ئې پېدا کړے دے . مینه د ژوند محرکه جذبه ده او بې له مینې انسان په انسان او ژوند په ژوند نهٔ حسابېږي . د جوهر په غزل کښې د مینې سره تړلې ټول لوازمات او الفاظ لکه هجر، وصال، وعدې، انتظار، زړهٔ ، نظر ، اوښکې، سلګۍ ، اهونه، وفا ، جفا ، رقیب، رېبار، شوګیرې، د محبوب بې رخي، ناز او ادا، ستم او نور ډېر څهٔ په کثرت سره راغلي دي خو بېخي په روایتي انداز کښې لکه :

دا ولې په زړګي باندې داغونه راکوې
اشنا چې تل رټلي جوابونه راکوي

طمع خوره شوه يو ځل بيا ورځمه
د يار ديدن ته خامخا ورځمه

بلې په بدن مې دې لمبې کړلې
تا چې سترګې تورې شونډې سرې کړلې

د ښاغلي جوهر د غزل لفظي دائره هم ډېره محدوده ده ، د نوو تشبيهاتو، استعارو، ترکيبونو او علامتونو په کښې ډېر زيات کمے دے او کهٔ څهٔ لږ ډېر مقدار لري هم نو هغه ډېر فرسوده او روايتي او تقليدي دے.

په نني دور کښې جديد غزل ته مونږ د دوو خصوصياتو له مخه جديد غزل وئيلے شو يو د موضوعاتو په بنياد او بل د ډکشن په بنياد. مکمل جديد غزل به هغه وي چې موضوعات ئې هم خوارهٔ وارهٔ او په کلهم ژوند محيط وي او لفظياتي دنيا ئې هم نوے رنګ او اهنګ لري. د جديد شاعر د پاره دا ضروري ده چې هغه دې لغت ساز وي. لغت ساز نه زما مراد هرګز دا نهٔ دے چې ګني هغه دې بېخي نوې الفاظ ايجاد کړي بلکې د تشبيهه ، استعارې،





ترکيب او تلازمې په اړه دې زاړهٔ الفاظ په داسې پېرايه کښې بيان کړي چې د زوړوالي باوجود ورته ځوك زاړهٔ نهٔ شي وئيلے او په هر حال کښې د يوې نوې معنياتي دنيا ځرګندونه کوي . کوم لفظونه چې زمونږ کلاسيك شاعرانو استعمال کړي دي . زمونږ جديد شاعران ئې هم استعمالوي خو په جديد انداز کښې او د روايت او جدت فرق ئې واضح کړے دے . په دې اساس چې مونږ د ښاغلي جوهر غزل مطالعه کوو نو د جديديت هېڅ اشاره نهٔ راکوي.

نن کهٔ د غزل ليکلو څهٔ جواز شته نو هغه دا دے چې غزل يواځينے صنف دے چې د وخت او حالاتو سره ئې برابر تګ کړے دے او ښهٔ په نره ئې تر دې ځان رارسولے دے او کهٔ غزل د نن وخت جمالياتي ، نفسياتي ، ثقافتي ، سياسي ، معاشي او معاشرتي مسائل او د ديو نه رازېږېدلي احساسات په خپله لطيفه او نفسيه ژبه بيان نهٔ کړي نو بيا د غزل ليکلو هېڅ جواز نشته . زهٔ دا خو نهٔ وايم چې ګني ښاغلي جوهر سره د دغه څيزونو شعور او احساس نشته خو تر کومې چې د هغهٔ د شاعرۍ تعلق دے نو د شخصي او ذاتي معامله بندۍ نه سېوا پکښې هېڅ نهٔ ښکاري.

''سپرلي'' د جوهر وړومبی مجموعه ده. د هغهٔ مخکښې د ژوند او فن ویږ مېدان پروت دے. دا اوس چې هغه کوم مقام ته رارسېدلے دے. دا د هغهٔ منزل نهٔ دے محض یو پړاو دے او د فن په بام د ځلېدو د پاره هغهٔ ته ډېر پړاونه سر کول دي. باید چې هغه په خپل دې شعر:

مینه مې ځان مینه مې روح ،مینه ژوندون دے زما
زغملے نهٔ شم د ژوندون په تقاضو پابندي

کښې بیان کړې جذبه د ژوند په لوړو ژورو خوره کړې او د ژوند په دوزخ کښې د ګلونو کرونده خپله وظیفه وګرځوي.

د دار په سر نهٔ د صحرا په پولو
چرته د مینې حد تمام نهٔ دے
(اندېش)

***





# محور

د یو شاعر د کلام باره کښې تنقیدي رایې قائمولو د پاره دا ضروري ده چې ناقد به د تعصب یا عقیدت له جذباتو بېخي خالي وي ځکه چې د تعصب او عقیدت دواړو په صورت کښې یوه بې جانبه او په حقیقت مبني رایې قائمول کهٔ ناممکنه نهٔ وي نو ګرانه ضرور وي. دلته حال دا دے چې د محترم ډاکټر درویش په باره کښې زهٔ د سر نه تر پښو پورې عقیدت او احترام یم خو د هغوي حکم دے چې زهٔ دې د هغوي د دې مجموعې په حقله څهٔ ولیکم او د لیك په دوران کښې دې بېخي بې طرفه پاتې شم او د هغوي د فن ښهٔ او بد اړخونه دې د هغوي لوستونکیو په ګوته کړم. دا د ډاکټر صاحب د هغه ګمان ښائست دے کوم چې هغوي زما په باره کښې لري ګني چه نسبت خاك را با عالم پاك.

ډاکټر صاحب ډېر لوستے ، عالم ، فاضل شاعر او ادیب دے. د عالمي ادبي او فکري نظریاتو سره سره د خپل پښتو ادب د کلاسېك نه راواخله تر جدید نمائنده ادب پورې ښه ژوره مطالعه او پخپله یوه انفرادي نظریاتي او علمي رایې لري. د خوشحال بابا د ژوند او فن د ظاهر او باطن نندارچي ، د روښان پیر په روحاني فکر کښې دپټ

پښتون قومي شعور محسوسوونکے او د شلمې صدۍ د پښتنو د سیاسي ، تهذیبي او فرهنګي غورځنګونو لامبوزن دے او ورسره د کائنات تسخیر او د خالقِ کائنات د معرفت د پاره د روحاني، باطني او مابعدالطبیعیاتي روش خپلوونکے او د دغه لارې عملي لاروے ، مجاهد او مبارز دے او هم دغه خصوصیت د هغوي شاعرۍ ته یو ځانګړے ، پُردرده او زړهٔ راښکونکے اسلوب بخښلے دے۔

ډاکټر صاحب اول او اخر پښتون مسلمان دے۔ پښتو د هغوي په رګ رګ کښې سرایت شوې ده۔ د هغوي خبرې اترې علمي بحثونه شاعري او نثر د پښتو ، پښتونولۍ ، د پتنو د ملي او سیاسي وحدت په ارمان او احساس او د پښتنو د تهذیبي او کلتوري روح په ښکلا ښکلے وي۔ هغوي کهٔ نظم لیکي کهٔ غزل ، څلوریزه لیکي کهٔ ټوټه او کهٔ ټپې لیکي ، په دې جذبه او ذمه وارۍ د احساس د لاندې ئې لیکي چې دا به زمونږ د خوار و زار ، زورلي ، زپلي او تاله ترغه شوي پښتون اولس په کار راځي ۔ هغوي له به د جذبې خلوص او د فکر روښنايي ورکوي۔ هغوي شعر د خپل ذاتي ذوق د تسکین د پاره نهٔ لیکي بلکې کهٔ دا ووایم چې د هغوي ذات او ذوق هم دغه پښتو ، پښتون او پښتونولي ده او هم دغه ذکر فکر دے چې د





هغوي فن له ئې ښکلا ، ځلا او یو سوز او ګداز ورکړے دے نو بې ځایه به نهٔ وي۔

پښتانهٔ چې د کوم سیاسي ، کلتوري او فرهنګي اشوب سره مخ دي ، د هغوي د دروند کور په دروند انګرې کښې چې کومو بارودو ته اور ورته کړے شوے دے او مودې وشوې چې د اور او وینې په دندوکار کښې د پښتنو د تشخص او ازادۍ ورکولو هڅې رواني دي نو په داسې حال کښې کوم پښتون شاعر دے چې له دغه احساسه عاري دے او په دغه اساس د ډاکټر صاحب په شاعرۍ کښې چې کوم سوز او ګداز ، یو شدید غم او په غم کښې د لوګېدونکي غصې کېفیت په کومه سنجیده او متینه پېرایه کښې رابرسېره شوے دے هغې د ډاکټر صېب شاعري د خپلو هم عصر نه منفرده کړې ده او دغه لهجه او دغه پېرایه کښې د پروپېګنډې ، سیاسي نعره بازۍ او انقلابي چغو سورو رش قدرې هم نشته۔ هغوي د پښتنو غم څښلے او په خپل ذات کښې ئې جذب کړے دے۔ بیا ئې د دغه ذات اظهار کړے دے او دغه شان ئې خپل ذات د خپل نوغي ذات ګرځولے دے۔ دغه موډ او دغه چرت په ټوله شاعرۍ خور دے کهٔ دا ووایم چې دا د هغوي د شاعرۍ محور دے نو بې ځایه به نهٔ وي۔ البته د هغوي په احساس او فکر د رجائیت او د پښتنو په روڼ

سبا د ایمان سرهٔ غالب دي او د افغان باقي کهسار باقي په نعرهٔ تکبیر د هغوي عقیده پخه ده.

د ډاکټر صاحب د شاعرۍ فارم مونږ په څلورو غټو برخو کښې وېشلے شو. نظم، غزل، څلوریزه او ټوټه. کهٔ څهٔ هم هغوي ټپې هم ډېرې لیکلي دي خو دغه ټپې هغوي زیاتره په مخصوصو موضوعاتو، مضامینو او عنواناتو لیکلي دي چې د مضمون او موضوع د تسلسل په وجه ئې مونږ د هغوي د نظم په فارم کښې د تجربې یو شکل ګڼلې شو بلکې زما په خیال ډاکټر صاحب یواځینے شاعر دے چې د ټپې په فارم کښې ئې نظمونه لیکلي دي.

په ژبه او فن غبور او ګرفت دهغوي په ټوله شاعرۍ کښې څرګند برېښي، کهٔ څهٔ هم دې مجموعه کښې د هغوي د شاعرۍ تاریخي ترتیب واضحه نهٔ دے خو بیا هم د کوم کلام د لاندې چې تاریخونه لیکلي شوي دي په هغو کښې د دېرشو کالو نه وړاندې او د دېرشو کالو نه وروستو کلام یو شان فني پختګي لري او داسې ښکاري چې د هغوي د فن ابتدا د بلوغت نه شوې وي. د هر قسمه خیال او مضمون په تړلو کښې هغوي د څهٔ مشکل سره مخ نهٔ ښکاري، بلکې ځنې ځایونو کښې د هغوي په شاعرۍ کښې د مشکل پسندۍ رجحان محسوسېږي. په ژبه او فن د عبور یو ثبوت ئې د ټپې په فارم کښې لیکلي





نظمونه دي خو د ژبې او بندش په تجربو کښې او د مشکل پسندۍ په اظهار کښې ترې ځنې ځایونو کښې لږ ثقالت پېدا شوے دے چې شعریت ئې له مینځه وړے دے خو بیا هم د عالمانه اسلوب باوجود د هغوي مجموعي شاعري د شعریت او قلار او مدم غنائیت د خوږو نه ډکه ده.

د روحاني دنیا سره د کلك تړون باوجود د هغوي په شاعرۍ کښې ماورائیت کم او د زمکې خوشبو زیاته ده. د وطن او قام مینه د هغوي په شاعرۍ غالب عنصر دے. شاید وجه ئې دا وي چې د روحاني دنیا د سېل مشاهدې او تسخیر نه پس د خپلې زمکې خپل وطن او خپل قام سره دوباره تړون د هغوي د بشریت او نیابت د تقاضې تر مخه دي. د روحانیت تجربات کهٔ مونږ صرف د تصوف او سلوك پورې خاص کړو نو د هر لطیف فن تجربې روحاني دي کهٔ په بنیاد کښې ئې مادي عناصر یا عوامل شامل وي هم نو د اظهار په وخت او د تخیلي پېکر سازولو په وخت فنکار د روحانیت په ګرفت کښې وي. د تخیل یا فن سفر د خارج نه د داخل په لور وي. د خارجي تلازماتو په اساس او مرسته شاعر خپل قاري د کمیت نه د کېفیت دنیا ته بیایي او د دغه کېفیت انتقال د شاعر مقصد وي. د ډاکټر صاحب شاعري د کمیت نه د کېفیت په لور د سفر

دغه خاصیت لري او خپل قاري ځان سره په هغه احساس او تجربه کښې شریکوي کوم چې لوسونکي له یو ناقابلِ اظهار روحاني او جذباتي تحریك ورکوي.

11م دسمبر 1998ء

***





# ارتکاز

"له مانه مهٔ بیلېږه" د محترمې حسینه ګل د شاعرۍ څلورمه مجموعه ده چې د وړاندې چاپ شویو درېو کتابونو "شپون ، شپول او شپېلۍ"، "خو تهٔ خبرې کوه" او " دا هم هغسې موسم دے" نه د انتخاب سره د نوې شاعرۍ په ګډون ترې دې مجموعې وجود موندے دے. په انتخاب چاپ کولو کښې کهٔ څهٔ هم دا فائده وي چې د شاعر چونې کلام مخې ته راشي خو د هغهٔ د ذهني تشکیلاتو او فني او فکري سفرونو د بیلو بیلو پړاوونو او ارتقا پوره تصویر ترې نه راوړاندې کېږي ځکه نو د دې مجموعې په باره کښې تنقیدي جاج ته به هم د دې مجموعې په تناظر کښې کتل پکار وي ځکه چې دا وخت زما دپاره دا ممکنه نهٔ ده چې د حسینه ګل ټوله شاعري وځیرم او یوه بشپړه تنقیدي جائزه ئې واخلم. تر کومې چې د دې مجموعې د چونې شاعرۍ تعلق دے نو کهٔ څهٔ هم په دې کښې د هغې د ابتدایي نه راواخله تر موجوده شاعرۍ پورې د هر دور څهٔ نا څهٔ کلام شته خو زما خیال دے چې د دې انتخاب حجم لږ نور هم زیات پکار وهٔ. بیا هم د دې مجموعې په لوستو چې زما کوم وړومبے تاثر جوړ شوے دے هغه دا دے چې دا ټوله شاعري د یوې سطحې شاعري ده کوم خاصیت چې د هغې په وړومبي

کتاب کښې محسوسیږي. هغه په دې کښې هم شته د جذبې خلوص، د اظهار جرات، د احساس معصومیت او په خپل ځان اعتماد د هغې په ټوله شاعرۍ کښې یو شان محسوسیږي.

شاعري د ادم او د حوا د محبت داستان دے او د انساني ژوند کلهم رنګونه د دغه داستان بیل بیل پړکونه او بابونه دي. د دغه ټولو پړکونو او بابونو احاطه کول کهٔ د یو شاعر دپاره ناممکنه نهٔ وي نو ګرانه ضرور وي ځکه نو هر شاعر د خپلې خوښې په باب کښې طبع ازمایي کړې ده ، د خپل بیان رنګ ئې پرې خېژولے دے او دغه داستان ئې مخ په وړاندې بوتلے دے.

د ادم او د حوا محبت چې په تزویجي تعلق کښې بدل شوے دے نو معاشرې جوړښت موندے دے ، رشتې پېدا شوي دي ، د رشتو د تقدس قدر مېنځ ته راغلے دے ،اخلاقي قوانین جوړ شوي دي او اساني صلاحیتونو او قوتونو تنظیم موندے دے .د شاعرۍ د ټولو نه لویه ، خوږه او رنګینه موضوع هم دغه ده ځکه چې د انسان د بقا راز پکښې پټ دے. دپښتو د وړومبي تاریخي دور ښهٔ شاعر واصل روښانے وایي :

د حوا د محبت سندرې بولم
نن راغلے د بابا ادم په وار یم





او حسینه ګل وایي:

غواړم چې مې ولولې
زهٔ ژوند یمه نور یمه
زهٔ درنه په څهٔ کمه
زهٔ د حوا لور یمه

شاعر کهٔ سړے وي کهٔ ښځه ، د معاشرتي شعور نه عاري نهٔ شي کېدے او د حسینه ګل په شاعرۍ کښې هم معاشرتي شعور ښهٔ جوت دے چې اظهار ئې چرته د تنقید، چرته د احتجاج ، چرته د مزاحمت ، چرته د بغاوت او چرته د ستائینې په صورت کښې شوے دے البته دغه معاشرتي شعور او د معاشرې د لوړو ژورو ذکر د هغې د غزل په مقابله کښې په نظمونو کښې زیات جوت دے ؛ په پښتنه ټولنه کښې چې د ښځې سره کوم سلوك کېږي او ورته په کوم نظر کتے شي او د هغې د پاره چې کوم امتیازي اخلاقیات ټاکلي شوي دي هغه په نن زمانه کښې د قبولیت جوګه نهٔ دي او حسینه ګل سره د دېرو مشکلاتو او تاوانه قبوله کړې نهٔ دي. د هغې ټول نظمونه په دې ګواهي لي.

د حسینه ګل نه وړاندې هم په پښتو کښې ګڼ شمېر شاعرانې تېرې شوې دي او د هغې په عصر کښې هم شته خو په پښتنه ټولنه کښې چې ښځه په کومو زنځیرنو کښې ګیپه تړلې ده د هغې نتیجه دا راوتې ده چې د نسواني جذبو او د هغوي د نفسیاتي کېفیتونو اظهار ډېر په مړ ژواندي اندازکښې شوے دے . ( د ټپې نه په استثنا سره ځکه چې په ټپه د شخصیت ټاپه نشته ) په دغه تناظر کښې چې وکتے شي نو سړے دا محسوس کړي چې په پښتو کښې حسینه ګل وړومبۍ شاعره ده چې د شاعرانه اظهار په وخت د هېڅ قسمه دباو په اثر کښې نۀ ده پاتې شوې او خپل ټول جذبات او احساسات ئې د ابلاغ د ټولو مرحلو نه په کامیابۍ سره تېر کړي دي . د دغه روایت بنیاد په پښتو نثر (افسانه) کښې محترمې زېتون بانو ایښے دې او حسینه ګل د شعر په ژبه دغه روایت دومره مضبوط کړے او توان مند کړے دے چې نور نو مونه ئې په وړاندې تت لېدے شي . لکه:

ښـۀ پـه ښـکاره او ښـۀ پـه نـره مې کړي
دومره مې ښکل کړي چې اوتره مې کړي

د ګل د تاندو تاندو شونډو سره
زما د مړاوي پېغلتوب یاري ده





د زلـمـیتوب د شدتونو دې احسان منمه
د پېغلتوب ادا مې عمر له ځواني ومونده

لاس کۀ مې د خپلو لاسو لرې کړې
ټول وجود مـې تاسره ګنډلے دے

دا هم د اظهار د دغه جرات او بې باکۍ وجه ده چې د حسینه ګل د محبت جذبه افلاطوني نۀ ده بلکې د انساني حسیاتو د ټولو لارو نه راوتې ده خو د هغې د غه جذبات خپل یو پاکیزه او علوي شان لري او د محبت د ټولو کېفیتونو د اظهار ښکلې ښکلې نمونې د هغې په شاعرۍ کښې شته . څنګه چې د شاعرۍ یو روایتي انداز دا هم دے چې د محبوب د اعضاو تصویر کشي او ستائینه په بیلو بیلو او رنګ رنګ پېرایو کښې کولے شي . د حسینه ګل شاعري د دغه راویتي انداز نه بېخي بدله دے . هغه د جذبې په اظهار کښې تشبیهاتو او استعارو ته اسره کمه کوزه کوي . د تشبیهاتو ، استعارو ، کنایو او شاعرانه ترکیبونو د رنګ روغن نه بغېر شاعرانه اظهار خصوصاً په غزل کښې ډېر ګران کار دے او دغه ګران کار حسینه ګل ډېر په ښۀ طریقه کړے دے:

فن زما هېڅ يو غم ته پرده نۀ شۀ
هـر څو کۀ وم پټه رابرڅېره شوم

د حسينه ګل د شاعرۍ يو بل خاصيت چې زۀ ئې ذکر کول ضروري ګنم دا دے چې نزدې نزدې د هغې ټوله شاعري د مخاطبې په انداز کښې ده يعني د زۀ او تۀ يا زما او ستا په پېرايه کښې خبره شوې ده او د مکالمې غوندې يوه فضا لري۔ محبوب د هغې له نظره يوه لحظه هم نۀ دے غائب شوے۔ د نظر دغه ارتکاز د هغې شاعرۍ ته يو رجايي انداز ورکړے دے او مجموعي فضا ئې د تصوراتي په ځاے واقعاتي کړې ده او هم دغه د شاعرۍ سوچه رنګ دے کۀ څوك د هرې نظريې او مفکورې سره تړون لري خو د جذبې له دغه صداقته او حقيقته انکار نۀ شي کولے ځکه چې تخيل خپل سفر د احساس او تجربې نه شروع کوي او د معلومې دنيا نه د نامعلومې دنيا په لور خپل پرواز جاري ساتي:

ستا د نامې له ښکليو ښکليو ټکيو
څـومـره اوتـره وارخـطـا واوړېدم





زما وجود د دې حاضر دور جواز او اعجاز
دا اعتراف به مې سبا پردي هم خپل به کوي

زمـا به ياد بې کۀ هر څو دې وخت تصوير بدل کړي
ستا خوشبويې به ترې راځي کۀ دې تحرير بدل کړي

ما د حسينه ګل د شاعرۍ په فني او تکنيکي اړخ خبره قصداً ونۀ کړه ځکه چې په دغه حواله خبره به لږه ستغه سپوره وي او زۀ نۀ غواړم چې د هغې په مجموعي توګه د ښې او فطري شاعرۍ خوند پيکه کړم ، صرف دومره وايم چې دغه اړخ ته لږه توجه پکار ده ځکه چې د شاعرۍ د صناعتي اړخ نه انکار نۀ شي کېدے۔

لوے الله دې وکړي چې د حسينه ګل ټوله شاعري د پښتون قام په خاصه توګه د پښتنو مېرمنو د پاره د لارې ليت شي۔

د مـحـبـت مـعـيـار هـم لـوړ ساتمه
دا به مې مرګ وي کۀ راښکته شومه

19م نومبر 2008ء

***

# لوے کار

د خیالاتو د اظهار او ابلاغ د ټولو نه غټه ،مکمله او موثره ذریعه ژبه ده ، ژبه د کلیمو یعني لفظونو نه جوړیږي ، د کلیمې درې غټ قسمونه دي :

1. اسم
2. فعل
3. حرف

د ژبې ابتدا د اسم نه شوې ده ، بیا ئې فعل مینځ ته راغلے دے او وروستو حرف د ژبې نحوي نظام سر ته رسولے دے.

د کلیمې دغه درې واړه قسمونه په خپل مینځ کښې د ترتیب او ترکیب خپلولو سره د اظهار او ابلاغ واړه ضرورتونه پوره کوي او د هم دغه ترتیب او ترکیب په نتیجه کښې د شعر او ادب بیل بیل او رنګ رنګ اسلوبونه هم مینځ ته راځي. کلیمه چې د معنې د ترسیل او تبلیغ د پاره په استعمال کښې راځي نو دا بیا په مفرد حالت کښې کمه او په مرکب حالت کښې زیاته پکارولے شي. مرکب بیا په دوه قسمه دے یو ته ناقص مرکب وایي او بل ته تام مرکب وایي. دغه دواړه مرکبات بیا





خپل خپل قسمونه لري او د ژبې نحوي یا ترکیبي نظام بشپړوي.

زۀ د مرکب د وړومبي قسم یعني ناقص مرکب په باره کښې خپله خبره وړاندې بوځم او هغه داسې چې مرکب ناقص د دوو یا زیاتو اسمونو ، د اسم او فعل یا د دوو فعلونو په یو ځاے کېدو جوړیږي. د دغه مرکباتو د قسمونو او جوړښت د اصولو ټول تفصیلات د پښتو قواعدو په کتابونو کښې شته.

د ژبې دغه ترکیبي نظام چې څنګه د یوې ژبې ویونکي په استعمال کښې راولي ، د استعمال دغه انداز او دغه شان ته روزمره او محاوره وایي او د ژبې د سوچه والي پته د روزمرې د صحیح استعمال نه لګي ځکه چې یوه ژبه خو پردي خلق هم زده کولے شي او ښۀ ئې زده کولے شي خو کۀ د یوې ژبې د اصلي ویونکیو او بهرني ویونکیو پته لګول وي نو هغه به د روزمرې د استعمال نه لګي. د مثال په طور پښتو کښې د "نا" او "بې" دواړه سابقې د نفي د پاره لګولے شي لکه دغه دواړه سابقې چې د لفظ کار سره ولګي نو ناکاره او بې کاره ترې جوړ شي. د نا او د بې د استعمال دغه فیصله قواعد نۀ کوي بلکې روزمره ئې کوي چرته چې د نا استعمال کیږي هلته د بې استعمال سره معنیٰ بېخي بدلیږي. دغه دواړه سابقې د

یو مقصد د پاره استعمالیږي خو د یو بل بدل نهٔ شي کېدے ـ د روزمرې دغه جبر داسې دے چې هېڅوك ترې غاړه نهٔ شي رغړولے ـ دغه شان محاوره هم ده ، محاوره د یوې ژبې ویونکي یعني اولس جوړوي خو چې یو ځل جوړه شي نو بیا د دې ایجادوونکي هم په دې کښې رد او بدل نهٔ شي کولے ـ

محاوره د اولس د خبرو اترو انداز ته وایي ـ دا انداز د ژبې ویونکي ټاکي ـ محاوره یو مصدري ترکیب یا ترکیبي مصدر وي ـ په دغه ترکیب یا مرکب کښې مصدر په اخر کښې راځي او په ترکیب کښې د شاملو لفظونو معنې کهٔ په لغت کښې ځان ځان له هر څهٔ وي خو چې د محاورې برخه وګرځي نو خپله لغوي معنیٰ د لاسه ورکړي او د یوې نوې معنې حامل او ترجمان شي ـ دغه نوې معنیٰ په یو لحاظ مجازي وي ځکه چې په لغت کښې د هغه لفظونو دغه معنیٰ نهٔ وي خو چې په کوم خاص ترکیب کښې کومه معنیٰ ورکړي نو بیا تل هم دغه معنیٰ ورکوي او په دغه لحاظ محاوره هم د لغت برخه وګرځي او اکثر د لغاتو کتابونه د لغاتو سره سره محاورې هم لري ـ

د ښاغلي روښن بنګش دا کار او زیار د ډېرې ستائینې او شاباشي وړ دے چې د "چونګ له خرواره" په نوم ئې د





پښتو محاورو مجموعه په درېو ټوکونو کښې مرتب کړه او د پښتو لغت سازۍ په لړ کښې ئې یو ډېر درونډ او علمي کار سر ته ورسولو ـ د لغت سازۍ کار کهٔ یو فرد کوي او کهٔ یوه اداره خو دا د مکمل نهٔ شي کېدے ځکه چې ژبه په یو ځاے ولاړه نهٔ وي ـ مادي دنیا کښې بدلونونه راځي ، علمونه وده کوي ، نوي نوي تحقیقونه او ایجادونه کېږي او دې سره کهٔ نوي لغات نهٔ وي نو زاړهٔ لغات په نوو اصطلاحي او ترکیبي معنیو کښې استعمالیږي او دغه اصطلاحات او ترکیبونه د خپلې معنې په تعین د لغت برخه ګرځي ځکه چې کله یوه اصطلاح د اولس په ژبه وخیژي او د امروزه ژوند برخه شي نو په لغت کښې شمولیت ئې ناګزیر شي ـ

د چونګ له خرواره ورمبے ټوك چاپ دے ، دغه چاپ او درېم ټوك چې کمپوز شوے دے زما د وړاندې دي ـ د هغې په رڼا کښې زهٔ دا کرښې لیکم ـ دوېم ټوك به هم یقیني ده چې دغه ترتیب لري ځکه چې ورومبے او درېم د ترتیب او تدوین یو شان والے لري ځکه نو د ترتیب ، تدوین او تکنیك په حقله چې زما کومې خبرې دي نو د هغې قیاس په دوېم ټوك هم د کېدو امکان لري ـ

محاوره یو داسې مکمل مرکب وي چې د یو حرف کمے زیاتے ئې په ښائست او فصاحت خراب اثر پرېباسي ـ

محاوره کهٔ د معنې د ترسیل او تبلیغ یوه موثره او مکمله ذریعه ده نو د اسلوب په جوړښت کښې هم ډېر مهم کردار لوبوي. په محاوره او متل کښې هم فرق شته. محاوره یو مصدري ترکیب وي چې د ناقص مرکب یو قسم دے او متل یوه مکمله جمله یا د جملو مجموعه وي ، ځهٔ متلونه داسې وي چې محاوره هم پکښې استعمال شوي وي او ځهٔ متلونه داسې هم وي چې ډېر په اسانه ترې محاوره جوړېدے شي خو د متل نه محاوره جوړول مناسب نهٔ دي ځکه چې متلونه ځان له خپل یو حېثیت لري او د ژبې مهمه برخه وي . ښاغلي روشن د ډېرو متلونو نه هم محاورې جوړې کړي دي چې زما په خیال مناسب نهٔ دي لکه "اوبښ په غلبېلونو نهٔ درنېږي" یا "اول وخوره د ځان غوښې بیا وخوره د ښکار غوښې" ښاغلي روشن بنګش د دغو دواړو متلونو نه په ترتیب سره داسې محاورې جوړې کړي دي. اوبښ په غلبېلونو نهٔ درنېدل او او اول د ځان غوښې خوړل . دې سره زهٔ دا هم وئیل غواړم چې محاوره د اثبات په حالت کښې وي د نفي حالت ئې هله جائز شي چې په جمله کښې استعمال شي لکه محاور ده "اسمان ته لاړې توکل" خو اسمان ته لاړې نهٔ توکل محاوره نهٔ ده. دغه قرات به ئې هله جائز شي چې محاوره





په جمله کښې استعمال شي او د امر او نهي قانون پرې صادر شي. د نفي تورے د محاورې مستقل جزو نهٔ وي. څنګه چې وړاندې ذکر وشهٔ چې محاوره مصدري ترکیب دے، د دې اجزا د خپل لغوي حېثیت نه لاس په سر کېدو او د یو نوي ترکیب برخه ګرځېدو سره یوه نوې مجازي معنیٰ جوړوي په دغه مجازي معنیٰ کښې د تشبیهـ قرینه نهٔ وي. د محاورې اجزا تشبیهي مناسبت نهٔ لري کهٔ څهٔ هم تشبیهـ او استعاره بلکې مجازِ مرسل هم په عامو خبرو اترو کښې پکارېږي ، دا صرف د ادبي لیك یا شعر سره خاص نهٔ وي. دغه څیزونه یا توکي هم په کلام کښې د ښائست پېدا کولو او خبرې بل ته په مکمله او موثره توګه رسولو کښې لوے لاس لري خو محاوره د ژبې روح وي ، محاوره د اولس د خبرو اترو د انداز نه علاوه خپل یو مخصوص ترکیبي جوړښت هم لري. د دغه جوړښت تر مخه د محاورې وروستے لفظ مصدر وي خو څرګنده محاوره هغه وي چې مصدر ئې کول یا کېدل نهٔ وي ځکه چې دغه مصدرونه د ډېرو داسې اسمونو او صفتونو سره لګي چې د هغې نه بېل شي نو هغه اسمونه او صفتونه بیا هم خپله لغوي معنیٰ ورکوي ځکه نو دغه د کول یا کېدل ترون ورسره عارضي او د ضرورت تر مخه وي خو په محاوره کښې د مصدر اخوا کېدو سره د

محاورې محل رنګېږي لکه چونګ له خرواره کښې دا مرکبات یا مرکب مصدرونه راوړلي شوي دي . اشاره کول، اخته کېدل، لانجه کول او طمعه کول . په دغه قیاس نور ګڼ مصدري مرکبات چې زما په خیال محاورې نهٔ دي ځکه چې په دې کښې د مصدر اخوا کېدو نه پس هم پاتې اجزا خپله معنیٰ پوره ورکوي او مصدر ته محتاجي نهٔ لري.

د چونګ له خرواره په وړومبي چاپ جلد کښې هم ،په درېم کښې هم او په دغه قیاس په دوېم جلد کښې هم محاورې په صحي توګه د الفبې په ترتیب کښې نهٔ دي کهٔ څهٔ هم دغه ترتیب په یو لحاظ شته چې اول هغه محاورې دي چې په سر کښې ئې الف راځي بیا بې خو د یو حرف د لاندې راوړې شوې محاورې بیا په ترتیب کښې نهٔ دي . د لغت په ترتیب کښې د وړومبي حرف نه علاوه دوېم درېم څلورم او دغه شان تر اخري حرفه پورې په نظر کښې ساتلے شي . دې سره د محاورې په تلاش کښې اساني وي او اهم تکنیکي ضرورت دے .

د ښاغلي روشن بنګش دغه کار او زیا دومره لوے او فراخ دے چې د هغې د حسن او قبح پوره احاطه د سریزې په څو مخونو او د وخت په څو لمحو کښې ممکنه نهٔ ده . دغه پورته څو خبرې چې وشوې نو زیاتره تکنیکي دي .





تر کومه چې د تاثره خبره ده نو صرف د دې کتاب په لیدو هم د پښتو مئینان من من غټېږي ځکه چې دا یو ډېر دروند علمي کار دے . د پښتو ژبې یو ډېر لوے خدمت دے . ښاغلي روشن بنګش لاره جوړ کړه . راتلونکي به په دغه لاره نور کار وکړي . بندېزونه به لرې کړي، د کاڼو لوټو نه به ئې پاکه کړي . تزئین او آرائش به ئې وکړي . د وړاندې تګ د پاره به ئې اسانه او برابره کړي او په منزل به ئې ولګوي .

9 مه مئي 2010ء

***

# د قدرونو په لار

د قدرنو په لار د ښاغلي فرهاد علي روغ لیونی د خپلې موضوع په اساس یو ځانګړے کتا ب دے چې پکښې ئې د پښتنو د معاشرتي ژوند هغه رنګونه او خوندونه خوندي کړي دي چې نن د تهذیبونو د یلغار په دې زما نه کښې له مینځه یا خو تلي دي او یا تلونکي دي. انسان فطرتاً ماضي پرست دے. دے چې د ژوند په لار مخ په وړاندې ځي نو خپلو د قدم خاپونو ته په شا شا ګوري او چې څومره خاپې ډېرېږي دومره د دهٔ تشویش زیاتېږي او دغه تشویش دے چې انسان ئې په جنګ او جدل مجبور کړے دے.

مونږ چې په انساني ژوند او معاشرتي تاریخ نظر واچوو نو په دې نتیجه رسو چې انسان د ژوند د بقا په جنګ کښې له ډېرو مرحلو نه راتېر شوے او نن د ترقۍ په لوړ بام او د کائنات د تسخیر په لوړ مقام ولاړ دے. انسان په طبیعي او مادي لحاظ مخ په وړاندې روان دے خو په نفسیاتي او روحاني لحاظ په خپله ماضي کښې اوسېږي.

د تاریخ د مادي نظریاتو په رڼا کښې دا خبره ښه څرګنده ده چې د مادي حالاتو په تغیر او تحول کښې ډېر قدرونه





له مینځه ځي. نوي قالبونه مومي او څهٔ ښځي نوي قدرونه مینځ ته راځي. د تاریخ مادي نظریه دا ده چې په کائنات کښې پرله پسې تغییر او جنګ او جدل روان دے او دغه جنګ او جدل چې کوم نتائج راوړي هغه د انساني تاریخ نوي بابونه رقم کوي او د نوو بابونو د ترقیم دغه عمل ته پوهان د ارتقا نوم ورکوي او ارتقا په دې معنیٰ ده هم ځکه چې انسان د ښهٔ نه ښهٔ په تلاش کښې دے. د مادي حالاتو د بدلون سره چې د انسان په داخل کښې کوم جنګ روان دے د هغې خاکه دے د فنونو او نورو ثقافتي هلو ځلو په شکل کښې خوندي کوي.

انساني ژوند چې څنګ په انفرادي توګه د مختلفو مرحلو نه تیرېږي نو دغه شان په اجتماعي توګه هم مختلف پړاوونه سر کوي. دغه سفر ته چې د تاریخي مادیت په رڼا کښې ګوري نو ارتقا ښکاري خو چې د روح او نفس په رڼا کښې ورته ګورې نو تنزل ښکاري. د ارتقا او تنزل په دغه کشمکش کښې د ژوند او ټولنې په باره کښې مختلف فلسفیانه مکتبونه رامینځ ته شوي دي او د دغه فلسفیانه مکتبونو او مسلکونو تجزیه چې کېږي نو دا نتیجه راوځي چې کوم قامونه په مادي لحاظ د ترقۍ په لوړ بام ولاړ دي هغوي په ورحاني لحاظ د زوال او ذلت په تاترین کښې پراتهٔ دي. د مادي ترقۍ او روحاني زوال

په مثال کښې د دنیا فهم او دانش د مغرب او مشرق مقابله راوړاندې کوي او دا وئیلے شي چې مغرب په مادي لحاظ مخ په وړاندې تلے دے خو په روحاني لحاظ زوال پذیر دے او مشرق که په مادي لحاظ شاته پاتې شوے دے خو په روحاني لحاظ د کمال لوړو درجو ته رسېدلے دے ۔ مونږ داسې هم وئیلي شو چې مغرب د سائنس په مېدان کښې وړاندې تلے دے او مشرق د مذهب په مېدان کښې ۔ د سائنس او مذهب په دغه کشمکش کښې نړۍ داسې دلېږي لکه د مېچنې د دوو پلونو په مینځ کښې چې داني دلېږي خو په تخریب کښې د تعمیر زړے هم پټ پروت وي او د نړۍ علم او دانش د دغه زړي په تلاش کښې سرگردانه دے ۔

د ښاغلي فرهاد دا زيار هم د دغه تلاش او لټون يوه هڅه ده ۔ هغه که يو طرف ته د نوو حالاتو او خيالاتو په دنيا کښې اوسي نو بل طرف ته د قدرونو په زوال هم اوښکې تويوي ۔ د دنیا د مختلفو قامونو او چاپېرچلونو په شان پښتون قام او پښتني علم او دا نش هم د کمال او زوال د دغه کشمکش سره مخ دے او ښاغلي فرهاد ئې په د دې زيار کښې نخښې نښانې راغونډې کړې دي ۔ پښتنه ټولنه چې د ماديت او روحانيت د کوم کشمکش سره مخ ده د نورو ډېرو دانشورانو سره ښاغلے فرهاد هم د زړو قدرونو





له مینځه په تلو نوحه خوان دے او د نوو قدرونو راتګ سره په يو تشويش کښې مبتلا دے ۔ دغه کشمکش يو ډېو لوے جنرېشن ګېپ پېدا کړے دے ۔ په هر عصر کښې دوه نسلونه اوسي ، يو مشر کول وي چې نوي حالات ورته ناقابل برداشت ښکاري او د عدم مطابقت ښکار وي او بل کشر کول وي چې نوي حالات او خيالات هغهٔ له يوه مادي او په هغې کښې پټه روحاني خوشحالي ورکوي ۔ د جنرېشن ګېپ ختمولو يا کم نه کم ساتلو د پاره فنون او تاريخي څېړني لوے کردار ادا کوي او په دغه لړ کښې د ښاغلي فرهاد دا کتاب " د قدرونو په لار" خپل وقعت او اهميت رابرڅېره کوي۔

په دې کتاب کښې هغه ټول توکي راغونډ کړے شوي دي چې د تهذيب او تمدن رغونې ترې کېږي خو د ښاغلي فرهاد نقطه نظر تجزياتي نه بلکې تاثراتي دے چې يو جذباتي صورت حال پېدا کوي ، که په حال د عدم اطمينان په نتيجه کښې د ماضي پرستۍ رجحان پېدا کېږي نو زما په خيال دا به يو صحت مند عمل نهٔ وي ځکه چې ماضي پرستي يو څيز دے او د ماضي مطالعه د سبق اخستو د پاره بل څيز دے ۔ ماضي پرستي د ناسټلجيا يو شکل دے چې په هر حال کښې يوه نفسياتي عارضه ده ۔ مونږ له د حال چيلنجونه قبلول پکار دي ۔ د ماضي نه سبق

اخستل او د هغې په بنیاد د مستقبل مانۍ اودرول پکار دي .

زهٔ د ښاغلي فرهاد دې زیار ته په دې اساس د قدر په نظر ګورم چې د پښتني تهذیب او تمدن، فن او ثقافت هغه کړۍ ئې خوندي کړي دي کومې چې له مینځه تلي دي او یا تلونکي دي.

24مه جولایي 2010ء

***





# یو غزل یوه تجزیه

نهٔ پوهېږم چې د غزل تجزیه ممکنه هم ده کهٔ نه ځکه چې تر اوسه مونږ د غزل د تفهیم کوشش کړے دے نو په دغه کوشش کښې د مختلفو شعرونو د تشریح پورې رسیدلي یو . دغه تشریح په نصابي سطح هم کېږي او په ادبي ، فني او علمي سطح هم کولے شي او په دغه عمل کښې مونږ د غزل یا د غزل د مختلفو شعرونو په کوزه کښې بند د خیال، احساس یا تجربې د سمندر راوېستو او خورولو د زیار سره مخ شوي وي او اکثر داسې وشي چې د تشریح، توضیح او توسیع په عمل کښې د شاعر احساس او تجربه په ځاے پاتې شي او د غزل شارح په بله بله سر شي . اوس چې زهٔ د عارف د غزل تجزیې ته ناست یم نو دا ویره راسره ده چې د هغهٔ د یو ښهٔ او مشهور غزل جوړ شوے تاثر او امېج رانه خراب نهٔ شي . د عارف ټول شعري ژوند زما د سترګو د وړاندې دے . د هغهٔ د شاعرۍ د ارتقایي مراحلو نه زهٔ پوره خبر یم . د هغهٔ د هر شعر وړومبے سامع یا قاري زهٔ یم . د هغهٔ د ژوند د تودو سړو او په طبیعي ، ذهني ، حسي او جذباتي توګه چې هغه د کومو مرحلونه راتېر شوے دے ، د هغې په حقله د معلوماتو دعویٰ زهٔ د هر چا نه زیاته کولے شم . نن چې زهٔ د هغهٔ د کوم غزل د تجزیې اراده لرم ، د هغې د شانِ نزول

نه هم زهٔ خبر یم. د دغه غزل د تخلیق په ورځو کښې چې هغه د کوم خارجي او داخلي کشمکش نهٔ تېر شوے دے، د هغې نه زهٔ نهٔ صرف خبر یم بلکې د احساس د تجربې نه ئې هم تېر کړے یم. د دغه غزل په ائینه کښې چې ما عارف څنګه لیدلے او محسوس کړے دے ګمان مې نهٔ شي چې بل څوك ئې هغه شان ووینې او محسوس ئې کړي خو بیا هم زهٔ چې د دغه غزل تجزیه کوم نو د هغه عواملو، کوم چې د دې د تخلیق باعث دي، ذکر راته بې معنې ښکاري ځکه چې کومه تجربه په یوه فن پاره کښې پېش کړے شي د هغې شکل د هاغه تجزبې نه بدل وي کومه چې په خام شکل کښې په شاعر وارده شوې وي. بل دا احساس راته هم کېږي چې کهٔ مونږ د یوې مرمرینې مجسمې تجزیه کول وغواړو نو آیا د هغې مطلب به دا وي چې مجسمه دې ټکرې ټکرې کړو او هره ټکره دې بیله بیله وځیرو، کهٔ نه یوه کلي مشاهده دې ئې وکړو خو آیا د مجسمې کلي مشاهده کېدے شي او کهٔ د کلي مشاهدې د پاره مونږ د مختلفو زاویو نه مجسمه وځېرو نو آیا د مقام یا زاویې په بدلېدو به تاثر یو شان مرتب کېږي او کهٔ بیل بیل. تاسو به ما سره په دې خبره کښې شاید متفق شئ چې د مختلفو زاویو نه اخذ شوے د مشاهدې جدا جدا تاثر به د احساس په جام کښې داسې





لړل غواړي لکه شربت چې پکښې شامل مختلف اجزا بیل بیل خوند او رنګ لري خو په اجتماع او اشتراك ئې خوند رنګ بیل، کلي او د اصل مدعا مطابق شي. یقیناً چې هم د دغه اصول مطابق د عارف د مذکوره غزل تجزیه ممکنه ده.

د غزل په باره کښې دوه خبرې د آفاقي اصول حېثیت لري، یوه دا چې د دې هر شعر ځان له ځان له اکایي وي چې د سیاق او سباق نه بیل ئې هم وجود مکمل وي او بله دا چې په غزل کښې به د تاثر وحدت هم وي خو د پښتو غزل په تاریخ چې مونږ نظر واچوو نو د دغه دوو اصولو ترمخه درې قسمه غزلې زمونږ مخې ته راځي یو دا چې د وړومبي اصول پابندي پکښې شوے وي، دوېم دا چې د دوېم اصول پابندي پکښې شوے وي او تسلسل لري، درېم دا چې د دواړو اصولو اشتراك په خپله جولۍ کښې لري. د دوېم او درېم قسم غزلو زیاتې نمونې زمونږ په کلاسیك کښې موندے شي، وړومبے قسم غزل زیاتره په جدیده شاعرۍ کښې موندے شي. دغه تقسیم قطعي نهٔ دے. صرف د غالب رجحان په بنیاد شوے دے خو په جدید غزل کښې د حمزه بابا اکثر غزلونه دا خصوصیت لري چې هر شعر ئې د سیاق او سباق نه بیل د اکایۍ په حېثیت هم مکمل وي او د مجموعي تاثر وحدت او د

فضا یو رنګ والے هم لري ګني د پښتو اکثرو جدید غزلونه دا خاصیت خو لري چې هر شعر ئې په طور د اکایۍ مکمل وي خو د تاثر د وحدت فقدان پکښې اکثر وي . د تاثر وحدت یو لمحاتي کېفیت وي چې په یوه خاصه لمحه کښې طاري شوے وي او کهٔ دغه لمحه د شاعر په ګرفت کښې په پوره توګه رانهٔ شي نو په بله لمحه کښې د هغه تاثر نیمګړتیا نهٔ شي پوره کېدے او هر هغه غزل چې په یوه خاصه تخلیقي لمحه کښې د یو خاص لمحاتي کېفیت د لاندې نهٔ وي پوره شوے د تاثر د وحدت دعویٰ نهٔ شي کولے.

د عارف مذکوره غزل دغه خاصیت لري چې پوره غزل په یوه خاصه تخلیقي لمحه کښې د یو خاص لمحاتي کېفیت د لاندې لیکلے شوے دے او دا خاصیت هم لري چې هر شعر ئې ځان ځان له اکایي هم ده . د غزل موضوع داسې ده چې په عارف د فرار یا قنوطیت الزام لګېدے شي ځکه چې د مقصد پرستو د پاره پکښې د مقصدپېغام او د ژوند حرارت ښخي نشته خو په کومو لمحاتو کښې چې دغه غزل تخلیق شوے دے یا د دې د تخلیق په ورځو کښې عارف د کوم ذهني، جذباتي او نفسیاتي کرب نه تېر شوے دے او زهٔ ئې ګواهي ورکولے شم نو کهٔ دغه ګواهي یو طرف ته هم کړو او دې غزل ته په





موجوده لمحاتو کښې هم ځیر شو نو دا احساس ترې راولاړېږي چې شاعر خودکشۍ ته جوړ شوے دے او کېدے شي اکثر خلق ئې محض یو شاعرانه چرت وګڼي خو حقیقت دا دے چې په دغه ورځو کښې عارف واقعي چې هم په دغه قسمه حالاتو کښې ګېر وهٔ او زهٔ دا وئیلے شم چې هغهٔ هاغه لمحاتي کېفیت پوره طور په ګرفت کښې راوستے دے د کوم احساس چې اوس هم د دې غزل نه کېدے شي بلکې په غزل کښې هغهٔ په خپل لا شعوري نفس کښې د برپا قیامت انتقال کړے دے . انتقال د نفسیاتو په اصطلاح کښې دې ته وایي چې د جنسي قوت (LIBIDO) اظهار په داسې شکل کښې وشي چې په ظاهره ئې د جنس سره څهٔ تعلق نهٔ وي ، دغه انتقال چې په فني او تعمیري شکل کښې وشي نو دې ته ارتفاع (SUBLIMITY)وایي او دې غزل کښې لکه چې د عارف د دې لاشعوري قوتونو انتقال شوے وي او ځکه دغه انتقال ئې په ارتفاعي شکل کښې نهٔ وے شوے نو کېدے شي د هغهٔ په ذهن او جسم ئې څهٔ خطرناك نتائج مرتب شوے وے.

دا غزل خالص یو رومانوي غزل دے او په ادبي تنقید کښې دا سوالونه رومانوي نقادانو پورته کړي دي چې ادب یا شاعري څنګه پېدا کېږي ، د شاعر ذهن څنګه کار

کوي او د قوتِ متخيله ماهيئت څۀ دے " او د دغه سوالونو په جواب پسې هغوي د شاعرئ د تخليق سر چينو ته د ځان رسولو کوشش کړے دے خو هر کله چې دغه رسايي د خارج نه د داخل په لور وي او د يو شعري تخليق د تجربې په دوران کښې دا ممکنه نۀ ده چې نقاد دې د شاعر د لاشعور ژورو ته پوره ورسي او هغه محرکات دې معلوم کړي کوم چې د يوې فن پارې د تخليق باعث وي ځکه چې د نقاد مخې ته د شاعر نفسياتي سوانح عمري خو نۀ وي پرته خو لکه چې ما وړاندې عرض کړے دے چې د عارف ژوند زما مخې ته لکه د غوړېدلي کتاب پروت دے ، زۀ چې هغه څومره پېژنم شايد دومره ئې د هغۀ "خالقان" هم نۀ پېژني خو بيا هم زۀ چې په دې غزل غور کوم نو شاعر خپل لاشعور د شعور په پردو کښې داسې رانغاړلے دے چې د غزل د فني محاسنو او لفظي ښکلا سِحر مونږ ځان ته راکاږي او مونږ ته د هغه وارداتو او کېفياتو ننداره راښايي کوم چې د هغۀ په لاشعور کښې تاوېږي خو د اخفا د نرئ پردې سره . د غزل رديف دومره سحر انګېز دے چې زهر ئې هم لکه د انګبينو خوږۀ کړي دي او بې اختياره د سرې زهرو ته زړۀ وشي.





په دې غزل کښې څۀ خاص پېغام نۀ دے وړاندې شوے بلکې د ژوند يو لمحاتي کېفيت پکښې منعکس شوے دے ، دغه لمحاتي کېفيت شايد چې په هر چا طاري شوے وي او کۀ په چا داسې وخت راغلے وي چې د ژوند په حقله ئې د لايعنيت په يوه لمحه کښې سوچ کړے وي نو د دې غزل د تاثر نه به پوره پوره خوند واخلي.

کۀ څۀ هم زۀ د دې غزل تجزيې ته ناست يم خو دغه غزل دومره نازك دے چې ماسره دا ويره ده چې هسې نه د غزل نه روح قبض کړم او د تجزيه نګار په ځاے رانه قاتل جوړ شي. دا غزل د تشريح ، توضيح او توسيع مختاج هم نۀ دے ځکه چې هر شعر ئې دومره ساده او دومره عام فهمه دے چې د پښتو د ادنىٰ نه ادنىٰ قاري پرې پوهېدے شي . زۀ په يو يو شعر هم بحث نۀ شم کولے ځکه چې دغه شعرونه يو بل سره داسې تړلي دي چې هسې نه په جدا جدا کولو ئې مجموعي تاثر ته څۀ نقصان ورسي . د مجموعي غزل په حقله څۀ وئيل هم ګران دي ځکه چې هر شعر کښې ځان له خبره شوې ده او بيل مضمون پکښې بيان شوے دے او بيل بيل تصوير راښايي. د ماضي څۀ رنګين لمحات د حال تيارو ته ترغاړه باسي او د حال ناخوشګوارې د مستقبل نا امېدئ ته سپاري. د هر شعر نه پس د سرې د زړۀ نه يوه څړيکه راپورته شي چې ما له

زهر راکړه او د زهرو خواږهٔ چې په مطلع کښې تر خلې شي نو بیا چې سړے څو په ځان پوهېږي په یو غړپ مقطعې ته رسېدلے وي او د زهرو په تاثیر کښې د ځان له واکه وتے وي او د ځان سره په ګونېدو کښې وایي چې :

نن دې په سترګو کښې تصویر د عارف نهٔ وینمه
ساقي پیاله د مئیو توې کړه ما له زهر راکړه
29م اګست 1999ء

## غزل

### عبدالروف عارف

ګله بانهٔ دې رانزدې کړه ماله زهر راکړه
ښخې په زړهٔ مې دا لشې کړه ما له زهر راکړه
هاغه چې مونږ به رونولې د سحره پورې
هېرې هغه رنګینې شپې کړه ما له زهر راکړه
ما د ژوندون په مخ کښې هېڅ رنا ونهٔ لیدله
په ما پېرزو د مرګ تېرې کړه ما له زهر راکړه
زما او ستا د نصیبونو ستوري نهٔ یو کېږي
ټولې رشتې په اور پسې کړه ما له زهر راکړه
هغه چې ما به پکښې تا او تا به ما ته کتل
ماتې اوس هاغه ائینې کړه ما له زهر راکړه
هسې نه داغ دې شي په سپینه لمن قتل زما





تیارهٔ کړه زلفې راخورې کړه ما له زهر راکړه
نن دې په سترګو کښې تصویر د عارف نهٔ وینمه
ساقي پیاله د مئیو توې کړه ما له زهر راکړه

***

# احتجاج

ستا تر محله چې راځو تا له لمحې درکوو
خپلې خولې درکوو
په دې باور
چې به نظر ته مو تسکین رابخښي
زمونږ د خوښې نظارې رنګین رنګین عکسونه
مونږ ته به ښایې دا حسین مخونه
د لوړو لوړو پلنو پلنو غرونو
د جوختو جوختو ګنبدونو
ښکته او پورته نندارې به کوو
هر یو ګوټ پېر ته به نظر رسوو
جانانه ټولې زاویې به ګورو
اب حیات چې پکښې وي هغې چینې ته ځو
یو څو لمدې لمدې کشتۍ به وینو
رقص او مستې د لپونۍ به وینو
وبش د ښائست زور د ځوانۍ به وینو
دا هنګامې د زندګۍ به وینو
مونږه به وینو تخلیق چرته کېږي
دلته انداز د محبت څنګه دے
دلته تصویر د ثقافت څنګه دے





کهٔ داسې نهٔ کوې نو بیا به انقلاب راولو
ستا په غوږونو کښې به چغې وهو
ستا په محل به یلغارونه کوو
تا ته به زور د احتجاج ونښایو
(عبدالروف عارف)
***

## تجزیه

د ښاغلي عبدالروف عارف شاعرۍ دوه بنیادي اړخونه دي. غزل او نظم ، خو د شاعرۍ سفر ئې د غزل نه د نظم په لور پاتې شوے دے او دغزل ابتدا ئې په نظم انتها ته رسېدلے ده. د هغهٔ اکثره غزلي شاعري د انتهایي ذاتي قسمه قلبي وراداتو اظهار دے او کله چې هغه په خپله دغه داخلي دنیا کښې د نورو خلقو شمولیت محسوس کړے یا ئې اهم او ضروري ګڼلے دے او ژوند ئې د کلهمو انسانانو یو شریك میراث ګڼلے دے نو بیا په نظم لیکلو مجبور شوے دے. شاعر کهٔ د ځان په صیغه کښې خبره کړې ده ، کهٔ د جهان خو موضوع ئې انساني مسئلې او المیې دي.
په نظم کښې چې کومه تجربه بیانېږي هغه مفرده تجربه نهٔ وي بلکې د ګڼو عناصرو او تناظراتو مجموعه او ائینه وي. د نظم د شاعر د پاره د خپلې داخلي دنیا نه علاوه

خارجي دنيا هم اهميت او وقعت لري خو د خارجي دنيا مطلب دا نهٔ دے چې ګني هغه دې د خارجي تجربو يا خارجي ژوند نقشه هو به هو راکاږي چرته چې داسې کېږي هلته د تجربې اظهار يوه تکنيکي مسئله شي ، تخليقي اظهار نهٔ وي لکه د خوشحال بابا بازنامه، طب نامه او فضل نامه وغېره يا د خليق صاحب مرحوم "زهٔ او زما زمانه" . تخليقي اظهار هله ممکن شي چې د شاعر ذات حقيقت سره نېغ په نېغه متصادم شي . د دغه تصادم نه ادراکي اګاهي حاصلېږي او دغه ادارکي اګاهي د تخيل بنياد دے . قوت متخيله حسي ادارك راخلي او د خپلو مقصدونو د پاره ئې استعمالوي . هم دغه تخيل دے چې څيزونه د خپل فطري او طبيعي شکل او صورت نه په ډډه ، په يوه جدا ، منفرد او نوي شکل کښې پېش کوي نه بلکې تخليق کوي ئې ، کهٔ داسې نهٔ وے نو بيا د شاعرۍ يا بل يو لطيف فن جواز نهٔ پېدا کېدهٔ . د شاعرۍ جواز چې په هره زمانه او هر ملك کښې موجود وي نو د هغې وجه هم دا ده چې فن لګيا دے د ژوند او کائنات نوے نوے او بيا بيا تخليق کوي . کهٔ څهٔ هم د ژوند او کائنات تخليقي اظهار په څهٔ نورو صورتونو لکه اساطيرو، زړو رواياتو، عقائدو ، رسمونو ، رواجونو ، ثقافتونو ، معاشرتي مظهرونو لکه جامې ، پېزار،





خواراك ، څښاك، ناستې پاستې او کلهمو تهذيبي او تمدني سرګميو کښې هم کېږي خو د دغه ټولو عناصرو جامع او کلي مظهر کهٔ مونږ څهٔ ګڼو نو هغه ادب او شاعري ده ځکه نو فني او تخليقي يا ادبي تجربې چرې هم ختمېدونکې نهٔ دي .

دا دومره اوږد تمهيد مې د دې د پاره وتړهٔ چې د ښاغلي عارف د نظم "احتجاج" د تفهيم او تجزيې د پاره يو بنياد جوړ شي . دا نظم چې کله هغهٔ د ادبي دوستانو مرکه مردان په يو تنقيدي اجلاس کښې د تنقيد د پاره پېش کړهٔ نو د نظم د موضوع په تعين کښې د تنقيد کوونکيو تر مينځه زښت اختلاف پېدا شهٔ . چا نظم د يو طبقاتي سوچ او کشمکش مظهر وګڼلو او په نظم کښې بيان شوي علامتونه ئې د زېلې او نتلې طبقې حقونه، ضرورتونه او ارمانونه وګڼل او محل د استحصال علامت وګڼلے شهٔ . چا وې د جنس په موضوع ليکلے شوے دے خو شروع او انجام کښې ئې لږ شان کنفيوژن دے . تر دې چې د تصوف موضوع هم پکښې وچېړلې شوه .

نن چې زهٔ د دې نظم تجزيې ته ناست يم نو دغه بحث زما په نظر کښې دے او په دغه تناظر کښې خبره کوم . دا نظم دوه مرحلې لري ، وړومبۍ مرحله هغه ده چې شاعر د يوې

تجربې نه تېر شوے دے او هغه مقام ته رسېدلے دے ،
څهٔ ته چې کروچے "اظهار" (EXPERESSION)وايي۔

د اظهار په باره کښې د کروچے نظریه دا ده چې اظهار د یوې فن پارې شکل او هئیت یا مادي وجود سره (په کوم کښې چې رنګ، کرښې ، اجسام ، فاصلې، الفاظ او د هغې ترتیب او تکرار هر څهٔ شامل وي) قطعي څهٔ تعلق نشته۔ هغه اظهار هغه داخلي کېفیت ته وایي کوم چې د تخلیق د موجوداتو عالم ته د راتلو نه اګاهو په فنکار طاري شي ۔ دوېمه مرحله ئې هغه ده چې مونږ ئې د تخلیقي صورت یا فن پارې په شکل کښې وینو ۔ دا د ابلاغ سره تعلق لري ۔ ابلاغ صرف دې د پاره وي چې شاعر یا فنکار دغه خپله تجربه کښې لوستونکے شریك کړي۔

تر کومې چې د مذکوره نظم د وړومبۍ مرحلې تعلق دے نو شاعر هغه لمحه او هغه مرحله په ګرفت کښې راوستې ده ۔ د تجربې ټول جزیات ئې په نظم کښې بیان کړي دي خو په علامتي انداز کښې، او د ې سره ئې ځان له غمه خلاص کړے دے خو د ابلاغ په مرحله کښې ئې قاري په غم اړولے دے ۔ خبره ئې د لوستونکي سوچ ته پرېښې ده خو د لوستونکي د پاره دا ضروري نهٔ ده چې هغه دې ترې





هم هغه څهٔ اخذ کړي کوم چې شاعر بیان کړي دي ۔ کهٔ شاعر داسې کړے وے چې په نظم کښې ئې دغه ابهام نهٔ وے پرېښے نو بیا به دا د تجربې نېغ په نېغه اظهار وهٔ او د یو وختي چرت او سرسریت نه علاوه به هېڅ نهٔ وو او د دایمي اثر نه به محروم وهٔ ۔

د نظم په وړومبې مصرعه کښې مخاطب مجهول دے (مجهول زهٔ په لغوي معنیو کښې نهٔ وایم) محل اشاره هم ده ، استعاره هم او علامت هم ، چې د دویمې مصرعې "خپلې خولې درکوو" سره د لوستونکي سوچ سمدستي طبقاتي کشمکش ته ټوپ وهي خو وروستو چې نظم کښې کوم لفظونه ، استعارې، یا ترکیبونه او علامتونه لکه رنګین عکسونه، حسین مخونه، پلن پلن غرونه ، جوخت جوخت ګنبدونه، ګوټ پېرونه ، زاویې، د آبِ حیات چینه، لمدې لمدې کشتۍ، رقص او مستي د لېونۍ د ښائست وېش، د ځوانۍ زور، د زندګۍ هنګامې، د تحقیق او تخلیق رازونه معلومول ، د محبت انداز او د ثقافت تصویر معلومول او په خلقو د طاري وحشت ننداره کول ، کهٔ یو طرف ته ذهن د جنس مضوع پله بوځي نو بل خو د پوره انساني ژوند تصویر هم د سړي مخې ته ودروي او هر کله چې شاعر خپل نظم په دې څلورو مصرعو :

کۀ داسې نۀ کوې نو بیا به انقلاب راولو
ستا په غوږونو به چغې وهو
ستا په محل به یلغارونه کوو
تاته به زور د احتجاج ښایو

اختتام ته ورسوي نو ورومبې شوچ دا راپېدا شي چې دا د ریاستي جبر او طبقاتي استحصال خلاف لیکلې شوې یو مزاحمتي نظم دے ، بل مطلب ترې دا راوځي چې شاعر جنسي ازادي غواړي یا په جنس د پابندو مخالف دے . دا خیال ترې هم راولاړېږي چې شاعر د فَسِیروفَیَنظرو داعي دے او د دغه عمل په لار کښې د ولاړو خنډانو خلاف احتجاج کوي . د نظم انداز خطابیه دے . مخاطب مجهول دے او دغه انداز په نظم کښې ډېره لکشي او ژوند پېدا کړے دے او د معنویت دائره ئې ډېره وسیع شوې ده .

تر کومې چې د نظم د پس منظر او تخلیقي محرکاتو تعلق دے نو نۀ زۀ د نفسي تحلیل ماهر یم او نۀ یو ماهر لولے شي چې د نظم پس منظر او تخلیقي محرکات سل په سل معلوم کړے شي .

البته د نظم د خالق سره د ډېر نزدې تلعق په وجه چې تر کومې زۀ د نظم د پس منظر او تخلیقي محرکاتو نه خبر یم نو هغه دا دي چې دا نظم په مخصوصو سنیماګانو کښې





د فلم په دوران کښې د فحش او بربنډو منظرونو د پاره د کتونکیو په جنسي تنده لیکلې شوې دے چې هغوي ئې د چغو سورو ، شپېلي وهلو او کرسو ډبولو په شکل کښې غوښتنه کوي او چې دغه تنده ئې سره نۀ شي نو بیا هم په دغه شکل کښې احتجاج کوي .زما په خیال په نظم پوهېدو د پاره دا ضرور شرط نۀ دے خو زۀ چې د دې نه کومه نکته راپستل غواړم هغه دا ده چې شاعر په دغه صورتحال کښې نۀ چغې سورې وهلې دي ، نۀ ئې شپېلي وهلي دي او نۀ ئې کرسۍ ډبولي دي بلکې د دغه مطالباتي یا احتجاجي عمل یو خاموشه تماشبین پاتې شوے دے او دلچسپي ئې پکښې اخستې ده .

کۀ څۀ هم زړۀ ئې غوښتي وي خو چې خاموشه پاتې شوے دے نو د دغه خاموشۍ نه چې د هغهٔ په نفس کښې کوم دباو پېدا شوے دے د هغه د باو انخلا ئې د دې نظم د تخلیق په صورت کښې کړې ده او هم دغه دباو وي چې شاعر په شعر لیکلو مجبوروي .

کۀ څۀ هم د دغه پس منظر بیانولو سره د نظم ابلاغي اړخ تکمیل ته رسي خو د دې مطلب هېڅ کله دا نۀ دے چې ګني دا نظم نیمګړے دے بلکې د دې نظم غټ صفت خو ابهام دے .

په اخر کښې څو خبرې د نظم په ساخت کول غواړم ـ دا نظم ازاد هئیت لري خو نظم کښې دومره قافیې راغلي دي چې د سرې پرې د پابند یا مقفیٰ نظم گمان وشي ، چونکې دا قافیې د څهٔ خاص اصول تر مخه نهٔ دي راغلي بلکې بې ساخته راغلي دي او د نظم غنایي کېفیت ئې یو په دوه کړے دے ـ ازاد نظم د قافیو نه ازاد وي او مصرعې ئې هم لنډې اوږدې کېدے شي خو د وزن بحر نه د ازادۍ اجازت پکښې نهٔ وي ـ کهٔ په ازاد نظم کښې څوك د وزن بحر نه انحراف وکړي نو د فني او تکنیکي عاجزۍ نه سېوا بل څهٔ توجیه ئې نهٔ شي کېدے ؛ د دې نظم عروضي تقطیع چې مونږ وکړو نو خپله به معلومه شي چې د دې غنایي اړخ څومره نازك دے او څنگه پکښې معمولي بې قاعدگي په سماعت کښې چوکه کېږي ـ دا نظم د بحرِ رمل د مزاحف بحرونو نه په یو بحر کښې لیکلے شوے دے ـ بحر رمل د فاعلاتُن د تکرار نه په وجود کښې راځي او په مزاحف حالت کښې ئې دوه ارکان فعلاتُن او اخري رکن فعلات شي ـ دغسې پوره بحر فاعلاتُن ، فعلاتُن ، فعلات شي ـ د عروضو په اصطلاح کښې د دغه بحر نوم رمل مخبون مقصور دے ـ د دې نظم ټولې مصرعې د دې بحر د ارکانو څلورځلې ، دوه ځلې او درې ځلې تکرار نه جوړېږي ـ د ورومبۍ مصرعې د





ورومبي لفظ ستا او د بحر د ورومبي رکن فاعلاتُن "فا" صوتي هم اهنگۍ د توجه وړ ده ، د بحر درې ارکارن څلور سېلابې دي او اخري رکن ئې درې سېلابې دے ـ د نظم په ټولو مصرعو کښې به اخري رکن فعلات خامخا تکرارېږي ـ صرف یوه مصرعه چې د نظم دریمه مصرعه ده څلور سېلابې ده خو دا به په تقطیع کښې د څلورمې مصرې سره یو ځاے حسابېږي ـ په ټول نظم کښې صرف یوه مصرعه د جوختو جوختو گنډونو ، چې د نظم اتمه مصرعه ده ، ساقط الوزن ده او د نظم په غنائیت بد اثر پرېباسي ـ

***

## پتنګان

چې سپينه ورځ وي او د نمر ککوړے هم سور وي
نو په رڼا مئين د شمعې پتنګان چرته وي
د کائنات ذره ذره چې ځلبلانده ښکاري
د توو شپو تورو تيارو ړاندهٔ ياران چرته وي

خو مابنامے چې د تيرو په سمندر کښې غرق شي
نو دوي د سوړو نه راوځي د رڼا دعوې دار
چې نهٔ د شمعې په لمبه نهٔ په رڼا مئين وي
زما او ستا په وړاندې هسې د ضيا دعوې دار

چې شمعې بلې شي د دوي په خونه اور ولګي
چې د تيرو په کورکو کښې دا رڼا ولې ده
ټول پرې راچمبړ شي کوشش ئې د وژلو کوي
په وزرونو ئې وهي چې پکښې سا ولې ده

لمبه لمبه شي چې ئې زړهٔ کښې د حسد اورونه
بل دي خو يو د شمعې روڼ مخ ته کتلے نهٔ شي
تيرو کښې اوسي د تيرو بچي تيرو کښې خوښ وي





سترګې ئې بريښي دوي د نور شغلې زغملے نهٔ شي
(محمد زبيرحسرت)

## تجزيه

ښاغلے زبير حسرت په خپل کول کښې زما په خيال يواځينے شاعر دے چې د خپلې شاعرۍ د ډکشن د پاره ئې د کلاسيک شاعرانو نه راواخله تر جديد دور پورې او تر دې چې د اولسي شاعرۍ ټول لفظياتي او اسلوبي رنګونه په داسې رنګ راغونډ کړي او په خپل فن کښې اغږلي دي چې د هغهٔ اسلوب له ئې ځانګړے رنګ ورکړے دے. هغه د پښتو شاعرۍ تاريخ واره مطالعه هم لري او په مزاج کښې د اثر پذيرۍ ماده هم او هر کله چې د قدرتي صلاحيت او اکتساب دغه امتزاج ئې د اظهار لاره موندې ده نو بيا يو يا دوه شعري صنفونه د هغهٔ د پاره کافي شوي نهٔ دي ځکه نو هغه په ګڼو صنفونو طبع ازمائيلې ده او اکثر کامياب شوے دے. د ټي ايس ايليټ د تنقيدي نظريې په رڼا کښې چې د حسرت شاعرۍ ته ګورو نو ټول مرحوم شاعران ځهٔ چې د حسرت ټول نمائنده اسلاف پکښې د خپلو اسلوبونو جنډې په لاس داسې برېښي لکه د يو سکول په بهرني دېوال چې رنګارنګ جنډې ولاړې وي خو دننه روح پکښې د حسرت خپل وي او د دغه ګڼو رنګونو نه جوړه ګلدسته د

حسرت خپله وي ځکه چې د هغهٔ د شاعرۍ مافیه د هغهٔ په خپلو قلبي وارداتو او داخلي تجربو مبني وي ، خصوصاً د هغهٔ په نظم کښې ، په غزل کښې هغه لړ د افراط ښکار شوے دے . دا ځکه چې د هغهٔ ډکشن اکتسابي دے او د انتخاب نه ئې همېشه ډډه کړې ده . په غزل کښې د هغهٔ تجربې د عدمِ انتخاب په وجه ښکاره نهٔ دي ، لېکن غوارې خو په نظم کښې ئې موضوعاتي تنوع هم شته او فني تازګي هم . شاید د دې وجه دا وي چې په نظم کښې د سر نه تر اخره یو مضمون په خپل ارتقایي شکل کښې په مربوط انداز کښې پېش کړے شوےوي او په زړه شخوند پکښې بېخي نهٔ شي برداشت کېدے . مضمون کهٔ هر څومره هم نوے وي خو د حسرت لساني قدرت د هغې اظهار د بلاغت درجې ته رسوي .

د زبېر حسرت دا نظم "پتنګان" هم د هغهٔ نمائنده نظم دے . د نظم فارم پابند او قطعه بند دے خو انداز ئې علامتي دے . هسې خو شاعري ټوله علامتي وي کهٔ مونږ علامت فی الحال د لفظ په مجازي معنیٰ کښې د استعمال مترادف وګڼو نو دا به څرګنده شي چې په هره زمانه کښې په شعر کښې لفظ په مجازي معنیٰ کښې استعمال شوے دے ځکه چې د شاعرۍ نه بهر هر لفظ خپل لغوي سیاق او سباق لري او معنې ئې ټاکلي شوے





وي. شاعر چې د خپلې تخلیقي تجربې اظهار کوي نو په دغه اظهار کښې چې هر لفظ د معنې کوم سیاق او سباق تړي هغه د دې نه وړاندې نهٔ وي موجود . د لفظ په مجازي معنیو کښې د استعمال سفر د محاورې ، اصطلاح، ترکیب ، تشبیهـ ، استعارې ، کنایې او مجاز مرسل په پړاوونو راتېر شوے د علامت تر منزله رارسېدلے دے او دغه شان د ژبې محدودیت چرې هم د شاعرانه اظهار په لاره کښې خنډ شوے نهٔ دے.

د علامت په باره کښې ښاغلے سلیم اختر لیکي چې" دا محض د اظهار یو انداز او اسلوب نهٔ دے بلکې د دې نه زیات د یوې داسې ائینې په مثال دے چې د عصر د نفسي خط و خال مشاهده پکښې کولے شي . صرف دا نهٔ بلکې د عصر سرڅنه هم د دې به ذریعه کېږي ". هم دغه وجه ده چې ښاغلي حسرت دا نظم "پتنګان" د یو وختي چرت په طور په علامتي پېرایه کښې نهٔ دے لیکلے بلکې د خپل عصر نفسي او معروضي خط او خال ئې پکښې څرګند کړے دے . پتنګ د دې نظم نه وړاندې د رڼا د عاشق په معنیٰ کښې استعمال شوے دے او هر چا چې استعمال کړے دے نو روایت پسې تلے دے خو حسرت پتنګ د رڼا د دشمن په معنیٰ کښې پېش کړے دے او دا

ئې ثابته کړې ده چې شاعر هر وخت وغواړي نو یو زوړ لفظ ته نوې معنیٰ او د معنیٰ نوے تصور ورکولے شي.
د رڼا دشمنان په هر دور کښې وي. په هر دور کښې د رڼا د وژلو هڅې شوي دي ځکه چې رڼا تل د حقیقتونو نه پرده پورته کوي او تور او سپین په ډاګه کوي. هغه خلق چې په ظاهره خو د رڼا دعوې دار وي او ځانونه د رڼا په عاشقانو کښې حسابوي خو عمل او کردار ئې همېشه د تیارو د راج په مرسته وي او دغه شان د رڼا خلاف د شپ پرستو قوتونو په اتفاق هم په دې نظم کښې رڼا اچولې شوې ده.
دا نظم علامتي دے خو مبهم ببخي نۀ دے بلکې دومره بلاغت دے پکښې چې د نظم مرکزي علامت پتنګان هډو علامت ښکاري نه خو بیا هم دا یو ښۀ علامتي نظم دے. هم دغه انداز دے چې د نظم د زمان او مکان حدونه ئې پلن کړي او معنوي اطلاقات ئې ژور کړي دي. د نظم لفظیاتي تنسته ټوله داسې ده چې هر لفظ ئې د مرکزي علامت پتنګانو سره متلازم دے چې د نظم محاکاتي اړخ ئې هم ډېر قوي کړے دے او په ذهن چې کوم تصویر مرتب کوي د هغې ټول رنګونه ډېر متناسب او ډېر اثر افرین دي. کۀ مونږ د مشرقي تنقید اصطلاح استعمال





کړو نو په یو لفظ کښې داسې وئیلے شو چې دا نظم د صنعتِ مراعاة النظیر یو ډېر ښۀ مثال دے.

***

## اضطراب

ما د خپل ذات ګُنبد کښې ډېرې چغې وو ېستلې
ما د وجود د سماعت ورونه وډېول
ما د احساس د بصارت په خلهٔ کښې ځان ورکړلو
ما د وجدان په تندي ډېر چکونه ولګول
په دې امېد چې له دې شوره مې دا تن خلاص شي
یو داسې شور چې د وېنو په شانې غلے مې خوري
یو داسې اور دے چې په ډډ کښې راته زهر نولي
زهٔ د سکون د خدا ے د کور په تکل ووتمه
خو د انسان د مملکت سرحد ته ورسېدم
د تهذیبونو عقیدو په ستانو وګرځېدم
ما د الفت د داستانونو شګې تولې چاڼ کړې
ما د اٰدم د تاریخ هر یو څلے لتې په لتې کړو
ما د انسان د ثقافت ککرۍ وموندلې
ما د هغوي وړاندې کچکول ونیوهٔ
هغوي زما کچکول ته ډېر وژړل
ما د هغوي کاسه کښې اوښکې توې کړې
ځکه چې شور زمونږ د یو کلي وهٔ
ځکه چې اور زمونږ د یو کالهٔ وهٔ





(روښان یوسفزے)

## تجزیه

د ښاغلي روښان شاعري چې د بې سوادۍ نه د باسوادۍ مملکت ته راوړېدلې ده نو پرله پسې د سفر په حالت کښې پاتې شوې ده چونکې هغه د نظریې سره سره د عمل د مېدان شاهسوار هم دے او د مطالعې په دنیا کښې د هغهٔ د انتخاب نظر په یوه مخصوصه او نتګه دائره کښې نهٔ دے ګېر ځکه نو ورځ په ورځ د هغهٔ فن د نوو نوو تجربو ، ریاضت او معنویت په لور مخ په وړاندې روان دے او نن کهٔ هغه غزل لیکي نو د فکر او مقصدیت لمن ئې کلکه نیولې وي او د ژولو شویو موضوعاتو او مضامینو نه ځان داسې بچ کوي لکه یو زاهد، عابد ،متقي،بنیادم چې ځان د ګناه نه بچ کوي او کهٔ نظم لیکي نو د خپل معروضي چاپېر چل سره سره خپله ماضي او خپل څهٔ چې ټول انساني تاریخ او انساني نفسیات هم په نظر کښې ساتي ـ هر کله چې هغه د معنیٰ مفهوم او مقصد یو لوے جهان رانغاړي او اختصار ئې په نظر کښې وي نو بیا د علامت لمن رانیسي ـ

د ښاغلي روښان د نظر د وړاندې نظم "اضطراب" په حقله د څهٔ وئیلو نه اګاهو زهٔ دا وضاحت کول هم غواړم

چې په قول د ټي ايس ايليټ " ادب چې په خلقو کوم اثر کوي نو دا ضروري نهٔ ده چې هغه دې هم هغه وي کوم چې د مصنف ذهن کښې وهٔ، دا اثر د خلقو د خپل صلاحيت او قابليت مطابق وي ".د اثر تعلق د پوهې سره وي او د پوهې درجې مختلفې کېدے شي . دغه شان نقاد هم د شعر او ادب لوستونکے وي کهٔ څهٔ هم د هغهٔ شعري ذوق د اعلیٰ درجې ، علم وسيع او پوهه ژوره وي او په شعر کښې د استعمال شويو لفظونو په شا د هغې مجازي معنيواو نفسي متعلقاتو ته د رسېدو اهليت هم لري خو بيا هم دا معلومول چې شاعر الهام د چرته نه اخستے دے او تخليقي محرکات ئې څهٔ دي زما په خيال ممکن نهٔ دي . دا خبره زهٔ د هغه شاعرۍ په باره کښې نهٔ کوم چې مقصديت پکښې په فن او شعريت خور وي . کهٔ نقاد د تحليلِ نفسي طريقه خپله کړي نو هم هغهٔ سره د تحليلوونکې فن پارې نه علاوه بله هېڅ داسې ذريعه نه وي چې هغه پرې د فنکار د شعور نه لاندې د هغهٔ د لاشعور تاخانو ته کوز شي کهٔ د نفسياتو يو ماهر د يو اعصابي يا نفسياتي مريض تحليل نفسي کوي نو هغه د سوال او جواب او خبرو اترو په ذريعه د مريض د لاشعور نه ډېر څهٔ راوېستے شي او يوه تفصيلي کېس هېسټري مرتب کولے شي خو د فن پارې د تحليل په وخت د فن





پارې د خالق غېر موجودګي تحليل کوونکي له د سوال او جواب او خبرو اترو موقع نهٔ ورکوي . د هغهٔ تکيه به صرف په خپل علم او مهارت وي او يو اړخيز عمل به کوي او په دغه يو اړخيز عمل کښې به د تېروتنو ګنجائش ډېر زيات پاتې کېږي ځکه نو د ټي ايس ايليټ د پورته ذکر شوي قول په دائره کښې نقاد هم محصور ګڼل پکار دي . کهٔ څهٔ هم هغه نقاد د دې جوګه هم ګڼی چې " دے په لوستونکيو کښې د شاعرۍ پوهه پېدا کوي " د دغه پورتني صورت حال سره چې زهٔ په دغه نظم تر کومې رسېدلے يم نو هغه دا چې په دې نظم کښې ښاغلي شاعر د ذات او کائنات تناوونه په يو بل کښې داسې رانغاړلي دي چې ذات ئې د کائنات او کائنات ئې د ذات نمائنده کړے دے او د نني انساني الميې تصوير چې د تفريق په توره ټوکړې ټوکړې او کربښې کربښې دے ، ئې د غونډ انساني تاريخ په پس منظر کښې په ابښودو واضح کړے دے . د نن انسان چې شاعر ئې نمائنده دے ، د کوم شور سره مخ دے ، دغه شور نفسياتي يا ذهني هم کېدے شي او ماحولياتي هم، شاعر د هغې نه د ځان خلاصي په هڅه کښې دے، خو د خلاصون نه مخکښې د شور سرچينه معلومول ضروري وي . شور له کومې راپېدا شوے دے، ايا د دې سرچينه د شاعر (انسان) ذات دے او کهٔ د هغهٔ د

ذات نه بهر دنیا ده . شاعر اول د ذات په سفر تلے دے ، تلاش او لټون ئې کړے دے او بیا د ذات (چې د انسان انفرادیت دے) نه بهر د کائنات (چې د انسان اجتماعي ژوند دے) په سفر روان شوے دے خو په دغه دوه اړخیزه سفر کښې په دې نتیجه رسېدلے دے چې د ذات په دنیا کښې خود پرسته انانیت او نرګسیت او په کائنات کښې د تهذیبونو ، عقیدو او نظریو په نوم د تعصب ، تنګ نظرۍ ، ظلم جبر او د تشدد داستانونه او نوبتونه وو . د ادم تاریخ د کپرو د منارو تاریخ وۀ . د شور یو سر په ذات کښې ګېر وۀ او بل په کائنات کښې . یو د بل ائینه وه . په دغه ائینه کښې شاعر ته معلومه شوه چې :

شور زمونږ د یو کلي وۀ
اور زمونږ د یو کالۀ وۀ

هر کله چې د شور په پېدا کېدو کښې د غونډ وګړي لاس وۀ نو دا د انسان د اجتماعي تاریخ المیه شوه او دغه شور او دغه اور نه یو هم بچ پاتې کېدونکے نۀ دے . نن کۀ زما کور د دې په ضد کښې دے نو سبا ترې بل کور هم بچ کېدونکے نۀ دے . د دغې شور نه د خلاصې صرف یوه لاره ده چې د غونډې نړۍ انسانان په تهذیبونو ، عقیدو





او نظریو د زور راوړلو او خپلو شوملو ته د خوړو وئیلو په ځاے د انسان نسلي او حیاتیاتي بقا مقدمه وګڼي . انسان کۀ د دنیا په هر ګوټ کښې دے ، په نسلي او حیاتیاتي لحاظ هغه انسان دے ، د هغۀ جبلتونه یو دي چې په جبلي توګه یو انسان د بل نه بیل او لاندې باندې نۀ دے نو بیا د تهذیبونو ، عقیدو او نظریو په بنیاد ولې د تشدد ښکار دے . تهذیب او مذهب د هغۀ د جبلتونو د نشو نما او تزکیې د پاره پکار راوستل دي نۀ چې د هغۀ د تباهۍ او بربادۍ د پاره د نظم لفظیاتي اړخ ته کۀ ځیر شو نو ګنبد ، کپرۍ ، څلے ، کچکول او کاسه داسې علامتونه دي چې د نظم معنیاتي فضا سازوي . په ګنبد کښې اوازونه د ګنبد او څلي تړون د کپرۍ کچکول او کاسې خلا د نني انسان په ذهني ډډون او باطني لایعنیت دلالت ورکوي خو شاعر دغه خلا د رجائیت په پېغام ډکوي د شاعر د پېغام مطابق کۀ یو انسان خپلې اوښکې د بل په کاسه کښې توې کړي او د بل د اوښکو نه خپل کچکول ډک کړي نو دغه شور چې زمونږ د یو کلي دے او دغه اور چې زمونږ د یو کالۀ دے د انسان خلاصے ترې ممکن دے .

***

## فاصلې

مونږ عجیبه مئین یو
څۀ ډېر ساه مئین یو
چې له مودو راسې نه
په چپه خلۀ مئین یو

نۀ تا اظهار وکړلو
نۀ ما اقرار وکړلو
نۀ مو وعده وکړله
نۀ مو انکار وکړلو

کۀ دومره لرې نۀ یو
بیا هم ملګري نۀ یو
دلته بلا رقیبان
مونږ یو وزري نۀ یو

مونږ څۀ وئیلے نۀ شو
مینه کولے نۀ شو
د محبت ځنې ډك
زړونه سپړدلے نۀ شو





په چپه خلۀ خبرې
کوو د زړۀ خبرې
څۀ د مسکا په ژبه
څۀ په لېمۀ خبرې

چې مسئلې ختمې شي
چې دا ګیلې ختمې شي
نو دا به هله وشي
چې فاصلې ختمې شي
(همایون همدرد)

### تجزیه

د پښتو په جدیده شاعرۍ کښې اجتماعي تنقید خو لا مینځ ته نۀ دے راغلے. د جدیدو شاعرانو د فکر، فن او اسلوب په بنیاد درجه بندي او ډله بندي لانۀ ده شوې خو بیا هم په انفرادي توګه چې د مختلفو شاعرانو د شاعرۍ په باره کښې کوم تنقیدي مواد مینځ ته راغلي دي د هغې نه مونږ دا اندازه لګولے شو چې شاعر د فکر او اسلوب په رڼا کښې د کومې ډلې سره تعلق لري.
څنګه چې په زړه شاعرۍ کښې مختلف مکتبونه دي لکه روښاني مکتب، د رحمان مکتب، او د حمید بابا مکتب. دغسې په جدیده شاعرۍ کښې د حمزه بابا مکتب (کۀ څۀ

هم د دغه مکتب حدونه لا ج متعین نهٔ دي، دغه ټول مکتبونه د فکر او اسلوب په لحاظ سره په اسانه پېژندے شي او کهٔ د یو شاعر په باره کښې دا ووئیلے شي چې دغه د فلانکي مکتب سره تعلق لري نو کم نه کم د هغهٔ اسلوب او ورپسې د فکر و خیال او فني نظریاتو یو پرق د سړي د پوهې په ائینه منعکس شي . د یو مکتب سره تړلي شاعر په باره کښې سړے په اسانه معلومولے شي چې د دهٔ فکر او اسلوب رنګ څنګه دے ، د تجرباتو او محسوساتو د اظهار پېرایه ئې څهٔ او څنګه ده؟

د دغه اصول په رڼا کښې چې د ښاغلي همایون همدرد اسلوب له بنیاد ګورو نو زهٔ به د ښاغلیو سیف الرحمان سلیم، خاطر اپریدي، یوسف خان اورکزي، عبدالله جان مغموم او ډاکټر اسرار نومونه اخلم.

د دغه ټولو شاعرانو د اظهار انداز ته چې ګورو نو داسې محسوسېږي چې ګني دوي خپل حسیت په لفظونو کښې نهٔ بیانوي بلکې نېغ په نېغه ئې د قاري په احساس اثر انداز کوي . دلته لساني پرده دومره باریکه ، نازکه ، په کفایت او قناعت مبني ده چې سړے د درنو درنو لفظونو ترکیبونو او علامتونو په پُل صراط د تېرېدو د زخمت سره نهٔ مخ کېږي.





په زلمو شاعرانو کښې دغه خصوصیت زما په خیال یواځې همایون همدرد ته حاصل دے کهٔ څهٔ هم د خپلو پېش روانو غوندې همدرد هم د غزل شاعر دے او د هغهٔ د فن او اسلوب جائزه د هغهٔ د غزل په ذریعه ممکنه ده خو دلته زهٔ د هغهٔ دنظم تجزیه کوم . نظم د هغهٔ د شاعرۍ استثنایي برخه ده او د هغهٔ نظم هم د هغهٔ د غزل په رنګ کښې رنګ ښکاري . هم هغه لساني قناعت او کفایت او نزاکت لري . هغهٔ نظمونه کم لیکلي دي او په قطعیت سره پرې رایې ورکول ګران دي خو بیا هم تر اوسه چې ئې کوم نظمونه لیکلي دي په هغې کښې هغه د غزلي فضا او کېفیت نه بهر نهٔ دے وتے . کهٔ وتے دے نو صرف د هیئت تر حده یا د ایجاز په ځاے د اطناب په طرف تلے دے خو دغه اطناب زما په خیال صرف د خیال یا تجربې نسبتاً تفصیلي بیان دے . لفظیاتي خصوصیات ئې هم هغه دي کومو ته چې ما وړاندې اشاره کړې ده.

زما په خیال سهلِ ممتنع وایي هم دې ته چې د ژور نه ژور او د نادر نه نادر خیال په دومره لږو لفظونو کښې بیان شي چې سړي ته لفظونه هډو لفظونه ښکاري نه یا دا وایي چې په دې لفظونو کښې خو هډو څهٔ خبره نشته خو چې په شعر سوچ او فکر شروع کړي نو د معنیٰ دومره ژورتیا پرې منکشفه شي چې واپس لفظونو ته تلل ترې

هډو پاتې شي او د معنیٰ په کېفیاتي فضا کښې ورك ورك شي.

د همدرد د نظم فاصلې د تجزیې نه وړاندې دا دومره لوے حصار ما څکه اودروهٔ چې دغه نظم په وړومبي نظرکښې یو عام ، ساده او اسان نظم ښکاري او لوستونکے سمدستي ووایي چې په دې کښې څهٔ دي ، خو د دوو مئینو ترمینځه د یك طرفه مینې او بیلتون په موضوع لیکلے شوے نظم دے او شاید وي هم داسې خو دغه نظم کهٔ مونږ په خپل تهذیبي، سماجي او نفسیاتي پس منظر کښې کېږدو او د هم دغه یکطرفه مینې او بیلتون اسباب معلوم کړو نو کېدے شي چې د نظم د ساده خیالۍ نه دومره ژورو ته لاړ شو چې بیا واپس د نظم لساني اړخ ته هډو رجوع ونهٔ کړو.

فاصله ، بیلتون او جدایي د ننني انسان المیه ده. هغه انسان چې د غار د ژوند نه ئې شروع کړې وه او دومره مخ په وړاندې تلے دے چې سپوږمۍ ئې د پښو لاندې ده او په نورو سیارو د کمند اچولو په هڅه کښې دے. د کائنات د تسخیر د دومره معجزانه کارنامو تر سره کولو باوجود نن په خپل ذات کښې هم تنها دے او په خپل چا پېرچل کښې هم د فاصلو په ګرداب کښې ګېر دے. دغه فاصلو او دغه بېلتون د یو انسان د بل نه ګیلې هم پېدا





کړي دي او بې شماره مسئلې ئې هم راولاړې کړي دي. مینه کهٔ انسان د بل انسان سره کوي ، وطن سره ئې کوي او کهٔ نظریې سره ئې کوي خو د مینې په لار کښې همېشه خنډان پېدا کېږي. دغه ټول خنډان کهٔ مونږ په یو ټکي کښې رانغاړو نو دغه د رقیب د اصطلاح نه علاوه بل څهٔ نهٔ شي کېدے. رقیب د شاعرۍ مستقله او دائمي موضوع ده ، زما په خیال په ارضي ژوند کښې داسې څهٔ امکان نشته چې د انسان دغه مقدر بدل شي او د محب او محبوب تر مینځه دغه فاصلې او بیلتون ختم شي.

د محبت په خالص روحاني سفر کښې هم قدم په قدم خنډان مخې ته راځي او کهٔ یو مئین چرته د وصال هغه مقام ته وهم رسېږي چې د محب ، محبوب او محبت احساس او تفریق له مینځه لاړ شي خو بیا هم دغه مثالونه دومره کم دي چې د عمومي کلیې استنباط ترې نهٔ شي کېدے. تاریخ هم د دغه فاصلو او حادثو د داستانونو نه ډك دے څکه نو په هره زمانه کښې به دغه د شاعرۍ مستقله موضوع وي او هم دغه تناظر د همدرد د دغه نظم جواز پېش کولے شي.

***

# کهٔ ماته پته وے

ستا د یادونو اسویلو نه طوفانونه جوړ شو
ستا کم ظرفه بې رخۍ نه خزانونه جوړ شو
ستا د بې لوظه بې لوظۍ نه ارمانونه جوړ شو
د سترګې ژوند لحظې لحظې نه قیامتونه جوړ شو
کهٔ ما ته پته وے چې داسې به تنها پاتې شم
قسم دے یاره ما به مینه هډو کړې نه وه
هسې مې ستا په شنو رګونو ځان کښې سره وینه کړو
هسې مې ستا په تور زړګوټي کښې مزل کړے دے
هسې عبث مې د هوا په اس سورلي کړې ده
هسې مې وخت سره په منډه منډه زغل کړے دے
کهٔ ماته پته وے چې داسې به تنها پاتې شم
نو ما به هېڅ کله خپل ژوند په تیارو نهٔ بائللو
ما به د خیال د دریچو نه تاته ولې کتل
ما به د سترګو په ککو کښې رانغاړلې نهٔ وې
ما به شور کړې نهٔ وې ما به سپرلے کړې نهٔ وې
ما به د زړهٔ په سرو ګلونو کښې پټیلې نهٔ وې
کهٔ ما ته پته وې چې داسې به تنها پاتې شم
ستا د تهمت تورکے به ما په لمن پرېښې نهٔ وي





ستا د نفرت دې مړو ایرو چې بېرته اور واخستهٔ
زما د مړ وجود ډانچې له حرارت دې راکړهٔ
کهٔ په ظاهره د معصوم زړګي قاتله ښکارې
خو ډېره ښه شوه چې احساس غوندې دولت دې راکړهٔ
اوس د دې خپلې تنهایۍ په سبب ورسېدم
چې خپل دردمن زړهٔ په حالاتو د درد پوهه کړمه
(ساحل یوسفزے)

## تجزیه

ساحل یوسفزے د ځوانو جذبو او تنکو احساساتو شاعر دے. د هغهٔ په ټوله شاعرۍ کښې یوه تصوراتي او روماني فضا خوره ده. د هغهٔ د شاعرۍ موضوعات او مضامین د مِن او تود تعلق، تړون او بېلتون په طلسماتو کښې راګېر دي. مِن د شاعر ذات دے او تود دغه ذات د مکان یو ښکلے مکین دے. په دغه دائره کښې د کېدونکې شاعرۍ د پاره د اظهار ښهٔ پېرایه او وسیله غزل دے او ځکه د ساحل غزل ډېر زړهٔ راښکونکے، رنګین، نازنین، مرمرین، د سوز و ساز نه ډك ساده خو جاذب، پرکاره او پراسراره دے.

د هغهٔ په نظمونو د هغهٔ د غزل ګور سېورے دے ۔ کهٔ د فارم او هئیت احساس له منځه لرې شي نو د هغهٔ د نظمونو ماحول او فضا هم هغه کېفیاتي خوند رنګ لري کوم چې د هغهٔ د غزل خاصه ده ۔

د ساحل دا نظم " کهٔ ما ته پته وے" هم دغه د زهٔ او تهٔ د راز او نیاز موضوع لري ۔ د نظم ټوله فضا روماني ده او لکه چې دا د روماني انقلابي شاعر ساحر لدهیانوي د شاعرۍ د ژور اثر لاندې لیکلے شوے وي ۔ روماني شاعر کهٔ انقلابي رجحان هم لري خو دغه رجحان دمقابلې او مزاحمت په ځاے د شکست خوردګۍ او فراریت طرف ته زیات وي ، روماني شاعري د تنهایۍ د لمحاتو ، د ذاتي مینې د ناکامۍ یا مشکلاتو په مرحلو کښې په خوږ زړهٔ د پهې کار ورکوي ۔ د رومانیت ارتفاع په انقلابیت کښې کېږي ۔ دا د ځان نه د جهان په لور سفر وي ۔ د هر درد ، هر غم ، هر احساس ، هرې جذبې سر چینه د شاعر د ذات نه راټوکېږي او ډېر مزل د شاعر د ذات په مملکت کښې کوي ۔ داسې لکه یوه چینه چې په غرونو کمرو او ګټانو کښې پټه پټه بهېږي ، لږ ساعت له راښکاره شي او بیا پټه شي ۔ په رومانیت کښې د انقلابیت ګډون هم دغسې وي او د ساحل دا نظم هم دغسې کړهٔ وړهٔ لري ۔





د محبوب د یادونو نه جوړ شوي د اسوېلو طوفانونه ، د بې رحمۍ خزانونه ، د بې لوظۍ نه جوړ ارمانونه ، د عارضي وصال نه پس دائمي هجران ، د خیال په دنیا کښې د خیالي محبوب د خیاله کاږهٔ ګرځېدل ، محبوب د قاتلو خویونه لرلو باوجود معصوم ګڼل روماني فضا سازه کړي او شاعر چې د محبت د ناکامۍ په نتیجه کښې تنها پاتې شي نو دا انقلابي نعره پوره کړي چې:

اوس زهٔ د خپلې تنهایۍ په سبب اورسېدم
چې خپل دردمن زړهٔ د حالاتو په درد پوهه کړمه

د نظم هئیت مسدس دے خو جدید مسدس ، هر بند شپږ مصرعې لري خو د قافیو او د مصرعو تړون ئې لکه د روایتي مسدس نهٔ دے تقریباً هر بنده ئې د قافیو په تړون کښې د بل نه بدل دے او هئیتي جدیدیت پخپله رومانیت دے ځکه چې د رومانیت یو صفت د قالب پرستۍ او هئیت پرستۍ مخالفت هم دے ۔ په نظم کښې د لفظونو تکرار یو غنایي کېفیت پېدا کړے دے او دغه غنائیت ئې چې د شاعر د قلبي وارداتو سره یو ځاے شوے نو نظم ئې د تغزل مقام ته رسولے دے ۔

***

# الودګي يو تجزياتي مطالعه

ښاغلے زبېر حسرت د پښتو زلمے شاعر او اديب دے چې په بلا موضوعاتو ئې تر اوسه ډېر څۀ ليکلي دي. د نظم او نثر ګڼ اصناف ئې له قلمه وتي دي او د هر صنف سره ئې تر خپله وسه پوره پوره انصاف کړے دے چې د هغۀ په همه ګيرو او رنګارنګ صلاحيتونو دلالت کوي. ښاغلے حسرت بنيادي طور شاعر دے او د يو ښۀ شاعر په حېث نسبتاً زياته پېژندګلو لري او په خپلو همځولو کښې د يو منفرد او صاحب طرز شاعر په نوم پېژندے شي خو هغه نثر هم ډېر زيات ليکي. تنقيدي او تحقيقي مقالې، په کتابونو تبصرې، خاکې، رپورتاژونه، ډرامې، کالمونه او افسانې هر څۀ ليکي. هغه اکثر دغه ټولو ځيزونو سره انصاف کوي خو تر کومې چې زما تعلق دے نو زۀ هر کله په شاعرۍ کښې د هغۀ نظم او په نثر کښې ئې افسانې زيات متاثره کړے يم. په شاعرۍ کښې د هغۀ د اسلوب پېژندګلو د هغۀ د موضوعاتو او ژبې وسيع المشربي ده چې ځنې وخت پرې د چا يا د چا د تقليد ګمان هم پېدا کيدے شي خو په نثر کښې خصوصاً په افسانه کښې هغۀ همېشه نوے نوے اجتهاد کړے دے. د ژبې او بيان سادګي، بې ساختګي او تکنيکي





تنوع تقريباً د هغۀ په هره افسانه کښې لوستونکے د خوند او تاثير يو نوي جهان ته بيايي.

لاندې کرښو کښې زۀ د ښاغلي حسرت د يوې افسانې د تجزيې کوشش کوم خو يو وضاحت اول کوم چې د تجزيې د پاره ما د هغۀ په ګڼو افسانو کښې د يوې انتخاب نۀ دے کړے، بس خو د هغۀ يوه افسانه مې راخستې ده خو لکه څنګه چې ما پور ته غرض کړے دے، د هغۀ هره افسانه به څۀ نه څۀ موضوعاتي او تکنيکي نوے والے لري نو دا افسانه هم دغسې ده.

دا افسانه چې نوم ئې الودګي دے يوه علامتي افسانه ده. د افسانې پلاټ په يو غټ علامت "ځنګل" او نورو وړو وړو علامتونو او استعارو (لکه ځناور، مشر زمرے، پيشوپړانګ، هوسۍ، سويه، هاتي، لومبړه، مېلوګان او سپين مېلوګان) ښولے شوے دے. او په يو خاص ماحول کښې د دغه علامتي کردارونو په مرسته د افسانې رغونه په وجود کښې راغلې ده.

د هر تخليق د پاره خالق د چرته نه الهام ضرور اخلي. په دې افسانه کښې هم ښاغلي افسانه نګار الهام لکه چې د افغانستان له شخړې اخستے وي خو هر کله چې د دې افسانې انداز علامتي دے ځکه په دې افسانه د يو خاص مقام او ماحول چاپ نۀ شي لګېدے بلکې دا په هر

هاغه مقام او ماحول محيط کېدے شي چرته چې څوك د چا په کورنو چارو کښې مداخلت کوي ، حقوق ئې غصب کوي او امن او سکون ئې بربادوي او د خپلو غرضونو ، حرصونو ، هوسونو او توسيع پسندۍ د عزائمو له امله د نړۍ نه ځنګل جوړوي. هر قانون ، اصول او ضابطهٔ اخلاق د پښو لاندې کوي . نن د نړۍ کوم ګوټ دے چې د ښاغلي حسرت د دې افسانې په چوکاټ کښې فټ شوې ائينه د هغې دغه بدرنګ اړخ مونږ ته نهٔ ښايي.

په وړومبي نظر د لوستونکي په ذهن کښې دا خيال راپورته کېږي چې د دې افسانې نوم د "الودګۍ" په ځاے ځنګل ولې نهٔ دے اېښودے شوے خو زما په خيال د افسانې دغه نوم د دې معنويت دوآتشه کړے دے . ټوله نړۍ چې ښاغلي افسانه نګار د ځنګل په علامت کښې رانغښتې ده. د الودګۍ د مسئلې سره مخ ده. چغې سورې دي ، د الودګۍ د خاتمې د پاره ادارې جوړولے شي، کانفرنسونه کېږي او دولتونه خرچ کولے شي خو بيا هم څهٔ کاميابي نه حاصلېږي . په داسې وخت کښې ښاغلي افسانه نګار دغه مسئلې له يو ډېر ښهٔ ټچ ورکړے دے چې اصل الودګي دغه نهٔ ده ، د کومې د خاتمې د پاره چې انسان زور لګولے دے او واوېلا ئې جوړه کړې ده بلکې اصل الودګي د انسان دننه پېدا شوې ده او مسئله





د هغې د خاتمې ده . په فضا کښې د تېلو او ګېس نه د خورو شوو لوګيو او په زمکه د خورې ګندګۍ او غلاظت نه زيات خطرناك په فضا کښې خور د وينې او غوښې وږم دے چې خاتمه ئې د هر انسان انساني فرض جوړېږي .

دغه شان د افسانې نوم او په افسانه کښې ساز شوے ماحول يو بل ته داسې ور تر غاړه وځي چې کهٔ هر څو نړۍ د يو ځنګل شکل اختيار کړے دے خو افسانه نګار په دې امېد او يقين افسانه انجام ته رسولې ده چې ځنګل د زمرو نه نهٔ خالي کېږي او مونږ له باور راکوي چې هغه ورځ لرې نهٔ ده چې نړۍ د دغه اصل الودګۍ نه پاکه شي. د دې د پاره د "سپينو مېلوګانو" په ملك کښې جوړه د امن اداره موثره نهٔ ده ځکه چې دغه اداره په هر حال کښې د "سپينو مېلوګانو" په واك کښې ده او مېلو کهٔ دېر هم سپين شي خو د امن علامت نهٔ شي کېدے.

دا افسانه په پښتو کښې په هغه څو ښو افسانو کښې د شمېر جوګه ده چې افاقي موضوع لري. په فني لحاظ دا يوه ماحولي افسانه ده چې کردارونه پکښې په علامتي رنګ کښې په خپل خپل عمل کښې بوخت ښودلي شوي دي. د افسانې انجام په يو داسې مقام ښودلے شوے دے چرته نه چې د شك او يقين ، نفي ا و اثباب او امکاناتو

یوه لا متناهي سلسله شروع کېږي او د یوې افسانې بنهٔ انجام هم هغه ګڼلے شي د کوم نه پس چې د نوې بلې یا نورو افسانو اغاز امکان لري او دغه شان د ژند په تسلسل د یقین اثبات کوي.

3م نومبر 1995ء

***





# د یو شعر تجزیه

دا ځلې دا نیم سرے، رحمانه مرګ ته مهٔ پرېږده
دا ځـلې دې نـیم سـري په تا ایمان راوړے دے
(رحمان بونېرے)

دا یو داسې شعر دے چې په سر سري اورېدو یا لوستو ترې هېڅ معنیٰ نهٔ راوځي او داسې شعر د ابهام په دائره کښې داخل وي. مبهم شعر یو داسې شعر وي چې مختلف ذهنونه ترې یوه معنیٰ نهٔ شي راوېستے. د ابهام پېدا کېدو ډېرې وجې کېدے شي ، لکه د تجزیې ندرت،یوه لویه تجربه هم په یو شعر کښې راګېرول ، نا اشنا علامتي او استعاراتي انداز او معنیٰ افریني، د ګرانو لفظونو استعمال او د لفظونو بې ترتیبي او خامي هم ابهام پېدا کوي. ابهام صفت هم کېدے شي او عېب هم.

زهٔ نهٔ یم خبر چې پخپله شاعر د دې شعر نه څهٔ مطلب اخلي خو د روان او چست بحر سره سره ، د لفظونو تکراري استعمال ، د دواړو مصرعو د یو شان لفظونو نه شروع کېدل د قافیې او ردیف سحر انګېزه تړون او د ردیف فعلیاتي حرکت داسې توکي دي چې د دغه شعر

سماعي اړخ ئې جميل کړے دے او معنې ته د کوزېدو نه بغېر هم سرے په سر غونډه کي مجبوروي.

په دې شعر کښې رحمان ما ته ذومعني ښکاري لکه چې د ډېرو جديدو شاعرانو روش دے چې خپل تخلص ذومعني استعمالوي. د تخلص يا بل لفظ د ذومعنويت سره د معنې ائتلافي اړخ وسيع کېږي او ځنې وخت د مشکل پسندۍ د رجحان غمازي هم کوي. کم از کم دا شعر خو د مشکل پسندۍ ښۀ مثال دے.

نيم سرے ، رحمان ، مرگ ، او ايمان د شعر اساسي لفظونه دي چې د ترتيب ، تعلق، تقابل او تناظر نه به ئې معنیٰ راوېستل غواړي. د نيم سړي اصطلاح زما په خيال ګڼ معنوي اړخونه لري. د سړي د نيمګړتيا ډېر اسباب وي ، انسان په مختلفو جنسي، جسماني، ذاتي، نسلي، تهذيبي، نظرياتي، معاشي، روحاني او مادي دائرو کښې تقسيم دے او دغه تقسيم د دۀ د نيمګړتيا مظهر دے. مرگ فنا ده او فنا د انسان د روحاني او مادي بربادۍ نتيجه ده. انسان په جنسي لحاظ د مخالف جنس سره د اتصال نه پس تکميل او بقا مومي. په جسماني لحاظ هم د نورو انسانانو لاس امداد او د عمل اشتراك ته مختاجه دے. د خپلو انفرادي خصوصياتو او صلاحيتونو باوجود د اجتماعيت نه بغېر ژوندے نۀ شي





پاتې کېدے. په نسلي لحاظ هم تسلسل غواړي او دې ته هېڅ کله هم نۀ تيارېږي چې دغه تسلسل دې اودرېږي. دغه شان په تهذيبي ، نظرياتي ، معاشي ، روحاني او مادي هر لحاظ يو فرد د بل فرد د تعلق ، اشتراك او کومك نه بغېر ژوندے نۀ شي پاتې کېدے او چرته هم چې ځۀ تضاد يا تصادم پېدا کېږي هلته ژوند ته خطره پېښېږي.

انسان که ځۀ هم د فطرت نه زياته په فوق الفطرت عقيده لري خو حقيقت دا دے چې د انسان د ارتقا تاريخ او د بقا انحصار په فطري اصولو مبني دے. انسان سره د دې چې د ايمان د پاره فوق الفطرت لازمي ګڼي خو بيا هم د فطرت د کششِ ثقل نه وتے نۀ شي او کومو انسانانو چې د ژوند نيلي ته د فطري اصولو مطابق پونده ورکړې ده نو کهکشانونه ئې د پښتو لاندې کړي دي.

په دغه شعر کښې شاعر زما په خيال هم دا نکته واضحه کړې ده چې نيم سړے خپل مقابل نيم سړي ته تسليم شوے دے ، شاعر وايي چې دغه تسليم او رضا او اتصال ته دوام ورکول پکاردي. د نيم سړي په مقابل کښې رحمان هم په يو لحاظ نيم سړے دے خو دا شعور او احساس ورته شوے دے چې دغه کوم سړي پرې ايمان راوړے دے او د انسانيت د تکميل کوم عمل شروع

شوے دے ، دا واقعه او دا موقعه قدرول پکار دي او دوام ورکول پکار دي۔

دا شعر کۀ مونږ خپلو مخصوصو زمکني حقیقتونو ته ورکوز کړو نو د نیم سړي تصور د پښتون قام انتظامي، سیاسي او جغرافیایي تقسیم ته هم بوتلې شو ، کۀ څۀ هم د پښتون په دواړو نیمو حصو کښې د کشش او اتصال خواهش عام نۀ دے خو بیا هم په یوه لویه پیمانه دغه خواهش ضرور شته۔

***